# د چونګښو آچار

## (د طنزونو مجموعه)

ليکوال: عبدالنافع همت

کال: ۱۳۹۸ هـ ش

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پېژندنه:

-----------


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د چونګښو آچار |
| لیکوال: | عبدالنافع همت |
| د چاپ کال: | ۱۳۹۸هـ ش |
| تصحیح: | خلیل احمد څارن |
| د پښتی ډیزاین: | |
| خپروندویه ټولنه: | صداقت خپرندویه ټولنه – کندهار |
| موبایل شمېره: | ؟؟؟ |
| برېښنالیک: | ؟؟؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهداء:

**هغو انسانانو ته چې د نورو د خوښیو لپاره خپل غمونه په خندا پټوي.**

عبدالنافع همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهــرســت


| سرلیک | مخ |
|---|---|
| ۱- د نصــرو لــالا واده | ۱ |
| ۲- مړی د کــار پــه لټه کې | ۴ |
| ۳- مــدني فعــالیــت او که معدني فعالیت | ۱۰ |
| ۴- انســانــان څنګه موږکان شــول ؟ | ۱۶ |
| ۵- مــوږک چوک | ۲۶ |
| ۶- د ســـرو او شـــنو غویو جګړه | ۳۱ |
| ۷- بــارانونــه او ســـینګارونه | ۴۰ |
| ۸- ناسُــنته وزیر | ۴۵ |
| ۹- د غلو مشـــر ولي حج تــه تللی دی؟ | ۵۷ |
| ۱۰- غیرت څنګــه د جراحي عملیاتو په وســیله ایســـتل کیږي؟ | ۶۲ |
| ۱۱- ناوې څنګه لېونۍ شـــوه ؟ | ۶۶ |
| ۱۲- الــوتــونکی اوښ | ۷۳ |
| ۱۳- ږیروري او برېتوري مجســـمې | ۷۸ |
| ۱۴- ســیاســي روغتون | ۸۲ |
| ۱۵- د ولســـمشـــر مډال که د آله دین څراغ ؟ | ۸۸ |
| ۱۶- تر دې وروســـته پر عورت هم مســـح کیږي | ۹۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷- دجال د افغانستـــان ولســمشــرۍ ته ځان کاندیدوي ----------- ۱۰۲
۱۸- د لوی لـالـا خر څنگه ورک شــو؟ --------------------------- ۱۰۷
۱۹- ســیاســي اولیاء ------------------------------------ ۱۱۳
۲۰- کـلیوال بوډا او ژبپوه خبریـال --------------------------- ۱۱۶
۲۱- د چونگښــو **آ**چار ------------------------------------ ۱۲۴
۲۲- د تخرگ وربښــتان څنگه په تاریخي اثارو کي شــامل شــول؟ ---- ۱۳۵
۲۳- حــاجــي غــټ مـامـا ---------------------------------- ۱۴۰
۲۴- ډیـموکراټ خر ------------------------------------- ۱۴۵
۲۵- تیـاره خوبونــه او رانېــه تعبیرونه --------------------------- ۱۵۲
۲۶- ولســمشــر خپلې مېرمنې ته څه وویل؟ ------------------------۱۵۷
۲۷- چوپ شــه بې ادبــه مړی خبرې نه کوي -------------------- ۱۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نصرو لالا واده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصرو لالا چې به پر لاره روان و، نو لکه کباړ بايسکل ټولو پرزو يې کړپې او غړنجې کاوه. د زنګنو تکليف يې هم درلود، لکه غورازه موټر بې له ټېله کولو نه چالانېده. عمر يې تر اويا کالو اوښتی و، خو دا چې د ترياکو په پيسو مست و، نو په ودونو نه مړېده او دا يې څلورم واده و. که څه هم درې نورې ښځې يې ژوندۍ او په صورت جوړې وې، خو نصرو لالا لکه پوډري په ډېرو ودونو معتاد شوی و.

کله چې د آئينه مصحف وخت راغی، نو ښځو نارې کړې چې هلک راولئ. نصرو لالا لکه کورکمن له شرمه تک ژېړ واوښت، پر يوه او بل انډې شو، لکه موټر چې ګېر ته نه لوېږي، خر خر او غور غور يې پورته شو، خو بيا هم نه شوای ولاړېدای.

په دې وخت کې يې ځوان زوی راغی او په غېږ کې يې د ناوې خونې ته بوت. په لاره کې يې پښې لکه د الوتکې ټايرونه چې نه ايله کېږي هماغسې ټولې پاته وې.

نصرو لالا د شپاړس کلنې ناوې څنګ ته پر تخت ناست و. پر ژېړبخونه ږيره يې شنه نسوار داسې ځلېدل لکه د رسامۍ چټل نويسه کتابچه. نصرو لالا لکه د پرتوګاښ لرګی داسې ډنګر و، د اس غوندې اوږد اوربوز يې د ناوې خوا ته ورکوږ کړی و. اوږده غوږونه يې داسې ښکارېدل لکه د رکشې دوې دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خلاصي پاته وي. د ناوي څنګ ته داسې ایسېده لکه توره پیشي چې په سپینه نیکلي پیاله کې شیدې څټي.

نصرو لالا د چرسو سګرېټې هم واهه، کله چې به یې خبرې کولې، نو د مستریانو خبره رینګ یې اواز کاوه او سرو یې هم ښه په درز کې شپیلۍ وهله. آئینه مصحف لا نه و پیل شوی چې زوم ټوخي شین کړ او ټوخی یې وار په وار پسې ډېرېده.

له ټوخي سره به یې سر، اوږې او زنګنونه داسې په منظم ډول ښورېدل لکه ټرکټر چې چالان پاته وي او میټکاټونه، ګېرونه او سټرینګ یې ښوري. د آئینه مصحف نندارچیانو، په تېره بیا خسرګنۍ ته دا اندېښنه ورولوېده چې داسې نه وي خدای مه کړه زوم له ټوخي سره یو ځای له بلې خوا هم وټوخي او پزه مو راپرې کړي.

سهار ملا اذان مهال د نصرو لالا مشرې مړور د ناوي د خونې ور وټکاوه. د خونې له دننه څخه یوازې د نصرو لالا غړومبی اورېدل کېده. د خونې ور له ټکېدو سره سم خلاص شو.

د ناوي تر خوله د ځګونو نرۍ برېښنده لیکه د زرین بالښت خوا ته تللې او په ګرېوان کې یې په نسوارو لړلو پلاسټیکي غاښونو یوه زامه نښتې وه.

نصرو لالا لکه مست اوښ تر خوله ځګونه بادول، په دې ځګونو کې یو و نیم زرین خالونه هم برېښېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصرو لالا تور او پنډه شونډان وښورول او د مړکانو ضد دوا تشې قطۍ ته يې اشاره وکړه: دا دی ورته وګوره! بدمرغې ځان په خپله وواژه، خپل شل منه تارياک مې ارمان دي چې په ولور کې مې ورکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړی د کار په لټه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کور کې ناست وم او د راډیو له لارې مې یوه سندره اورېده، سندره په نیمایي کې بنده شوه او د راډیو ویاند وویل:
((اوس ستاسې پام یوه تازه خبر ته رااړوو. د غور ولایت د پوهنې په ریاست کې د یوې بمي چاودنې له امله د پوهنې رئیس ووژل شو. د پېښې په اړه د وسله والو مخالفینو ویاند وویل چې دغه چاودنه دوی کړې ده. دغه ډول د پوهنې وزارت ویاند هم پېښه ومنله او دا کار یې یو ناځوانمردانه عمل وباله)).
که رښتیا ووایم، نو له ډاره مې د وجود وېښتان جګ جګ ودرېدل، ما ویل عجیبه ده زه په جګ سر ژوندی یم، خو رسنۍ مې مړ بولي. په رېږدېدلو لاسو مې د نوموړي راډیو خبریال ته زنګ وواهه: اې وروره! درواغ هم یو حد لري، زه په جګ سر ژوندی یم او تاسې مې مړ بولئ؟
- په دې کې زما څه ګناه ده؟ ما له چاودنې سره سم تاسې ته زنګ وواهه، خو ستاسې ټیلیفون بند و، ما داسې فکر وکړ چې تاسې وژل شوي یاست.
- څه شی! چاودنه؟ چاودنه چېرې وه؟
- نیم ساعت مخکې ستاسې په دفتر کې چاودنه وشوه؟
- زه خو دا څو ورځې کېږي چې رخصت یم، دفتر ته ګرسره تللی نه یم.
خبریال لږ خړ شو او په ارامه یې راغبرګه کړه: ډېره بخښنه غواړم، زه نه وم خبر چې تاسې په کور کې یاست، ما چې د چاودنې اواز واورېد، سمدلاسه مې د وسله والو مخالفینو ویاند ته زنګ وواهه، هغه راته وویل چې هو دا کار موږ کړی دی. ته خو په ژورنالیزم نه پوهېږې، په ژورنالیزم کې د خبر سرعت یو مهم اصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، نو د دې لپاره چې بل خبري اژانس دغه خبر خپور نه کړي ما وار د مخه کړ او خپلې راډيو ته مې خبر ورکړ.

تر دې وروسته مې نوموړي راډيو ته زنګ وواهه چې د خدای پر پار زه ژوندی يم. د راډيو ايډيټر راته وويل چې موږ دا خبر له ټولو ژورناليستيکو اصولو سره سم خپور کړی دی، د دولت مخالفينو هم ويلي چې دا چاودنه دوی کړې ده، د پوهنې وزارت هم د خپل رئيس وژنه منلې ده.

کله چې ما پر خپله خبره ټينګار وکړ چې زه ژوندی يم، نو هغه راته وويل: موږ هيڅ وخت غلط خبر نه دی خپور کړی، يوازې موږ نه يو، ټولې رسنۍ وايي چې رئيس وژل شوی دی. ايا تا په دې دېرشو کالو کې اورېدلي چې د مرګ خبر دي دروغ شوی وي؟

له مجبوريه مي زموږ د وزارت وياند ته زنګ وواهه چې وا وروره زه ژوندی يم، هغه هم نه راسره منله، ويل ته څوک يې چې زما څخه دا پوښتنه کوې؟ زه د پوهنې وزارت د وياند په توګه وايم چې زموږ رئيس مړ دی، مړ دی، مړ دی.

ما ورته وويل چې زه خپله د پوهنې رئيس يم، وياند زما خبره سمه وا نه ورېده او داسې فکر يې وکړ چې ګواکي زه د وزير د دفتر رئيس يم، په وارخطايي او ګنګوړه ژبه يې وويل: متاسفانه چې دا خبر رښتيا دی، ځکه چې وسله والو مخالفينو ما ته تيليفوني پيغام راواستاوه او ليکلي يې وه چې ستاسې رئيس مو وواژه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې راډیوګانو هم پرله پسې زنګونه راته وهل چې تاسې په دې اړه څه وایاست؟ وزیر صاحب له بهرنیو مېلمنو سره ناست و، ما ته یې هدایت وکړ چې زه وخت نه لرم، ته اوس رسنیو ته یو څه ووایه بیا به یې وروسته ګورو. هغه و چې ما هم د رئیس صاحب وژنه تائید کړه او په دې اړه مې اعلامیه خپره کړه. تر دې وروسته مې د وسله والو مخالفینو ویاند ته زنګ وواهه چې اې وروره زه ژوندی یم. هغه په درد جوابراکړ: موږ هیڅکله درواغ نه وایو، که زموږ خبره نه منې، نو د خپل وزارت خبره خو به منې؟ بله خبره دا ده چې ته خو هسې هم زموږ له خوا په مرګ محکوم شوی یې، که نن وي که سبا اخیر دي وژنو.

تر دې وروسته له لیرې لیرې ځایونو څخه د خپلوانو او انډیوالانو ټیلیفونونه راغلل او د دې خبر په اړه یې پوښتنه کوله. که څه هم ډېرو خلکو د سر په سترګو ولیدم او ډېرو خلکو مې ټیلیفوني خبرې واورېدې، خو دا چې رسنیو مړ بللی وم، نو راته ګرانه وه چې ځان ژوندی ثابت کړم.

یوه اوونۍ وروسته خپل دفتر ته ولاړم، مخکې تر دې چې خپلې شعبې ته ننوزم په لاره کې مې اشپز ولید چې په دېګ کې یې غوښه اخیستې او د پخلنځي خوا ته روان و. ما ویل کاکا ولې غوښه په بخاردېګ کې نه پخوې؟ اشپز په خندا راته وویل چې ولې ته لکه چې نه یې خبر، بخاردېګ خو یوه هفته مخکې وچاودېد. د دې خبرې په اورېدو مې په زړه کې تراه را ولوېده، ما ویل بس ټوله خبره له همدې بخار دېګ څخه را پیدا شوې ده. بخاردېګ چاودلی او د دولت وسله

(c) ketabton.com: The Digital Library



والو مخالفینو ادعا کړې چې موږ د پوهنې په ریاست کې چاودنه وکړه او د پوهنې رئیس مو وواژه.

تر دې وروسته خپلې شعبې ته ننوتم، ګورم چې زما پر چوکۍ یو نا اشنا سړی ناست دی، سړي په ځیر ځیر را ته وکتل، ویل بخښنه غواړم تاسې کوم کار درلود؟

- نه صاحب کار مې نه درلود، تاسې زما پر چوکۍ ناست یاست؟

- څه شی چوکۍ؟ دا خو زما چوکۍ ده، تاسې څوک یاست؟

- زه د دې دفتر رئیس یم

- څه شی رئیس؟ د دې دفتر پخوانی رئیس خو شهید شو او نوی رئیس یې زه یم

- صاحب هغه خبره درواغ وه، دا دی ته مې وینې چې زه ژوندی یم

- ستا اعصاب خراب شوي دي؟ موږ یې په وزارت کې فاتحه هم واخیسته او ته وایې چې پخوانی رئیس ژوندی دی؟

ما په خندا ورغبرګه کړه: رئیس زه یم او رسنیو زما په اړه غلط خبر خپور کړی دی، خو نوي رئیس سترګې راباندې را غټې کړې، د دفتر د امنیتي کسانو په لاس یې په کشولو کشوله له دفتره وایستلم.

اوس نو بله داسې سرچینه نه ده راپاته چې دا دي تائید کړي چې زه ژوندی یم. په اصطلاح له مرګه مې درې میاشتې تېرې شوې دي، د کار لپاره چې هرې دولتي ادارې ته خپل اسناد وروړم، نو هغوی راته وایي چې دا د مړه شخص اسناد دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس حیران یم چې زه په جګ سر ژوندی یم، خو د مړه په شان چلند راسره کېږي.

له هغې ورځې راهیسې بیا تر اوسه پورې هره ورځ رسنیو ته زنګ وهم چې د خدای پر پار زه ژوندی یم، خو هغوی یې نه مني. تر اوسه مې داسې انګېرل چې یوازې حکومت، بهرني ځواکونه او وسله وال مخالفین خلک وژني، خو اوس پوه شوم چې رسنۍ هم خلک وژلای شي.

اوس مې دا خبره ښه زړه ته ولېده چې رښتیا هم رسنۍ په یوه هېواد کې څلورمه قوه ده، بس توپیر یې یوازې دا دی چې نورې قواوې په رښتیا سړی وژني، خو رسنۍ بیا سړی داسې وژني چې په جګ سر به ژوندی یې، خو په مړو کې به ګڼل شوی یې.

ډېر مې زړه غواړي چې بیرته ژوندی شم، خو یو څوک چې دولت، د دولت وسله والو مخالفینو او خپلواکو رسنیو وژلی وي، هغه به څنګه بیرته راژوندی شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدني فعاليت كه معدني فعاليت؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل په هوايي ډګر کې له څو فرهنګيانو او محقق خېلو سره مخ شوم، موږ ټولو د الوتکې پرواز ته انتظار کاوه او کندهار ته تلو. دوی ويل په کندهار کې يو علمي سيمينار لرو. په دوی کې يو سرمحقق هم و، ويل د يوه شاعر د زېږېدنې سلمه کليزه ده.

- استاده دا شاعر څوک دی؟ ما خو يې تر اوسه پورې نوم نه دی اورېدلی

- په يوه تذکره کې يې يو بيت راغلی دی، خو لا چاپ شوی نه دی

- نو ولې يې په کابل کې سيمينار نه جوړوئ چې لس نفره کندهار ته پسې روان ياست؟

- ځکه چې دا شاعر د کندهار د سيمې دی، بايد چې په کندهار کې ولمانځل شي

- نو تاسې خو په کابل کې يوه مياشت مخکې هم د دې شاعر په اړه سيمينار جوړ کړی و، کندهار ته څه ضرورت دی؟

- خير هغه خو د کابل کار دی، خو بايد په کندهار کې هم ولمانځل شي

- ايا تاسې لس نفره ټول مقالې لولئ؟

-نه يو يې هم مقالې نه لولو

-نو بيا د څه لپاره ځئ؟

- زه د ولسمشر پيغام لولم، دا بل د اطلاعاتو او فرهنګ د وزير پيغام لولي، دا بل د کابل پوهنتون پيغام لولي او هغه بل ځوانکی بيا د علومو اکاډمۍ پيغام لولي.

ما ويل ښه دا نور ملګري مو څه کوي؟ سرمحقق لکه د اوښو ګودر پر خپل پلن سنت لاس تېر کړ او بيا يې په خندا راته وويل: ورورکيه زه به تا ته يوه کيسه وکړم، ما ويل ښه مهرباني وکړئ! وايي چې يو سړی له کوره ډېر ليري په سفر روان شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې له کور څخه روانېده، نو یو زوی یې درلود، خو کله چې لس کاله وروسته بیرته کور ته راغی، نو ګوري چې د کور پر غولي سر او نیم سر څو ماشومان ګرځي، په کور کې ښادي ده او ښځې دایرې وایي او نڅاوي کوي، کله چې یې پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟ نو مېرمنې یې ورته وویل چې مبارک دې شه زوی دې پیدا شوی دی.

سړي ته درد ورغی، ویل زه خو لس کاله کېږي چې په کور کې نه وم، دا دومره ډېر ماشومان له کومه شول؟ ښځې ویل راشه چې حساب سره وکړو: یو زوی خو دې مخکې درلود، بل زوی مې ستا د تلو پر وخت په ګېډه کې و، دا بل مې داسې پیدا کړ چې ته مې په خوب کې ولیدې او هغه بل چې په خاورو کې لوبې کوي یو عجیبه کیسه لري. یوه ورځ مې ته ډېر ویادېدلې، ستا د لاس هیڅ نښه مې پیدا نه کړه، بیا مې ستا یو مردار پرتوګ پیدا کړ، هغه مې واغوست بس خدای دغه زوی راکړ.

سړي ویل ښه هغه بل کوچنی چې مستې او ډوډۍ خوري هغه څنګه پیدا شو؟ مېرمنې یې په خندا ورغبرګه کړه: وا سړیه هغه هسې یو ډوډۍ خوره دی، ولاکه زما او ستا په جنګ او جنجال ارزي، لس کاله وروسته کور ته راغلی یې، بې خوندي مه جوړوه او ښادي مو په غم مه راړه.

نو اوس هم درته و مې ویل چې موږ د بېلابېلو ادارو پیغامونه لولو، دا نور هسې راسره ملګري شوي دي، دوی ولاکه زما او ستا په حساب او جنجالي بحث ارزي. خو زه سرمحقق ته ټینګ شوم، ما ویل خیر دی د ډوډۍ خوره حساب زه هم نه درسره کوم، خو د خوب او مردار پرتاګه حساب به خامخا راکوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمحقق ویل ښه سمه ده، پوره حساب درکوم، بیا یې څو گامه ها خوا ته یوه پنډه سړي ته اشاره وکړه، ویل دی په جرمني کې اوسېږي او د کندهاریانو زوم دی، مېرمنې یې ورته ویلي دي چې کندهاری سپېده ډېره مشهوره ده بل ځای نه پیدا کېږي، ما ته به یې خامخا راوړې، دی نه په پښتو پوهېږي او نه لاره ورمعلومه ده، ما ویل راځه زه به دې د لیکوال په نوم سیمینار ته بوزم، ته به خپله سپېده رانیسې او موږ به خپل پیغامونه ولولو، متل دی وایي ((زه به صابون خرڅ کړم او خر به مې کونړ ووینې)).
بیا یې یوه بل سړي ته اشاره وکړه چې په خپل موبایل کې یې د چینجي گېم کاوه، ویل دا سړی وینې، څو کاله کېږي چې راته وایي د کندهار انار به کله خورو؟ خو ما داسې موقع نه وه پیدا کړې چې دی کندهار ته بوزم. څو میاشتې مخکې مې خپل کتاب کوت چې ناڅاپه مې د دې بختور شاعر بیت ته پام شو او هغه هم ښه مناسبت، هغه دا چې نن د دې شاعر د زېږېدو سلمه کلیزه ده. ما هم انډیوال د لیکوالو په لست کې شامل کړ، نو اصلي خبره دا ده چې دی د انارو د مېلې لپاره کندهار ته ځي.
هغه بل یو تاجیک، هغه بل هزاره او بل یې ازبک دی، دوی زما ډېر پخواني انډیوالان او ډېر ښه خلک دي، دوی مې د دې لپاره راسره ملگري کړي دي چې په دې تاریخي سیمینار کې نور قومونه هم ونډه ولري او ملي وحدت ټینگ شي.
ما ویل هغه نجلۍ څوک ده چې برگر خوري؟ سرمحقق ویل بس دی ناځوانه ته خو دومره ډېرې پوښتنې کوې لکه مستنطق یا څارنوال چې یې، هغه هسې یوه برگرخوره نجلۍ ده، نور مه پسې گرځه، ولاکه زما او ستا په جنجال ارزي، که باسواده او لیکواله نه ده، نو ښکلې خو ده، دا یو هنري سیمینار دی، له هنره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښایست لیري کړې هیڅ هم نه پکې پاته کیږي، که نور هیڅ نه وي د جنډر بیلانس خو مې وربانډې برابر کړی دی، نن خو د جنډر بیلانس هم یو مدني ارزښت دی، په یوه علمي سیمینار کې چې ښځینه نه وي دا خو سیمینار نه شو، بس زما دا انتخاب هم یو مدني فعالیت وګڼه!

نجلۍ لنډ کمیس او تنګ پتلون اغوستی و، ټوله شتمني یې له ورایه ښکارېده، زه پوه شوم چې سرمحقق صاحب مدني فعالیت نه، بلکې معدني فعالیت شروع کړی دی، که سپینه خبره وکړم، نو اصلاً یې معدن ته نغم (تونل) کیندلی و.

د الوتکي پرواز څو ساعته وځنډېد، وخت نه تېرېده، سرمقق وویل چې راشئ تمرین وکړو، دریو نورو ملګرو یې هم له بکسونو څخه لیکلي پیغامونه را وایستل، سرمقق ورته وویل: زه به یو پیغام لولم تاسې ټول خپلو پیغامونو ته ګورئ، اندېښنه مه کوئ پیغامونه ټول یو ډول دي، ځکه چې ټول ما لیکلي دي.

په دې وخت کې د هوایي شرکت مامور غږ کړ، ویل د کندهار الوتکه پرواز ته چمتو ده، راځئ له خیره! مسافر په منډه الوتکې ته وختل او الوتکه والوته.

په سبا سیمینار جوړ شو، پیغامونه ولوستل شول، ښه تودې چکچکې ورته وشوې، خولې ویړې او کولمې غوړې شوې، علامه ګانو په کندهار کې یوه اوونۍ چکر وواهه، خو چا هیڅ هم زده نه کړل.

یوه اوونۍ وروسته رسنیو د ملي اردو د یوه عسکر د ځوانې کونډې په اړه راپور خپور کړ، کونډه د سړک پر غاړه ناسته او په ژړا خیرات ټولوي، وایي مسلمانانو ورونو یوازې وچه ډوډۍ راکړئ، که ډوډۍ را نه کړئ، نو ماشومان مې شامه او وږي پاته کیږي. کونډې ته چا خیرات نه ورکاوه، لکه ړانده او کاڼه چې وی، یو یو کونډې ته په خوند خوند وګوري او بیا ځنې تېر شي، یوازې دوه ځوانان ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېدل، پر شونډو يې په خوند ژبه تېره کړه، خو د کونډې سترګې له اوښکو ډکې شوې او کښته يې وکتل. کونډې ته چا خيرات ور نه کړ او دولت هم وس نه درلود چې مرسته ورسره وکړي، ځکه چې ټولې پيسې په علمي سيمينارونو باندې لګېدلي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسانان څنګه موږکان شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس طاوس خان نن د غونډې تالار ته لږ ناوخته راغی. کله چې پر چوکۍ کښېناست، نو خورا خوشاله ښکارېده، پر غوږو شونډو یې ژر ژر ژبه تېروله، لکه پیشي چې تازه موږک خوړلی وي، ویل وبښئ نن راباندې ناوخته شو، ډېر په منډه راغلم.

مژګان زموږ یوه ټوکي همکاره وه، د امریکا د بهرنیو چارو پخوانی وزیر (جان کېري) به یې(جان بې ادبي معاف) باله. په دې وخت کې یې زموږ یوې بلې ښځینه همکارې ته په مانادار ډول وکتل او کرار یې ورته وویل: ((پایین ره سی کو)).

زه هم خنګ ته ناست یوه همکار په خنګل ووهلم، ویل لاندې وګوره! ګورم چې وار په وار همکاران په یوه او بله پلمه تر مېز لاندې سر کښته کوي او د طاوس خان خوا ته ګوري. ما هم قصداً قلم تر مېز لاندې واچاوه او بیا مې لاندې وکتل، ګورم چې د طاوس خان د پتلانه ځنځیر خلاص پاته دی او نېکر یې هم نه دی اغوستی، د پتلون پایڅې یې هم راپورته کړي او په لنډو سپینو جرابو کې داسې ښکاري لکه خر چې په چونه کې ختلی وي.

طاوس خان ډېر چالباز سړی و، په همدې چالبازۍ له عادي ماموریت څخه ریاست ته رسېدلی و، ډېر درواغ یې هم ویل، داسې فکر یې کاوه چې څوک نه راپوهېږي، خو ټول همکارانورباندې پوهېدل، ځکه ده به معمولا درواغ په دې کلماتو شروع کول: ما تل رشتیا ویلي دي، زه رشتیا وایم، باور وکړئ چې کېسه دغسې ده، واقعا دغسې خبره ده.

نن یې هم لکه توتي همدا کلمات ګردان کړل او بیا یې د مصنوعي موسکا په ډول خوله ویره کړه او د غونډې برخه وال یې مخاطب کړل: وبښئ چې نن یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بد خبر لرو. تاسي به خبر یاست چې زموږ ټولې مرستندویه اداري بهرنيان دي او هغوی په دې وروستیو کې خپلې مرستې کمې کړي دي، نو په دې اساس زموږ بودیجه هم لږ شوې ده، موږ مجبور یو چې خپل لګښتونه هم راکم کړو. زه د اداري او مالي مسئول سره په ګډه یو پلان جوړوم او بیا یې مشورتي بورډ ته وړاندې کوم، کله چې هغوی منظور کړ بیا یې عملي کوو، خو دا به د کاغذ پر مخ تش پلان نه وي، بلکې یوه داسې طرحه به وي چې تاسې به یې هره ورځ په خپل کار کې عملاً اغېز ووینئ.

موږ ډېر لوی دفتر درلود، یوه لویه زېرخانه یا تاکاوي یې هم درلوده چې تل به قلف وه. دا چې کیلي یې یوازې د دفتر له اداري مسئول سورګل سره وه، نو تر پایه له ده پرته دې زېرخانې ته څوک نه شو ورکښته او لکه د (برمودا مثلث) غوندې یوه معما پاته شوه، هیڅوک نه پوهېدل چې په دې زېرخانه کې څه شی دي؟ همکارانو به ویل چې ځینې وختونه د زېرخانې له کړکۍ څخه ستمی او خوږ زګېروی اورېدل کېږي. سورګل همکارانو ته په ټینګه اخطار ورکړی و چې دې زېرخانې ته مه ورځئ، ګرسره غوږ هم مه ورته نیسئ، ځکه د دې تعمیر خاوند وایي چې په دې زېرخانه کې پېریان اوسېږي.

په سبا په دفتر کې د طاوس خان د طرحې عملي تاثیرات ولیدل شول. لومړی یې د دفتر له لسو موټرو څخه پنځه موټرونه خرڅ او موټرچلوونکي یې هم له کاره ګوښه کړل. سورګل ماځیګر د رخصتۍ پر مهال خپله لکه کلېنر موټرو ته ولاړ او همکاران یې په موټر کې لکه د پروړو (بوسو) بوجۍ سره اوډل. سره له دې چې نر او ښځې یې یو د بل په غېږو کې سره کښېنول او په زور یې سره تخته کړل، خو بیا هم نیم همکاران په موټرو کې ځای نه شول. سورګل ډېر بې سُره او بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونده اواز درلود، دومره په لوړ اواز یې خندل چې سړي ته به یې د خره هینګاري وریادولې. کله چې موټر حرکت کاوه، نو سورګل د موټر د مخ له سیټ څخه خپل اوږد وربوز را وایست او په قاه قاه یې وخندل: خیر تاسې نن په لاینې موټرو کې کورونو ته ولاړ شئ سبا ته به یوه چاره وکړو.

سبا ماځیګر ګورو چې سورګل موټرو ته جنګلې ورجوړې کړي دي، په دې وخت کې یې لکه څیله مست اوښ یو وار اسمان ته وکتل او بیا یې په فاتحانه انداز وویل: دا دی ستاسې چاره مې وکړه، یو تقسیم اوقات مې جوړ کړ، یو همکار به یوه میاشت په موټر کې دننه او بله میاشت به د موټر په جنګله کې کښېني.

هغه مهال موسم تود و، په موټر کې دننه د ایرکنډېشن د نشتوالي له امله سړي اور اخیست، د موټر جنګله یو څه ښه وه، لږ تر لږه ازاده هوا یې درلوده، همکارانو څه و نه ویل او د سورګل فرمان یې ومانه.

زموږ یو سپین ږیری همکار و چې (اکبرخان) نومېده. داسې ډنګر و لکه د پرتوګاښ لرګی، ډېر ټوکې او خوش طبعه سړی هم و، همکارانو به له نازه مست بوډا باله. یو زه، یو مست بوډا او څو نفره نور همکاران د موټر جنګلې ته وختو او موټر حرکت وکړ، کله چې د کابل باغ بالا ته راورسېدو، نو مست بوډا په لوړ اواز دا سندره شروع کړه:

ښه شوه لیلا، لیلا ناجوړه وه بېګاه

ما ګهیځ ولیده، د ګل په شاني ځلېده.

ده دا سندره ویله او موږ چکچکې ورسره کولې. په همدې ډول به دفتر ته تلو او راتلو. څو میاشتې وروسته هوا سړه شوه، نور نو د موټر په جنګله کې څوک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوای کښېناستلای. تر دې وروسته سورګل د فرمانونو په اسهال اخته شو، داسې ورځ به نه وه چې یو نوی فرمان به یې نه و صادر کړی. دا فرمانونه به تل غرمه مهال صادرېدل.

کله چې به غرمه همکاران د ډوډۍ خوړلو لپاره له خپلو شعبو څخه راووتل، نو یو وار به یې په دالېز کې د یاداښتونو تختې (Notice board) ته کتل، ویل ته ودرېږه چې نن بیا کوم نوی فرمان صادر شوی دی.

یوه ورځ سورګل زموږ پنځه نور همکاران له دې امله له کاره لیري کړل چې چاغ ول، ویل په موټر کې نه ځایېږي، هر یو یې د دوو نفرو ځای نیسي، خو له دې سره بیا هم همکاران په موټرو کې ځای نه شول. تر دې وروسته سورګل امر وکړ چې همکاران دې پنډ کالي نه اغوندي، په تېره بیا بالاپوښ، جاکټ، پوستین او چپنه اغوستل خو بیخي منع دي، ویل په موټر کې ډېر ځای نیسي.

په موږ کې مست بوډا ډېر سړېچن و، د مني په سر کې به یې لا بالاپوښ واغوست، کله چې یې د نوي فرمان له مخې بالاپوښ وکېښ، نو په لومړۍ ورځ سکاروی (سینه و بغل) شو او یوه میاشت په روغتون کې بستري و. ده به ویل زه د (بغل) په ناروغۍ اخته شوی یم، ځکه زه خو نارینه یم سینه نه لرم چې ووایم، سینه وبغل شوی یم.

د سورګل دې نوښت بیا هم د ټرانسپورټ ستونزه حل نه کړه، اخیر یې وویل چې باید هر همکار د ورزش له لارې خپل شل کیلو وزن کم کړي، خو دا امر یې هیچا هم و نه مانه، چا ویل وخت نه لرو او چا به بیا ویل چې د ورزش لپاره ځای نشته، اخیر دفتر پرېکړه وکړه چې باید د غذایي رژیم له لارې د همکارانو وزن کم کړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا گورو چې ډوډۍ د خوراک وړ نه ده. دېګ ته یې دومره مالګه وراچولې چې څکه نه په کېږي. په هغه ورځ هیڅا هم ډوډۍ و نه خوړه. په همدې ډول به هره ورځ ډوډۍ د خوراک وړ نه وه، کله ترخه، کله بلمنګه (بې مالګې) او کله بیا سوځېدلې. اخیر همکاران مجبور شول چې د ځانونو لپاره له کورونو څخه ډوډۍ راوړي او یا یې له بازار څخه راوغواړي.

بله ورځ ګورو چې د دفتر له څلورو تشنابونو څخه دوه یې تړل شوي او همکاران د نوبت لپاره په لیکه کې ولاړ دي.

زموږ دوه همکاران صوفیان بلل کېدل، دوی به اودس په یوه ساعت کې تازه کاوه، خو لمونځونه به یې بیا یوازې په پنځو دقیقو کې کول. د رسمیاتو په دوران کې به یې یوازې د ماپښین لمونځ کاوه، خو تر ماپښین پورې به یې پنځه شپږ واره اودسونه تازه کول، کله چې به تشناب ته ننوتل، هلته به پسې غیب و غړوب شول، تا چې ویل هلته ویده شوي دي، کله چې به پر استنجا کښېناستل، نو دومره وخت به یې تېر کړ تا چې ویل یوه ژوره کنده کیني. په لږ وخت کې د صوفیانو په اړه د همکارانو شکایتونه ډېر شول، په دې وخت کې نوی فرمان راغی چې صوفیان د ډېرو استنجاوو په تور له دفتره وشړل شول.

همکارانو چې د تشنابونو ستونزه ولیده، نو خوراک او څښاک یې کم کړ. د دفتر مشرتابه فکر وکړ چې هسې هم څوک ډوډۍ نه خوري، هغه و چې دوه اشپزان یې هم له کاره وشړل، اوس نو یوازې چای پخول پاته شوه، سورګل ویل هر څوک به ځان ته خپله چای پخوي، خو همکارانو چای نه څښلې، ځکه چې چایو جواب غوښت او د چای جواب لپاره ځای نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوه تشناب کیلۍ طاوس خان له ځانه سره ګرځوله، یوازې یو تشناب پاته و. یو همکار چې به تشناب ته ننووت، نو دوه درې نور همکاران به د نوبت لپاره ورته ولاړ ول، کوم همکار چې به په تشناب کې ډېر وځنډېد، نو بل به دروازه ورټکوله چې ژر راووزه!

مست بوډا هم په دوهمه درجه صوفیانو کې راته او په تشناب کې یې ډېر وخت تېراوه. یوه ورځ په تشناب کې مصروف و چې بل همکار دروازه وروټکوله، ویل هله بوډا ژر راووزه! نیم ساعت دي تېر کړ، ته اودس تازه کوې که برمه کارې؟ بوډا په خندا ورغبرګه کړه: لږ صبر وکړه انټرنېټ کمزوری دی، نن فایل درونډ دی، ژر نه ډاونلوډ کېږي.

تر دې وروسته سورګل امر وکړ چې هیڅوک په تشناب کې تر یوې دقیقې زیات وخت نه شي تېرولای.

په تش نس نهه ساعته کار کولو او مایعاتو نه اخیستلو له امله په لږ وخت کې همکاران هر یو داسې ډنګر شو لکه د بایسکل پمپ. ښځینه همکارانو سینګارونه پرېښودل، ځکه په یوه دقیقه کې اودس نه کېده، نو سینګار خو لا هلته پرېږده، اوس په دفتر کې هغه پخواني سینګارونه او رنګین مخونه نه وو پاته، هرې ښځینه همکارې ته چې دي کتلي وای تا چې ویل په تور او سپین ټلویزیون کې یې وینم.

پخوا چې به یې ماپښین اودسونه تازه کړل، نو په تشناب کې به یې ځانونه هم ښه خته سینګار کړل. مست بوډا به ویل چې دا ټول د لمانځه برکت دی، څوک چې لمونځ کوي په تندي کې نور له ورایه ښکاري، تاسې دوی ته وګورئ هره یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې لکه حوره داسې ښکلې ښکاري، خو اوس د دفتر هره حوره بې نوره ښکارېده.

څه وخت وروسته سورګل وویل چې بودیجه نوره هم لږ شوه، باید پنځوس فیصده معاشونه کم کړل شي، که داسې و نه کړو باید دفتر یو مخ وتړو. تر دې وروسته څو همکارانو یو په بل پسې کارونه پرېښودل، اخیر له سلو همکارانو څخه یوازي لس نفره پاته شول.

یوه ورځ چې دفتر ته راغلم، نو ګورم چې سورګل لکه فیل مرغ تریو ولاړ دی او شونډک یې راځړېدلی دی، ویل برایي (تېره شپه) ماښام دفتر ته غله را اوښتي او له مالي شعبې څخه یې شل زره ډالر غلا کړي دي، د همدې بې کفایتۍ له امله مو دوه چوکېداران او دوه صفا کاران له کاره وشړل.

سورګل وویل چې له انسان څخه اشتباه کېږي، خیر دی چې له مالي مسئول څخه د تجرۍ (سیف) کیلۍ هېره شوې او پر مېز پاته وه، خو باید چوکیدار او صفا کار پام ورباندې کړی وای. تر دې وروسته سورګل تقسیم اوقات جوړ کړ او هر همکار به په خپل نوبت د دفتر شعبې، دالېزونه او د دفتر غولی جارو کاوه.

څه موده وروسته سورګل په هره شعبه کې یوازې یو کمپیوټر پرېښود، انټرنیټ یې هم قطع کړ، ځرنګه چې کار نه و او په دفتر کې د کار وسایل هم پاته نه شول، موږ ته د دفتر د صفایي او چوکېدارۍ پرته بل کار نه و راپاته.

یوه ورځ سورګل د دفتر ټول همکاران خپلې شعبې ته وروغوښتل، ویل تاسې اوس هسې هم له چوکېدارۍ او صفاکارۍ پرته بل کار نه کوئ، نو ښه به دا وي چې په قرارداد کې مو هم دغه وظیفه ولیکم. همکارانو چې بله چاره نه درلوده، دا ډول قراردادونه یې لاسلیک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وروسته چې دفتر ته راغلم، ګورم چې څو مزدورانو د دفتر کمپیوټرونه، فرشونه، چوکۍ، مېزونه، الماری او نور سامانونه ټول کړي او په موټرو کې یې اچوي. سورګل پر تخته یو نوی فرمان ځوړند کړی او داسي یې لیکلي وه: ((څرنګه چې زموږ مالي وضعیت خراب او د دې تعمیر کرایه لوړه ده، نو له دې امله مو یو بل تعمیر نیولی او هلته کډه کېږو، د کډې کولو له امله د دفتر همکاران د یوې اوونۍ لپاره رخصت دي. کله چې مو کډه په نوي دفتر کې ځای پر ځای کړه بیا به د ټیلیفون له لارې ټولو همکارانو ته خبر ورکړو)).

مست بوډا له یوه مزدور څخه پوښتنه وکړه چې زموږ رئیس او نور مشران چېرې دي؟ هغوی زېرخانې ته اشاره وکړه، په دې وخت کې مو د پخوا بر عکس له زېرخانې څخه بل ډول اوازونه واورېدل. زه او مست بوډا په ډار او نیولو ګامونو زېرخانې ته ورکښته شولو، ګورو چې په زېرخانه کې پنځه لوی لوی موږکان (سیو) (سیو) کوي او له خوشالیه پورته پورته ټوپونه وهي.

د موږکانو اوازونه ډېر اشنا ول، کټ مټ لکه د طاوس خان، سورګل او د دفتر د نورو دریو لوړپوړو چارواکو په شان. لکه هغوی چې مسخه شوي او په موږکانو اوښتي وي. موږکان لکه غوایي دومره لوی ول او د نس پوست یې د ښیښې غوندې صاف و، د هغوی په ګېډو کې زموږ د پخوانیو او اوسنیو همکارانو سرونه، د ډالرو بنډلونه او افغانستان د تعلیمي ادارو تعمیرونو انځورونه داسې ښکارېدل لکه د وینو په ډنډ کې چې لامبو وهي. هغه موږک چې اواز یې سورګل ته ورته و، سوکه سوکه زموږ خوا ته راروان شو، خو زموږ تراه ځنې وشوه او په منډه له زېرخانې څخه راووتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځې وروسته په رسنيو کې راپور خپور شو چې د يوې نادولتي ټولنې دريو مشرانو د خپلې ادارې دوه مليونه ډالره بوديجه غلا کړې او له خپلو کورنيو سره يوه نامعلوم بهرني هيواد ته تښتيدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# موږک چوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فرهنګي کمیسیون دا غونډه د ښاروال په مشرۍ د دې لپاره راغوښتل شوې وه چې د ښار پر یوه څلور لارې باندې د افغانستان د یوه نومیالي او ښاغلي نوم کښېږدي. د کمیسیون یو غړی چې نن یې تازه د سر وېښته رنګ کړي او ښې غوږ یې هم ورسره رنګ کړی و، د خبرو نوبت ونیو: ((زما خو د غازي امان الله خان نوم خوښ دی)).
مخامخ ناست سړی چې پزه یې لکه د توتي مښوکه کږه او پکول یې پر سر و، پزه په خپل برګ دسمال پاکه کړه، لکه مست اوښ غړومب یې وهل: ((نه دا بد نوم دی، امان الله خان یو بې دینه سړی و، باید د یوه ښه مسلمان سړي نوم ورباندې کښېږدو، زما په نظر خادم دین رسول الله حبیب الله کلکاني ښه نوم دی)).
څنګ ته ناست لوېشتکی سړی چې برېتونه یې د چارلي چاپلین په ډول جوړ کړي وه له درده سور او شین واوښت، داسې ناارامه شو لکه غوا ته چې ډوول ووهي، پر یوه او بل انډي شو او بیا یې په لوړ اواز وویل: ((دا خو یو بې سواده، د انګرېزانو جاسوس او سور غل و، باید د یوه روشنفکره، عالم او با شخصیته سړي نوم ورباندې کښېږدو، زما په نظر د نورمحمد تره کي نوم ښه دی)).
له دې خبرې سره سم د غونډې له تالار څخه د ښځو حمام جوړ شو، خبره سمه نه اورېدل کېده، په پای کې دې نوم پر ځټ د کفر ټاپه وخوړله او رد شو.
تر دې وروسته د هیواد د بېلابېلو سیاسي، علمي او فرهنګي شخصیتونو نومونه یاد شول، خو یو هم و نه منل شو. د کمیسیون غړي لکه ستړي جنګي چرګان تر غرمې پورې یو بل په مښوکو او لغتو سره ووهل، خو نه جنګ خلاص شو او نه یې یو بل مات کړل، اخیر پر دې خبره پرېکړه وشوه چې د څلور لارې لپاره به د یوه حیوان نوم غوره کوي.
پکول والا وارمخکې کړ او ویې ویل: ((زما په نظر (وزه) ښه نوم دی)). لوېشتکي سړي یې خبره پرې کړه: (( نه بابا دا خو د یوې ځانګړې سیاسي او قومي ډلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمبول دی، باید غیر سیاسي او غیر قومي نوم وټاکو)).
د وړاندیزونو او ردولو په دې په بهیر کې (اوښ) بېچاره هم له دې امله رد شو چې د کوچیانو سمبول دی. (خر) هم له دې امله چا و نه مانه چې له روسانو سره د جهاد پر مهال به مجاهدینو وسلې او مهمات وربانديې وړل او جهادي سمبول دی. دغه ډول پسه هم کوچیانو ته منسوب وبلل شو. آس هم په دې تور رد شو چې د بزکشۍ سمبول دی او بزکشي د یوه ځانګړي قوم لوبه ده.
تر اوږده بحث وروسته خبره مرغانو ته راغله. په سر کې د چرګ نوم یاد شو، خو چرګ له دې خاطره و نه منل شو چې سهار وختي اذانونه کوي او خلک له خوبه باسي. ورپسې د فیلمرغ نوم د لست سر ته راغی، خو هغه هم له دې امله و نه منل شو چې پرتوګ نه اغوندي او د فحاشۍ سمبول دی.
یو چا د باز نوم یاد کړ، خو پکول والا لکه مست اوښ تر خوله یې ځګونه باد شول او په درد یې وویل: ((دا خو په سلو کې سل د پښتونولۍ سمبول دی، خوشال خان د باز په اړه یو بشپړ کتاب لیکلی دی)).
څرنګه چې د کورنیو حیواناتو په اړه موافقه و نه شو، نو د وحشي ځناورو خبره راپورته شوه. په دې لړ کې لومړی د زمري نوم یاد شو، خو د کمیسیون یوه غړي بې واره وویل: ((دا خو هم د پښتنو سمبول دی. امیر کروړ دوولس سوه کاله پخوا ویلي وه چې:
زه یم زمری پر دې نړۍ له ما اتل نسته
پر هند و سند و پر تخار و پر کابل نسته
بل پر زابل نسته
له ما اتل نسته)).
پر دې خبره د کمیسیون د غړو تر منځ شور او غالمغال جوړ شو. ښاروال تر دې مهاله په غونډه کې په درانه خوب ویده و او داسې خرهاری یې کاوه لکه غویی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې حلال کړې، په دې وخت کې په وارخطايي له خوبه راکښېناست او په لړزېدلي اواز يې وويل: ((څه خبره ده، ولې غالمغال کوئ؟)).
د ښاروال مرستيال د دې لپاره چې (ټرت) په (پرت) پټ کړي خبره بلې خوا ته يووړه او په غوړمالۍ يې وويل: ښاروال صاحب وبخښئ چې د ټلويزيون اواز جګ و، ها دا دی کښته به يې کړم. له دې خبرې سره سم يې وويل: ((زما په فکر (موږک) ډېر مناسب نوم دی)).
ښاروال د دې نوم په اورېدو دومره خوشاله شو لکه سپي ته چې هډوکی ورواچوې، خوله يې ويړه شوه او غير ارادي يې تر خوله ووتل: ((واه واه! ډېر ښايسته نوم دی)).
له دې خبرې سره سم د کميسيون ګډونوالو چکچکې وکړې. په دې وخت کې د کميسيون يو غړی چې تر دې مهاله يې خبرې نه وې کړي په ارام او معصومانه انداز وويل: ((صاحب دا نوم به د شر او فساد سمبول نه وي؟)). ښاروال يې ژر خبره ورپرې کړه: ((شر او فساد دومره عيب نه دی، متل دی وايي: د ښايستې نجلۍ يو عيب نه عيب دی)).
تر دې وروسته ښاروال بحث راټول کړ او ويې ويل: ((د ښاروالۍ د فرهنګي کمېټې وروستۍ پرېکړه دا ده چې د موږک نوم سم دی)).
درې مياشتې وروسته په څلور لارې کې د موږک يوه لويه مجسمه جوړه شوه، موږک په خوله کې د افغانستان نقشه نېولې او څو ټوټې يې ځنې پرې کړي وې، دغه ډول يې پر خېټه د شهيدانو د جسدونو، سرتورو کونډو، يتيمانو او سوالګرو شلېدلو ګرېوانونو او کنډواله کورونو انځورونه کښل شوي ول.
لارويانو به د موږک مجسمې ته په خوند خوند کتل، خو نه چا څه ويل او نه يې د درد احساس کاوه، لارويان لکه ګرسره چې افغانان نه وي او له بهر څخه افغانستان ته د تفريح لپاره راغلي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سرو او شنو غويو جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا ډېر ښه وختونه ول، چا د عقل پوښتنه نه کوله، بس یوازې یې سر ته کتل، د چا چې به سر هر څومره غټ و، نو هغه به یې ډېر هوښیار باله. هغه مهال چې به د چا سر غټ نه و، نو په وېښتانو، لنګوټې، قره قلي خولۍ، شپو او بلې خولۍ به یې خپل سر غټ ښوده، د چا چې به سر لوی و، نه یوازې دا چې هوښیار بلل کېده، بلکې مشر، شمتن او لوړ پوړی دولتي چارواکی هم بلل کېده، له همدې امله هغه وخت خلکو لوی حکومتي خلک سرداران بلل، لنډه دا چې هغه مهال د (سر)، (سردار) او (سرداری) خبرې خورا تودې وې.
په سندرغاړو کې د استاد محمد حسین سر هم غټ و، څکه نو د وخت پاچا د هغه د یوه آهنګ په سر کې قیضه ور واچوله او (سرآهنګ) یې څنې جوړ کړ، په دې ډول استاد سرآهنګ هم په سردارانو کې حساب او ارګ ته یې لاره ومونده، خو استاد اولمیر بېچاره چې سر یې کوچنی و، حکومت په هنرمندانو کې حساب نه کړ او په پای کې له لوږې مړ شو.
هغه مهال خلک د چا د پاچهۍ، شتمنۍ، چوکۍ او سردارۍ په نښو نښانو دومره نه پوهېدل، بس هر غټ سری به یې سردار باله. تور جبار زموږ باغوان و، ده یوه سپینه غوا درلوده چې خورا غټ سر یې درلود، له نازه به یې (سرداره) ورته ویله.
زما یو ټولګیوال (انار) نومېده. لکه غونډ سری مېږی ملا یې نری، خو سر یې ډېر غټ و. انار په ونه ټیټ و، کله چې به له لیرې راروان و، نو یوازې به یې سر ښکارېده، د کلي سپین ږیرو به په ټوکو سردار صاحب باله چې وروسته په همدې نوم مشهور شو.
انار تر دریم ټولګي وروسته ښوونځی پرېښود، ښار ته کډه شو او هلته یې په ښاروالۍ کې ماموریت پیدا کړ. په ښار کې یې قره قلي خولۍ پر سر کوله، اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو سم دم سردار ښکارېده، وروسته يې د سردارۍ دعوه هم وکړه، خلکو ته به يې ويل چې موږ محمدزي يو، زما يو نيکه د امير دوست محمد خان په وخت کې د هرات والي و.

د غوايي تر اړودوړ وروسته انار بيرته کلي ته راکډه شو، اوس يې قره قلي خولۍ نه پر سر کوله، نور يې د سردار نوم بد ايسېده، ويل دا د پخواني استبداد پاته شوني دي. انار که څه هم په ونه ټيټ و، خو بيا يې هم سر ته لاس نه رسېده، ځکه چې ده هم د غوايي لکۍ نيولې او د نوي حکومت سردار بلل کېده. اوس يې (يرغل) تخلص کاوه او خورا غټ برېتونه يې پرې ايښي ول.

انار ځان د نوي زمانې په خم کې رنګ کړ، د دې زمانې رنګ سور و، هر څه په سره رنګ ولړل شول، داسي تک سره لکه وينې. بيرغ سور، سترګې سرې، خولې سرې، د دفترونو او دوکانونو لوحې سرې، د کورونو دېوالونه او دروازې سرې، بس هر څه په سره رنګ ولړل شول، آن دا چې تور جبار د خپلې سردارې غوا لکۍ او پښې هم په نکريزو ورسرې کړې.

لږ وخت وروسته لېونی باد راوالوت، په وطن کې د سره او شنه غوايي د ملګرو تر منځ جګړه ونښته. په دې وخت کې له پاکستان او ايران څخه د شنه غوايي ملګري راغلل، سره غوايي خو څه کوې، هر هغه څوک يې واژه چې له سره غوايي سره به يې انډيوالي درلوده.

يوه ورځ موږ څو کليوال په موټر کې ښار ته تلو چې انار هم راسره و. انار پر خپلو غټو برېتونو لاس تېر کړ او په خورا فاتحانه انداز يې وويل: مه وارخطا کيږئ دا انقلاب نه ماتيږي، ځکه چې شوروي اتحاد يې تر شا ولاړ دی، د دې بلاک زور هيڅوک هم نه لري. په دې وخت کې د يوې چاودنې اواز واورېدل شو او موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودرېد، سپرلیو په یوه خوله وویل: خدایه خیر پېښ کړې! انار په وارخطایي وویل:دا دی وګوره دغه مو حال دی! خدای خبر چې بیا یې کوم انقلابي ځوان شهید کړ؟ کلېنر وویل چې استاده د موټر ټایر پنچر شو. د انار برېتونو ته مې وکتل، ما ویل یاره نور به د وطن خوند نه وي، ځکه چې عقل له سر څخه برېتونو ته راکډه شو.

څو میاشتې وروسته نورمحمد تره کی ووژل شو او حفیظ الله امین یې ځای ونیو. خلکو به ویل چې امین په خټه خروټی دی. انار هم د دې نوي موټر په شا پسې ځان ځوړند کړ، په هر مجلس کې به یې ویل چې زما مور خروټې ده، مورنۍ نیکه ګان مي سل کاله پخوا د کابل له پغمان څخه کندهار ته راغلي ول، ماماګان مې د امین سکه تربورونه دي.

څو میاشتې وروسته د سره غوایي خاوند د خپلو غویو د ساتلو لپاره افغانستان ته څو لکه عسکر راواستول، امین یې ووژاه، هرې خوا ته جنګونه پیل شول، موږ هم پاکستان ته مهاجر شولو او هلته مو په یوه کېمپ کې واړول.

یوه ورځ زموږ کېمپ ته په موټرو کې څو وسله وال راغلل، دوی مسجد په مسجد ګرځېدل او ځوانان یې هڅول چې د شنو غویو په ننګه جنګ ته ولاړ شي او که دا کار نه شي کولای، نو لږ تر لږه شنو غویو ته دي شوتله برابره کړي. کله چې زموږ د مسجد وار راغی، نو ګورم چې انار هم ورسره دی، اوږده ږیره یې پرې ایښې، برګ دسمال یې په غاړه کې اچولی او خړ پکول یې پر سر کړی دی، ما ویل اناره جوړ په خیر! انار برګ برګ راته وکتل، ویل وبخښه زه انار نه یم، نوم مې مزمل او تخلص مي جهادوال دی. کله چې ما د خپل کلي نښې ورته وویلې، نو د سترګو په اشاره یې پوه کړم چې پر خوله لاس ونیسه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه او انار په مسجد کې يو ځای ګوښه سره کښېناستو. انار ويل ما خو درته ويلي وه چې زما مور خروټې ده، ماما ګان مې د استاد سياف سکه تربرونه دي، زه هم له همدې امله په اتحاد تنظيم کې جهاد کوم، بيا يې وويل: انشاالله مجاهدين بريالي کېږي، ځکه چې ناټو يې ملاتړ کوي او ناټو تر اوسه پورې نه ده ناکامه شوې.

د انار اوږدې ږيرې ته چې مې وکتل، نو نور هم وارخطا شوم، ما ويل عقل بېچاره هم زموږ غوندې کډه په شا ګرځي او دا دی اوس يې زموږ سره د برېتو پر ځای د ږيرو په کېمپ کې اړولي دي.

څو کاله وروسته له افغانستان څخه د سره غوايي ملاتړي عسکر ووتل، د اخيري سره غوايي ښکرونه هم مات شول او يوه ګله شنه غوايي کابل ته ننوتل. له دې سره سم ځينو کډوالو افغانانو خپل وطن ته مخه کړل، زه هم د پېښور له لارې کابل ته روان شوم، ما ويل يو به خپل تحصيلي اسناد واخلم او بل به کابل ووينم. سروبي ته چې ورسېدو پاټک والاوو راوګرځولو. پر پاټک يو لوېشتکی ږيرور سړی ولاړ و، ما چې ښه په ځير ورته وکتل انار و. ورکښته شوم او روغبړ مې ورسره وکړ. انار په خندا راته وويل: ما نه وه درته ويلي چې زموږ جهاد خامخا بريالی کېږي؟ انار رښتيا ويل، د ثور اوومه او اتمه ورځ څنګ پر څنګ سره راغلې وه، د روبلو پروړو (بوسو) د ډالري بوسو په کچه قوت نه درلود، په پای کې اووه سره غوايي خوارځواکه او له لوږي مات شول.

انار ته مې په خندا وويل: ياره اناره ته هم عجيبه بلا يې، دلته څه کوې؟

- ما نه وه درته ويلي چې زما مور خروټې ده

- نو دا پاټک له خروټي سره څه اړه لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هی ساده، ته نه یې خبر چې حکمتیار صاحب هم خروټی دی
- ښه اوس دا ووایه چې نوی نوم دې څه دی؟
- نوی نوم مې قطب الدین اسلامي دی.

په دې وخت کې له وطن څخه نور هم لاس پر سر شوم، ما ویل یاره لکه چې عقل د سیاسي بڼیرو له کېمپ څخه راکډه شوی او اوس یې پر پاټک اړولي دي. شنو غویو په افغانستان کې ټول شنه فصلونه وخوړل، نور یې شوتله نه خوړله، د ډاکټرانو خبره (ویجټېرین) نه ول، بلکې یوازې یې غوښې خوړلې، څه موده وروسته غوښې هم خلاصې شوې، اخیر یې د وسپنې خوړل شروع کړل، په لږ وخت کې یې د افغانستان ټولې وسپنې وخوړلې، اخیر یې د ملي اردو پر وسله تون برید وکړ، په لږ وخت کې یې ټولې وسلې او مهمات وخوړل، ان دا چې روغ رمټ ټانکونه او توپونه یې تېر کړل، تر دې وروسته یوه سیوري ته پرېوتل او په شخوند وهلو یې پیل وکړ.

څرنګه چې ډګر خالي و، نو طالبان پولادي کېبلونه په لاس راپیدا او شنه غوایي یې په وهلو وهلو له کابل څخه وشړل.

یوه ورځ د کوټې له ښار څخه کندهار ته تلم، کندهار ښار ته نژدې په لاره کې طالبانو پاټک اچولی او خلک یې په زوره لمانځه ته کښته کول، زه هم کښته شوم، ګورم چې انار کېبل په لاس ولاړ دی او خلک په زوره لمانځه ته کشوي.

له انار سره مې روغبړ وکړ، یو ځای ګوښه سره کښېناستو. ویل زما نوم اوس ملا غوړ هوتکي دی، زما خسرخېل د روزګان هوتک دي، مېرمن مې د لوی ملاصاحب سکه ترله ده، زه هم د خسرخېلو پر لاس طالبانو ته راغلم. د انار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس کې پولادي کېبل ته مې په ځير ځير وکتل، نور هم ناهيلی شوم، دا وار مې وليدل چې عقل له پاټک څخه کېبل ته راکډه شوی دی.

د کېبل پاچهي هم تېره شوه او ډيموکراسي راغله، د ډيموکراسۍ هغه سېلاب چې څو ټنه اوږدې ږيرې، غټ برېتونه، پکولونه، د سره او شنه غوايي څرمنې او لنګوټې يې له ځانه سره يوووړې. د سرو او شنو غويو ښکرونه د (ډي، ډي، آر) د پروژې له مخې راغونډ او د سره او شنه غوايي په نوم جګړه همدلته پای ته ورسېده. دا يو عجيبه نظام و، سره او شنه غوايي بيرته پر يوه اخور سره راټول شول، داسې يې غاړې سره ورکړې لکه د دوی تر منځ چې هيڅ جګړه نه وي شوې.

يوه ورځ له څو سپين ږيرو سره د حامد کرزي مبارکۍ ته ورغلم. په ارګ کې يو خېټور سړی په مخه راغی چې خورا قيمتي دريشي يې اغوستې وه، برېتونه يې پاک خريلي او فرانسوۍ ږيره يې جوړه کړې وه، ويل زه (مزمل پوپل) يم، د کرزي صاحب مشاور. ما ويل کوم مزمل؟ په غوږ کې يې کرار راته وويل: په سترګو ړوند شې انار يم انار. ما ويل ښه اناره دا ته يې؟ ولاکه مې بيخي پېژندلی يې، ما ويل مزمل خو شوې، اوس دا راته ووايه چې څنګه پوپل شوې؟

په خندا يې راغرګه کړه: بل واده مې وکړ، نوي خسرخېل مې د (کرز) د کلي پوپلزي دي، د دوی پر لاس ارګ ته راغلم، په شيرپور کې دوه کورونه لرم، نور يې څه کوې کار مې جوړ دی. د انار لويې خېټې ته چې مې وکتل، نو يو مخ ناهيلی شوم، دا ځل مې وليدل چې عقل د لوږې له لاسه له کېبل څخه خېټې ته پناه وړې ده.

د ولسمشرۍ انتخابات تېر شول او د (عين او غين) ډلو واک په لاس کې واخيست. يوه ورځ د ولسي جرګې له څو وکيلانو سره ارګ ته ولاړم، انار بيا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه راغی. ما ویل پوپل صاحب جوړ په خیر. انار په خندا راغبرگه کړه: یاره لکه چې سپین ږیری شوی یې، اوس د خپل کلي خلک هم نه پېژنې، زه پوپل نه، بلکي احمدزی یم، شرافت احمدزی. ما ویل شرافت خو دې را معلوم دی، اوس دا راته ووایه چې احمدزی څنگه شوې؟ ده ویل زما میره د لوگر احمدزۍ ده، د هغې لارې په ارگ کې پاته شوم.
انار خفه معلومېده، ویل ډېر ناهیلی یم، څلوېښت کاله مو مبارزه وکړه او وطن ته مو خدمت وکړ، خو هیچا مو قدر و نه کړ، اصلا افغانان خپل اصلي خدمتگاران نه پېژني، بس دی نور ستړی یم، غواړم چې خپل پاته ژوند په خارج کې تېر کړم.
انار ته چې مې وکتل، نو خبټه یې په رښتیا هم چې ویلي شوې وه، خو برعکس سرداري سر یې نور هم غټ شوی و، تر ټولو په زړه پورې خبره دا وه چې پښې یې خورا پنډې او بل ډول راته ښکاره شوې، لکه عقل چې یې پښو ته تللی وي. د انار په پښو کې یوه نړۍ را ته ښکاره شوه، په دې نړۍ کې مې گڼ شمېر ډالري بانکي حسابونه، ښکلي کورونه، غصب شوي جایدادونه، جگړې، د مړو هډوکي، د کونډو او یتمیانو څیري گرېوانونه ولیدل، پر دې سربېره مې څو غټ غټ سره او شنه غوایي ولیدل چې غېږه په غېږه پراته او مړه شوي ول، د غویو غاښو ته مې وکتل، یو شیرپور شوتله یې په غاښونو کې بنده وه، داسې ښکارېدل لکه ډېره شوتله چې یې خوړلې او مړه شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بارانونه او سینگارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کابل کې بارانونو ځو زره هلکانو او نجونو ته درانه مالي او جلدي زیانونه واړول. د سینګار خبري اژانس د راپور له مخې پرونیو بارانونو پنځه زره میټریک ټنه سرخي، سپېده، د سترګو زرین او سینګار نور مواد په اوبو لاهو کړل.
د سینګارپوهنې کمیسیون ویاند زلمی ارایشګر وایي چې د سېلاب ډېری قربانیان د دولتي او خصوصي پوهنتونونو محصلین او یا محصلو نجونو ته په لار کې ولاړ هلکان دي، په دې اړه ځو محصلې نجونې داسې وایي:
((زما نوم سویتا ده. زه پرون ارایشګاه ته ولاړمه، په پنځه زره افغانیو مې ځان جوړ کړ، کله چې پوهنتون ته راتلم په لاره کې باران راباندې شروع شو، له سره تر نوکه یې لنده خیشته کړمه، بې له دې چې کوم هلک مې ووینې ټول سینګار مې خراب شو، نورې پیسې نه لرمه چې بیا ځان سینګار کړم، همدا مې د پلار ټول معاش و. سینګار موږ ته ډېر ضروري دی، همدا سینګار دی چې موږ پوهنتون ته هڅوي، که سینګارونه نه وي، نو درسونه به هم نه وي)).
((زما نوم تولسي ده، زه د یوه هلک ډېره خوښېدلمه، غوښتل یې چې واده راسره وکړي، خو کله چې پروني باران زما سینګار پاک کړ او هلک زما د مخ اصلي بڼه ولیده، نو سمدستي پښېمانه شو، ویل زه ستا سره واده نه کوم، په دې ویر کې مې دا شعر ولیکه:
زموږ دې یووړل د لکونو سینګارونه
بارانه ورانه دې شه خونه
په ویر اخته دې کړل هلکان او ټوله نجونه
بارانه ورانه دې شه خونه
که سینګار نه وي زه به څه کړمه درسونه
بارانه ورانه دې شه خونه)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



((زما نوم کامولیکا ده، باران مې ټول سینګار پاک کړ، سخته خفه شوم، باران یوازې زما سینګار پاک نه کړ، بلکې د خلکو یې راپام کړل، زه تل تنګې او نازکې جامې اغوندم، تر اوسه پورې دا کار چا بد نه ګاڼه، خو کله چې مې باران کالي لانده کړل، نو ټولو راته کتل، ځوانان خیر دی، سپین ږیرو هم ډېر بد بد راته کتل، ویل نه شرمېږې چې داسې نازک کالي دې اغوستي دي؟ لنډه دا چې زه نور نرۍ جامې نه اغوندمه، یوه لنډۍ ده چې وایي:

بیا به نرۍ جامې و نه کړم

پرون باران و جانان ټوله ولیدمه)).

پرونیو بارانونو د نجونو تر څنګ ګڼ شمېر هلکان هم ځپلي او له خواریه یې ایستلي دي، په دې اړه دوه هلکان وایي:

(( زما نوم ارمان فیشن یار او د ښکلو هنرونو د پوهنځي محصل یم، زما په مخ کې ډبونه دي، ما به هغه هره ورځ په ګلګل وهل، یوه نجلۍ هم نه پوهېده چې زه څنګه یم، ټولو نجونو راته ویل چې ډېر ښه ایسې، خو کله چې مې پر مخ باران وشو، نو ټول ګلګل یې پاک او د مخ ډبونه مې ښکاره شول، اوس فکر نه کوم چې نجوني به ما ته د پخوا په سترګه وګوري، زه څو واره په پوهنتون کې ناکامه شوی یم، خو دومره نه یم خفه شوی لکه اوس چې خفه یم)).

(( زما نوم سورج دی، ما به هره ورځ سینګار کاوه او د پوهنتون په دروازه کې به درېدم چې نجوني رخصت شي او زه یې ووینم، خو پرون د رخصتۍ پر وخت ډېر تېز باران شروع شو، نجوني لکه باران وهلي کوترې په منډه ولاړې. تر ټوله بده دا چې زما د مخ سینګار پاک شو او یوې نجلۍ ولیدم، زه باور لرم چې دا نجلۍ به ډېرو نجونو ته ووايي چې زه په حقیقت کې بدرنګه یم، خو په سینګار ځان ښایسته کوم.

یوه نجلۍ چې دغه صحنه یې په خپلو سترګو لیدلې داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( زما نوم کترینا ده، پرون ډېره سخته ورځ وه، په نیم ساعت کې د سینګار څو زره ټنه مواد د نجونو له مخونو څخه کابل سیند ته ورتوی شول، یوه عجیبه صحنه وه، د کابل سیند یو مخ سور او سپین اوښتی و، څو ځله مې زړه را غوټه کړ چې سیند ته ځان ور واچومه چې له سره تر نوکه پورې سینګار شمه، خو ډارېدم چې سیند مې ډوبه نه کړي )).

خو د ښځینه چارو کارپوه ډاکټره برېښنا نرښځی بیا دا پړه د مالیې پر وزارت وراچوي:

((په ګمرک کې د سینګار د موادو کیفیت سم نه کتل کېږي، له دې بارانه سره موږ ته معلومه شوه چې د سینګار د موادو کیفیت سم نه و، که یې کیفیت ښه وای، نو له یوه بارانه سره به له مخ څخه نه پاکېدای )).

د بشري حقونو یوه فعاله مېرمنه ساګر نرګډی وایي:

(( د ښځو، په تېره بیا د محصلینو سینګار د هغوی لوړ شخصیت ښیي، کله چې د یو چا شخصیت ته تاوان رسېږي، نو دا یو بشري ناورین دی، دولت باید ددې کار لپاره تدابیر ونیسي او هغه پیسې چې له طبیعي پېښو سره د مبارزې په لاره کې لګېږي، باید یوه برخه یې د دغسې طبیعي پېښو لپاره هم جلا کړل شي )).

د ښځو چارو وزارت هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره په دې ناورین خواشیني ښکاره کړې او وایي: د دې لپاره چې دغسې بشري ناورین بیا تکرار نه شي، نو په هر پوهنتون کې به یو یو سینګارتون یا ارایشګاه جوړوي.

عیني شاهدان وایي چې په همدې ورځ په کونړ ولایت کې هم سېلابونه راغلي دي، دغو سېلابونو پنځوس تنه ښځې او ماشومان وژلي او څلور سوه کورونه یې ویجاړ کړي دي، خو تر اوسه پورې په دې اړه نه دولت، نه نړیوالو بشري ټولنو او نه هم رسنیو څه ویلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ناسُنته وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټلويزيون پر پرده وليکل شوه: عاجل خبر. ور سره سم يو خبريال راښکاره شو، ويل اوس ستاسې پام يوه تازه خبر ته را اړوو: د افغانستان ولسمشر د دولت ټول مهم غړي ارگ ته وربللي او غواړي چې هغوی ته خپله يوه مهمه او تاريخي فيصله واوروي. دا غونډه همدا اوس له ټلويزيون څخه په ژوندۍ بڼه خپرېږي.
په ټيلويزيون کې د غونډې تالار ښکاره شو، يو وزير ککو چاکليټ خوړل او پر سپينو غټو برېتو يې د ککو توره ټوټه پرته وه، داسې ښکارېده لکه پر برېتو چې يې يو غټ تور مچ ناست وي. د پارلمان يو وکيل له يوې پنډې ښځې سره خبرې کولې او خپل سر يې د هغې له ټټر سره لگولی و، فضا ډېره عاشقانه معلومېدله، لکه نن چې د عاشقانو ورځ وي.
يوه شېبه وروسته ولسمشر سټيج ته راغی، تندی يې خورا تريو او ډېر جدي ښکارېده.
د ولسمشر په ليدو د غونډې ټول برخه وال له خندا شنه شول او هر يوه خپلې خېټې ته اشاره وکړه، ځکه نن د ولسمشر خېټه دومره لويه ښکارېده چې له سټيج سره لگېده.
ولسمشر لومړی د تالار دروازې ته په ځير وکتل او بيا يې وويل: درنو حاضرينو! تر هر څه دمخه غواړم ستاسې څخه يوه پوښتنه وکړم: آيا غواړئ چې نن ملت ته رښتيا وواياست؟ په غونډه کې چوپه چوپتيا خپره شوه. يوازې د موبايل ټينگ و پينگ اورېدل کېده. دا د پارلمان هغه وکيل و چې د مخ په ليکه کې ناست او په خپل موبايل کې يې د چينجي گېم کاوه.
ولسمشر زياته کړه: دا دی لومړی يې زه له ځانه پيلوم. زه په ډاگه ملت ته وايم چې موږ په تېرو دوولسو کالو کې يو اساسي کار هم و نه کړ او هر ډول فساد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو لاره اواره کړه، خو اوس زه غواړم چې دا فساد ورک کړم او دا کار همدا نن کوم.
د ولسمشر لومړی مرستیال له درده سور او شین واوښت، پر خپله چاغه پزه یې لاس تېر کړ او په ډېر اواز یې وویل: موږ څو کاله جهاد او مقاومت وکړ چې دغسې یو نظام راولو او تاسې یې فاسد بولئ؟
ولسمشر په درد ورغبرګه کړه: تاسې ملامت نه یاست، ځکه د وینې فشار مو لوړ دی او غوږونه مو څه نه اوري، ستاسې دا خو فشار نه،بلکې فیشهار دی فیشهار.
د ولسمشر دوهم مرستیال نسوار خولې ته واچوله، خپله رنګه بنګه لنګوټه یې پر سر سمه کړه او په ډکه خوله یې وویل: دا د راتلونکي ولسمشر کار دی، موږ یې څه کوو؟ ولسمشر په ترخه خندا وویل: هو انتخابات راروان دي، په تاسې کې به یو ځوان انتخابات وګټي، خو دا ځوان به نظام چېرې جوړوي؟ په افغانستان کې خو ټولې دولتي ځمکې زورواکانو غصب کړې دي، بس یوازېبارګ پاته دی.
یو وزیر چې په موبایل کې یې خپلې معشوقې ته پیغامونه استول، نیکټایي پر خپله لویه خېټه اواره کړه، غاړه یې لوړه کړه او ویې ویل: مګر موږ په تېرو دوولسو کالو کې ډېرې لاسته راوړنې هم لرو. ولسمشر یې خبره پرېکړه او په خندا یې وویل: بس پوه شوم، ستا لاس ته راوړنه خو دا ده چې ټوله ورځ نجونو ته پیغامونه استوې.
د سترې محکمې رئیس وویل: نو چاره څه ده؟
ولسمشر: یاره انډیواله دا نظام نور نه جوړېږي، لکه زړه غړکه چې یو ځای یې ورګنډې ګورې چې بل ځای یې څیرې دی، زما خو داسې خوښه ده چې یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوې غوړکه رانيسو، خو له امريکايانو څخه يې نه رانيسو، ځکه چې د (بُن) غوړکه موږ او تاسې ټولو وليده چې څنګه وه؟

د انتخاباتو د کمېسيون رئيس: آيا خوښه مو نه ده چې دا کار نوي حکومت ته پرېږدئ؟ ولسمشر: وايي چې څنګه ځنګل هغسې يې کربوړی، نوی حکومت به هم د همدې ناولو کميشنرانو د فساد محصول وي، يو به په موبايل کې د چينجي ګېم کوي او بل به له نجونو سره په چټ لګيا وي.

د ولسي جرګې مشر: که تاسې امنيتي سند لاسليک کړئ، نو ډېرې ستونزې به حل شي. ولسمشر: د امنيتي سند په لاسليک کولو سره سوله نه راځي، بايد يوه نوې لاره ولټوو.

د بهرنيو چارو وزير د خپل کميس تنۍ خلاصې کړې: نور به خدای خير کړي، تاسې ژر دا امنيتي تړون لاسليک کړئ چې زه خپلو خارجي سفرونو ته ورخلاص شم، پوره درې ورځې کېږي چې دغه نژدې تاجکستان ته هم نه يم تللی، ډېر مې زړه تنګ دی.

ولسمشر: زه دا تړون ګر سره نه لاسليک کوم. امريکايان له لومړۍ ورځې راهيسې زما سره صادق نه ول، زه اصلاً د دوی له لاسه دې ځای ته راورسېدم چې اوس نه په ملت کې ځای لرم او نه دوی باور راباندې کوي، تېره شپه مې دومره چورت خراب و چې د (پولاد علمدار) ډرامه مې هم و نه ليدله.

يو سلا کار وزير چې پلن سنت او خړيته پزه يې درلوده ولاړ شو، د رکوع په ډول پر ملا کړوپ شو او په ټيټ اواز يې وويل: جناب رئيس صاحب! ستاسې فيصله څه ده؟ ولسمشر په صاف اواز وويل: دا چې امريکايان مې په مرموز ډول وژني،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ښه به دا وي چې ملت ته خو هم لږ خدمت وکړم او د عزت مرګ ولرم، د عزت مرګ دا دی چې همدا اوس ستاسې په مخ کې ځان وژنم.
په مجلس کې شور جوړ شو او هرې خواته چیغې پورته شوې، د بهرنیو چارو وزیر ولاړ شو او په ژړا یې وویل: ای زموږ ګرانه رهبره! ای زموږ ملي مشره! د خدای لپاره دا کار مه کوه!
ولسمشر: کښېنه منافقه! تاسې ټول ناځوانه یاست، زه مو د امنیتي ترون په برخه کې یوازې پرېښودم. په تالار کې ناست خلک ټول ودرېدل او چیغې یې کړې: د خدای پر پار دا کار مه کوه! خیر دی دا کار مه کوه...
ستېج ته نژدې یو نری او کمزوری اواز واورېدل شو، ولسمشر وویل: چوپ شئ! یو بوډا په ژړغوني اواز وویل: دا کار مه کوه، ما خوب لیدلی دی چې امریاکان ستا شرطونه مني او ستا د خوښې کاندید واک ته رسوي.
ولسمشر: په یوه شرط ځان نه وژنم چې تاسې ټول به هر یو پر خپل جرم اعتراف کوئ. په مجلس کې چوپه چوپتیا خپره شوه، هیچا هم څه و نه ویل.
ولسمشر: ښه نو تاسې یو هم پر خپله ګناه اعتراف نه کوئ ها؟ زه همدا اوس ستاسې په مخ کې ځان وژنم. ولسمشر تر خپلې چپنې لاندې لاس ننه ایست. له دې سره سم په مجلس کې شور او زوږ جوړ شو: اې د خدای پر پار مه کوه! دا څه کوې؟ لمن درته غوړوو دا کار مه کوه!
د ولسمشر یو غوړه مال سلاکار وزیر چې د غونډې په لومړۍ لیکه کې ناست او د پتلانه کمربند یې ټینګاوه، له ډاره ولاړ شو او پتلون یې تر نیمایي پورې لاندې وښویېد، تور مخ یې لکه بانجن په تور رنګ کې شین واوښت: ای زموږ ګرانه بابا! ته چې ځان وژنې موږ چا ته پرېږدې؟ که ته مړ شې، موږ ټول به یتیمان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر: بېغمه اوسه تاسې ټول راسره بیا یم، زه ځانمرګی برید کوم او تاسې ټول مفسدین به یو ځای راسره ووژل شئ. له دې خبرې سره سم یې ستېج وډباوه او په جګ اواز یې وویل: ما ته وګورئ! په دې چپنه کې مې شل کیلو ګرامه باروت ځای پر ځای کړي او همدا اوس یې چووم. موږ او تاسې یو ځای د بُن د فیصلې له مخې افغانستان ته راغلي وو او دا دی زما د فیصلې له مخې بېرته له افغانستان ځخه ځو، خو اروپا او امریکا ته نه، بلکې د خدای پاک حضور ته ورځو.

په دې وخت کې د ولسمشر د مرستیال سا بنده شوه، پزه یې لکه د فیل مرغ شونډک نوره هم وپړسېده، شا و خوا یې وکتل او ورو د دروازې خواته روان شو، خو ولسمشر ناره کړه: ودرېږه چېرې ځې؟ د ولسمشر د مرستیال په بنده بنده ژبه وویل: صاحب تشناب، تشناب؛ ولسمشر: دروازه مې تړلې ده، هېڅوک هم د باندې نه شي تلای.

د یوه قاضي رنګ لکه کورکمن ژیړ واوښت، لویه خېټه یې ځو واره ژړ، ژر پورته کښته شوه، سوکه یې خپل بوټونه او کورتۍ وایستل او د کړکۍ خوا ته روان شو، په دې وخت کې یې د اوبو بوتل له لاسه ولوېد، د ولسمشر ورته پام شو: قاضي صاحب څه کوې؟ غواړې د کړکۍ له لارې وتښتې؟ بېغمه اوسه! ټولې کړکۍ مې بندې کړې دي.

قاضي پزه کش کړه او کرار یې وویل: ما ویل دا کړکۍ به خلاصه کړم، په تالار کې یو قسم بد بوی دی.

ولسمشر: ددې فساد بدبویي پخوا لا ټوله دنیا پر سر اخیستې وه، خو ستا پزې ته یې اوس بوی درغی ها؟ نه وینې چې جنرال صاحب د خپل پتلانه پایڅې داسې کلکې تړلې دي لکه بزکشي چې کوي، بدبخته تا به هم دغسې یو (ساونډپروف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پتلون پیدا کړی وای. ولسمشر چپنې ته لاس کړ، له ګرېوان څخه یې د ځانمرګي واسکټ بټن راوایست چې سره اشاره یې بله او مړه کېده.
په دې وخت کې د موبایل ټینګ وپینګ واورېدل شو، ولسمشر په قهر وویل: وکیل صاحب څه کوې؟ کوم سفارت ته زنګ وهې؟ بېځایه زحمت مه باسه، موبایلونه مو کار نه کوي، تاسې به ټول زما سره وژل کېږئ، خو په یوه شرط مو دباندې پرېږدم چې پر خپله ګناه اعتراف وکړئ، ښه څوک تیار دی؟
د ولسمشر مرستیال په بنده بنده ژبه وویل: صاحب زه یو ملیارډ ډالره لرم، څو وسله والې ډلې او شخصي زندانونه لرم، یو ډېر خروړی او جنګي سپی لرم، یو چا له کشمیره په تحفه کې رالیږلی دی، ډېر غښتلی سپی دی، یو لک ډالره بیه لري.
ولسمشر په ترخه خندا وویل: ستا په کیسو خبر یم، خو بیا هم ښه شو چې تا په خپله خوله اقرار وکړ.
د ولسمشرۍ یو کاندید چې پلاستیکي غاښونه یې په خوله کې سمول، په کنډوله خوله او ګنګوړه ژبه وویل: صاحب زه اوس هم بهرنی تابعیت لرم، خو په رشوت مې ځان خلاص کړ.
ولسمشر: بې ادبه ولې ناست یې، په ولاړې خبرې وکړه! وایي تر اوسه استاد شوی نه یې بیا نېچې غلا کوې؟
کاندید: صاحب ستا قربان شم، نه شم ولاړېدای، پرتوګاښ مې تښتېدلی دی.
ولسمشر: ښه پرتوګاښ دې تښتېدلی دی؟ څه خیر په ناستې خبرې وکړه!
کاندید: یوه کاندید د رایو ورکولو یو لک کارډونه په موټر کې اچولي ول چې د انتخاباتو کمېسیون ته یې یوسي، کله چې زه خبر شوم، نو لاره مې ورته ونیوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کارډونه مې ځنې غلا کړل، که رښتیا ووایم، نو ما پخوا په مسجد کې څپلۍ غلا کولې، بیا یو چا په یوناما کې مقرر کړم، هلته مې انګلیسي زده کړه، بیا مې یو خصوصي شرکت جوړ کړ، یوه ورځ یوه خارجي راته وویل چې ځان ولسمشرۍ ته کاندید کړه، پیسې یې موږ درکوو، یو میلیون ډالر یې مخکې راکړل.
ولسمشر: رښتیا هم که د لمانځه پر مهال څپلیو ته ګورو، نو لمونځ مو فاسدیږي، نو ښه به دا وي چې غل د امام پر ځای ودروو، تر سترګو به مو لاندې وي او څپلۍ به نه شي غلا کولای.
یو سړی چې د تالار په پای کې ناست و، په تلوار وویل: نو تا خو موږ په جماعت مصروفه کړي وو، خو وروښو دې د شا له خوا زموږ څپلۍ غلا کړې.
ولسمشر په قهر وویل: دا څوک و؟ سړي ځان د خلکو تر شا پټ کړ. په دې وخت کې د تالار په پای کې ژړا واورېدل شوه، ولسمشر په ځیر ورته وکتل: وزیر صاحب څه خبره ده؟
وزیر په داسې حال کې چې له غاړې څخه یې نیکټایي خلاصوله داسې وویل: صاحب زما عمر پنځه ویشت کاله دی، خو جعلي تذکره مې جوړه کړې ده، د یوه مړه شوي ډاکتر تحصیلي اسناد مې خپل په نوم کړي دي، زه اصلاً یو پنچرمېن وم، خو وروسته په یوه سفارت کې مقرر شوم، هلته مې انګلیسي زده کړه، بیا مې یوه امنیتي کمپنۍ جوړه کړه، په هغه کې مې شل میلیونه ډالره غلا کړل، کله چې تاسې د اعتماد رایې اخیستلو لپاره پارلمان ته استولم، نو یو میلیون ډالر مې د پارلمان وکیلانو ته رشوت ورکړ، بل دا چې سنت شوی هم نه یم.
ولسمشر څټ وګراوه او کرار یې وویل: دا نو زما د دفتر د رئیس ګناه ده چې خلک سم نه ګوري او ماته یې اسناد رالیږي، د عامي روغتیا وزیر هم ملامت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دومره لوی تخنيکي مشکل ته يې پام نه دی کړی، ما به هغه جراح ډاکټر ته د سرو زرو مډال ورکړی وای چې زما وزير يې سنت کړی وای، زه خو تل د اصلاحاتو طرفدار يم، البته د هر ځای اصلاح چې وي، که تر نامه کښته او که پورته اصلاح وي.

د تالار په دوهمه ليکه کې د والي صاحب تر خولې يوه لويه چيغه ووته: زه اعتراف کوم چې د ولايت ټولې چارې مې د ( پي، آر، ټي)، امريکايانو او ګاونډيو هېوادونو په خوښه سنبال کړي دي، له طالبانو سره هم پټې اړيکې لرم، د هغوی په نوم مې لس مکتبونه او پنځه شفاخانې سوځولي دي، پنځوس بمونه مې چوولي چې دوه سوه بې ګناه خلک پکې وژل شوي دي، پردې سربېره مې شل پلونه هم په بمونو الوزولي دي. دا کارونه مې د دې لپاره کړي چې تاسې اوپراتيفي بودجه راکړئ او بل نو تاسې خو خبر ياست چې زه همجنس بازه هم يم.

ولسمشر: خوله دې بنده کړه رذيله! همجنس باز يې که هره بلا يې، دې خواته ودرېږه!

قاضي صاحب ولاړ شو، پښې يې ورېږدېدلې او پر ځمکه ولوېد، په پروتې يې په ژړا وويل: زه له قاچاق کوونکو سره ښه پخه اندېوالي لرم، په شيرپور کې دوه کورونه او لس مليونه ډالره لرم او بل نو ته خو خبر يې چې چرس هم څکوم، يو ځل خو ما او تا دواړو... ولسمشر يې خبره پرې کوي: چوپ شه احمقه!

د پارلمان يو وکيل چې کميس يې ايستلی و، خولې پر راماتې وې، د معدني اوبو بوتل يې په لاس کې او پر خپله پړسېدلې خېټه يې اوبه تويولې، خپله لنډه او پنډه غاړه اوږده کړه او په تکليف يې وويل: قسم په خدای که ماته خپلې مېرمنې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایه راکړې وي، په درغلیو پارلمان ته راغلی یم، پیسې سفارتونو راکړې دي، اوس لس ملیونه ډالره لرم، په دوبۍ کې هم پنځه کورونه لرم. بل دا چې تر اوسه پورې یوازې ته خبر یې چې زه نرښځی یم، خو اوس باید ملت هم خبر شي.

ولسمشر: نرښځی خو ګناه نه ده، ما ډېره هڅه وکړه چې یو نرښځی پیدا کړم او ستره محکمه په لاس ورکړم، ښځو به تل انتقاد کاوه چې هم د دولت رئیس او هم یې د درو ګونو قواوو رئیسان نارینه دي. ما فکر وکړ چې د دولت قوه نارینه، دوهمه ښځې او دریمه قوه نرښځي ته وسپارم، خو چا نه راسره منله، بل دا چې ما غوښتل د ولسمشرۍ لپاره د یوه نرښځي کاندید ملاتړ وکړم، خو امریکایانو اجازه را نه کړه.

د تالار له کونج څخه یو رېږدېدلی اواز واورېدل شو: رئیس صاحب د خدای لپاره پر ما رحم وکړه! د تالار په کونج کې یو سړی څرګند شو چې د چاودنې له ډاره یې باطلدانۍ په سر اغوستې وه، څرنګه چې د سړي سر رېږدېده، نو له حلبي باطلدانۍ څخه کړپهارۍ پورته کېده.

ولسمشر: هلکه کوم یو یې؟ بس بس و مې پېژندلې، ته خو هغه د (...) ګوند رهبر یې، ښه وایه!

د سیاسي ګوند رهبر: صاحب ما په امریکا کې سپي پرېولل، له امریکایانو سره یو ځای افغانستان ته راغلم او د ماین پاکۍ سپیانو ته به مې خواړه تیارول، بیا یوه امریکایي جنرال په کابل کې د امریکا سفارت ته بوتلم، سفیر راته وویل چې یو سیاسي ګوند جوړ کړه، موږ به مرسته درسره وکړو. هغه و چې ما هم ګوند جوړ کړ، سفارت چې به څه راته ویل ما به هغسې کول. بل نو ته خو خبر یې چې زما عمر کم دی، تر اوسه پورې بلوغ ته نه یم رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر: یوازې ته نه یې، د افغانستان اکثره سیاستوال نابالغه دي، که دوی بلوغ ته رسېدلي وای، نو اوس به افغانستان په داسې بد حال کې نه وای.
په دې وخت کې د تالار په یوه کونج کې چکچکې واورېدل شوې، ټول حیران شول چې په دې وخت کې څوک چکچکې کوي؟ ګوري چې یو سړی تر چوکۍ لاندې پروت دی، خو سر یې را ایستلی دی. ولسمشر چیغه کړه: ښه ته د فساد رئیس یې؟ ښه رئیس صاحب راته ووایه تا څه ناروا کړې ده؟
له اداري فساد سره د مبارزې د کمیسیون رئیس: صاحب ما د مفسدینو اتحادیه جوړه کړې ده، د دولت په درې ګونو قواوو کې چې هر څومره مفسدین دي هغوی مې سره جوړ کړي دي. زه اوس اته سوه ملیونه ډالره لرم، ستاسې ونډه مې هم په کابل بانک کې هغه حساب ته در استولې ده چې تاسې راته ویلي و.
ولسمشر: بس، بس! کابل بانک پسې پرېږده.
په دې وخت کې د ولسمشر یو چا ته پام شو او ناره یې کړه: دا کوم یو دی چې تر چوکۍ لاندې پټ دی او پښې یې راوتلې دي، هلکه کوم یو یې راووځه! چوکۍ پورته شوه او یو لوی مخی سړی راپورته شو: صاحب زه د انتخاباتو د کمیسیون رئیس یم، ما د ولسمشرۍ لپاره ټول هغه کاندیدان له لیسته وایستل چې تا راته ویلي ول، مثلا: ...
ولسمشر یې خبره پرې کړه: اوف بس ده نوره حوصله نه لرم، زه خپله فیصله کوم: آی زما کړېدلیه او بېچاره ملته! هغه مکروبونه چې امریکایانو او د هغوی انډیوالانو د بُن د پرېکړې له مخې افغانستان ته را استولي او ستاسې هر اندام یې په درد اخته کړی و، ما هغه مکروبونه بېرته راغونډ کړل او تاسې یې په دې تالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وینئ. دا دی زه نن خپل فرض ادا کوم او دا مکروبونه له منځه وړم. دا دی زه همدا اوس ځانمرګی برید کوم: الله اکبر.

********

د ټیلویزیون پر پرده سره لمبه ښکاره شوه او وروسته تیاره راغله. څو شیبې وروسته ویاند د ټلویزیون پر پرده راښکاره شو او ویې ویل: ګرانو لیدونکو! د افغانستان ولسمشر په ارګ کې ځانمرګی برید وکړ او ورسره د غونډې ټول ګډونوال ووژل شول، د خبر نور جزیات به وروسته درته وړاندې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غلو مشر ولې حج ته تللی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جبار موبايل بندکړ او بيا يې د خپل ملګري سردار پر اوږه لاس کښېښود، ببرې وروځې يې لکه د تبرې خره راوځړېدې: ياره سرداره خدای خبر چې دا دي هغه هلک وي چې حاجي صاحب موږ ته راښوولی و، ځکه چې زه د صراف اواز پېژنم او د صراف زوی مې هم ليدلی دی، د صراف د زوی پر ځای مو بل څوک راوستلی دی.

سردار ژبه تر غاښو لاندې کړه، يوه شيبه چورت يووړ او بيا يې سر راپورته کړ: رښتيا هم چې بل څوک مو راوستلی دی، خو څه وکړو؟ حاجي صاحب ته هم نه شو ويلای چې د يوه سړي پر ځای دې بل سړی راوستلی دی، هغه به وايي چې ولې مو پام نه کاوه او که هلک بيرته خوشي کوو مصرف مو شوی دی.

جبار ځت وګراوه او بيا يې د کوټې خيرن چت ته وکتل: رښتيا هم چې مصرف مو شوی دی، پوليسو ته مو څومره پيسې ورکړې، د کندهار له ښاره بيا تر چمن پورې مو د موټر کرايه ورکړه، که هلک خوشي کړو حاجي صاحب ته څه ووايو چې دا پيسې مو په څه شي مصرف کړې؟ حاجي صاحب خو درمعلوم دی چې که يو وار درد ورغی، نو مرګ خو څه کوې چې حلال به مو کړي او مړي به مو کارګانو ته ورواچوي.

د سردار په تندي کې ګونځې وغځېدې او د موبايل پر ښيښه يې ګوتې تېرې کړې: د هلک پلار ته خو مو مخکې لا خبر ورکړی دی چې پيسې برابرې کړي، اوس به پوښتنه ځنې وکړو چې پيسې يې برابرې کړي که نه، څنګه دې خوښه ده؟ د جبار پنډې شونډې وښورېدې او په مات زړه يې وويل: ته خو زنګ ور ووهه چې څه وايي؟ سردار موبايل راپورته کړ او د احمد د پلار نمره يې ووهله:

- بلې!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- څنګه شو پیسې مو برابرې کړې؟
- د مېرمنې سره زر مې خرڅ کړل، له ورونو څخه مې هم پیسې پور کړې، خو ټولې لس لکه کالداري شوې، قسم په خدای که بله یوه روپۍ هم لرم
- نو په دې خو کار نه کيږي
- د خدای پار دی څه وکړم له ځانه خو پیسې نه شم جوړولای؟
- نو بیا یوه میاشت صبر وکړه چې زموږ مشر راشي
- ستاسې مشر چېرې دی؟
- زموږ مشر حج ته تللی دی، بیا به هم زه خبرې ورسره وکړم او بیا به تاته زنګ درووهم.
سردار لا تیلیفون نه و بند کړی چې د احمد د پلار دا خبره یې په ټیټ اواز کې واورېده: عجیبه ده! د غلو مشر هم حج ته تللی دی؟
سردار تندی تریو کړ او جبار ته یې مخ ورواړاوه: دې خلکو خو پر موږ بیخي د سرو کفارو ګومان کړی دی، وایي د غلو مشر هم حج ته تللی دی؟ خبر نه دي چې حاجي صاحب هر کال حج ته ځي. موږ چې دلته په کال کې څومره پیسې ګټو حاجي صاحب یې په یوه میاشت کې هلته ګټي. دا ټول د خدای د کعبې برکت دی، که نه نو موږ دلته هره ورځ غلاوي کوو، ولې دومره ډېرې پیسې نه شو ګټلای؟
جبار یې په خوله کي ورولوېد: یاره سرداره چې زه او ته هم حج ته ولاړ نه شو په دې یوه لک او دوه لکه مو ګوزاره نه کيږي. جبار تندی تریو کړ او په بې صبرۍ یې ورغبرګه کړه: خیر ته اوس د حج خبرې پرېږده، حاجي صاحب ته زنګ ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواهه چې له هلک سره څه وکړو؟ سردار هم د تایید په ډول سر وښوراوه او د خپل مشر نمره یې ووهله:

- بلې!
- سلام علیکم
- وعلیکم السلام
- حاجي صاحب زه سردار خبرې کوم
- سرداره څنګه یې جوړ یې؟
- هو شکر جوړ یم، تاسې څنګه یاست حج په خیر تېرېږي؟
- هو بیخي په خیر تېرېږي، همدا اوس په عرفات کې ولاړ یم، د ټولو اسلامي ملکو حاجیان په عرفات کې راټول شویدي او خدای ته زارۍ کوي.
- بس خدای مو عبادتونه قبول کړه
- تاسې خپل کارونه څنګه کړل؟ هغه د صراف د زوی کار څنګه شو؟
- حاجي صاحب هغه د صراف زوی نه دی، د یوه غریب خیاط زوی دی
- غریب مریب یې پرېږده، دا ووایه چې څومره پیسې ورکولای شي؟
- پلار یې وایي چې لس لکه کالدارې درکولای شم
- خیر دی دغه لس لکه کالدارې څنې واخلئ، دلته څو میلیونه حاجیان پر عرفات ولاړ دي، د خدای عبادت کوي او بل نو خوشاله هم دي، ځکه چې سبا اختر دی
- رښتیا هم چې سبا اختر دی، موږ هم دلته خوشاله یو چې سبا اختر دی
- بده خبره ده چې پر موږ اختر وي او د خیاط کورنۍ په ویر لړلې وي، بس همدا لس لکه کالدارې څنې واخلئ او هلک خوشي کړئ، موږ ته به یې خدای په اخرت کې عوض راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غیرت خنگه د جراحي عملیاتو په وسیله ایستل کیږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا متحده ایالتونه، پاکستان او ایران دولتونه غواړي د افغانستان د ټولو هغو ناروغانو وړیا درملنه وکړي چې د ینې تریخی (صفرا کڅوړه) کې ډبرې ولري.
دا خبره نن په کابل کې د امریکا، ایران او پاکستان د عامې روغتیا وزیرانو په یوه ګډه خبري غونډه کې وکړه.
د امریکا د متحده ایالتونو د عامې روغتیا وزیر تور ماما وویل: که څه هم دا په افغانستان کې یوه جدي او ډېره خطرناکه ناروغي نه ده، خو د دوی ملي ګټې ورپورې تړلي دي. تور ماما زیاته کړه: دوی تر دې مخکې هم د افغانستان یو شمېر لوړپوړي چارواکي، سیاسي ګوندونو مشران او پارلماني وکیلانو له ینې (جیګر) څخه تریخي ایستلي دي.
ښاغلی تور ماما وایي کله چې موږ په افغانستان کې د دولت له خوا د ملکي تلفاتو په اړه له جدي غبرګون سره مخامخ نه شولو، نو راته ثابته شوه چې زموږ دې کار ښه نتیجه ورکړې او غواړو دغه پروګرام نور هم پراخ کړو.
د ایران د عامې روغتیا وزیر جمرود جنجالي نژاد وویل چې دا کار د خپلو ملي ګټو پر بنسټ کوي. ده زیاته کړه چې موږ تر دې مخکې هم له یو شمېر لوړپوړو دولتي چارواکو، په تېره بیا فرهنګي، تعلیمي او سیاسي شخصیتونو له ینې څخه تریخي ایستلي چې خورا ښه نتیجه یې ورکړې ده.
جنجالي نژاد وویل چې دوی ته هغه مهال خپل پروګرام بریالی او ګټور ثابت شو چې کله یې په خپله خاوره کې د افغان دولت د تېلو ټانکرونه ودرول. په دې کار سره که څه هم عام افغانان ډېر په قهر شول، خو افغان دولت بیا هم داسې غبرګون و نه ښود چې زموږ دریځ او ګټو ته دې جدي ګواښ وبلل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان د عامې روغتیا وزیر غلام ګل خان وویل: دا کار زموږ لپاره حیاتي ارزښت لري، موږ په دې کار کې تر هر چا ډېره تجربه لرو، هغه مهال چې روسانو پر افغانستان پوځي یرغل وکړ، موږ د افغانستان له یو شمېر سیاسي رهبرانو، جهادي قوماندانانو او قومي مشرانو له ینې ښخه تریخي و ایستل، موږ هغه مهال پوه شولو چې کار مو ښه نتیجه ورکړې ده.

تر دې خبري غونډې یو ساعت وروسته د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ویاند وویل چې افغان دولت د امریکا، ایران او پاکستان دغه ډول مرستې ستایي او د یو شمېر لوړپوړو دولتي چارواکو، پارلماني وکیلانو، قومي سپین ږیرو، سیاسي ګوندونو او مدني فعالانو د مشرانو یو لست یې مخکې لا چمتو کړی چې ډېر ژر به دغه خلک یادو شویو هیوادونو ته د درملنې لپاره واستول شي.

یو شمېر سیاسي کارپوهان وایي چې امریکا غواړي په افغانستان کې د تل لپاره خپلې نظامي اډې جوړې کړي، ایران بیا غواړي چې د افغانستان په لویدیځو ولایتونو کې د اوبو د دریو بندونو د جوړېدو مخه ونیسي.

دغه ډول د پاکستان حکومت غواړي افغان دولت د ډیورنډ کرښه په رسمیت وپېژني چې ددې کار لپاره یې له څو کالو راهیسې د افغانستان پر پوله راکټي بریدونه پیل کړي دي.

که امریکا، ایران او پاکستان دغه پلان عملي کړي، نو په نتیجه کې به یې افغان دولت پر ینه تریخی و نه لري، بیا چې یاد شوي دولتونه په افغانستان کې هر څه غواړي څوک به یې مخه نه نیسي.

روغتیایي کارپوه ډاکټر شین فوالذي په دې باور دی چې له کومې ورځې راهیسې چې افغانستان ته د نړیوالې ټولنې د مرستو بهیر را مات شوی، نو په ینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د ډېرو ناروغي هم ورسره ډېره شوې ده. څه موده مخکې یوې تحقیقاتي ادارې اعلان وکړ چې د انسان په وجود کې یې د (غیرت) په نوم جین (Gene) کشف کړی او وایي چې دا جین د انسان د ینې په تریخي کې وي.
جینیټیکي اثرات هغه جسمي او ذهني جوړښتونه دي چې له مور او پلار څخه اولادونو ته انتقالیږي او ارثي خویونه بلل کیږي. طبي ډاکټران وایي که له سیاسي مشرانو څخه د ینې تریخی وایستل شي، نو غیرت به یې هم ورسره ختم شي، بیا چې وطن هر چا اشغال کړ، دوی به یې بده نه ګڼي او له پردیو سره به د وطن او ملت په اړه هر ډول سیاسي معاملې ته غاړه ږدي.
د یادونې وړ ده چې د افغانانو په فولکلوریکه عقیده کې هم پر ینه تریخی نه درلودل د بې غیرتۍ مانا لري. دا فولکوریکه عقیده له پخوا څخه پاته ده او ټول افغانان یې بد شګون بولي، خو سیاستوال اوس ورسره عادي شوي او چندان حساسیت نه ورسره لري.
څه موده وړاندې د سترګو د یوې ناروغۍ په اړه هم یو طبي راپور خپور شو چې په افغانستان کې مخ پر ډېرېدو ده. دا ناروغي په څو سیاستوالو کې پېژندل شوې وه، په دې ناروغۍ یوازې د دولت لوړ پوړي چارواکي اخته کیږي او نښې نښانې یې دا دي چې پر سترګو یې ډالري پردې غوړیږي او بیا د ملت هیڅ ډول ستونزې او ناخوالي نه ویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناوې څنګه لېونۍ شوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ورا د زوم په کور راننوته، نو له دایرو سره یې دا بدله ویله:
خور چیلم مو د چیني دی
د خدای سپین رشتیا به وایو
زوم تر ناوي فېشني دی.
د شپې ناوخته چې د آئینه مصف وخت راورسېد او زوم د ناوي تر څنګ پر تخت کښېناست، نو د عادت خلاف د ناوي پر ځای د ښځو سترګې په زوم کې ښخې پاته شوې، نجوني خو څه کوې چې د مېړوښو ښځو هم اوړه ورته تمام شول، یو کړکچو او زوړ جوړ شو.
د زوم په اړه د نجونو، مېړوښو او سپین سرو ښځو تبصرو خونه پر سر واخیسته. یوې پخې ښځې پر شونډو ژبه تېره کړه او څنګ ته ناستې سپین سرې ته یې کرار وویل: یووو خورې دا څنګه سور او سپین نازک ځوان دی، سړی ګرسره نه وایي چې دا دي هلک وي، دا خو داسې ښکاري لکه نجلۍ چې وي.
په دې وخت کې د زوم مور دا خبره واورېده او په لوړ اواز یې وویل: بي بي جانې ماشاالله ورسره وایه، زما زوی را نظر نه کړې. په دې وخت کې یوه نجلۍ په داسې حال کې چې سترګې یې په زوم کې هېښې پاته وې د خپلې خورلڼې پر غوږ خوله ور کښېښووله او کرار یې ورته وویل: ته ورته وګوره څنګه ګڼ او طلایي وېښتان لري، دا زوم خو تر ناوي ډېر ښایسته دی.
خورلڼې یې د سر په ښورولو سره خبره تائید کړه او ویې ویل: هو رشتیا هم چې ډېر ښایسته دی، ته یې سترګو ته وګوره، څنګه ښایستې شنې سترګې لري، لکه خارجي هلک چې وي.
یوه بوډۍ چې ښځو (ببو خاله) بلله او تل به یې سپینې خبرې کولې شونډه بوڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه او څنګ ته ناستې سپین سرې (مورا خاله) ته یې کرار وویل: ته ورته وګوره د خلکو داسې ښه بختونه دي، موږ څه بلا وهلي یو چې نه مو خپله ښه بخت پیدا کړ او نه مو د لوڼو دغسې یو ښایسته هلک په نصیب شو، متل دی وایي: ((نه مو وکړې بړبوکۍ، نه مو شکې کړې لکۍ)).

له دې خبرې سره سم مورا خاله یو وار د ناوي خوا ته وکتله او بیا یې په بخیلۍ وویل: رشتیا هم چې ښه انګور چغال خوري. په دې وخت کې د زوم مور د سپیلنیو له نیکلي غوري سره خونې ته راننوته. لوګړی یې د سپیلنیو غوري د خپل زوی او بیا د ناوي مخ ته وګرځاوه.

په دې وخت کې د ناوي شونډک لکه د فیل مرغ راوڅړېد او وار په وار له قهره سره او شنه اوښته، اخیر یې خپلې خورته وویل: دا څنګه ناسیاله خلک دي، نور خلک ناوي ته ګوري، خو دوی د نادیده اولادونه د زوم په صفتونو نه مړیږي، خپل د کور سړی یې دی او دوی داسې په ځیر ځیر ورته ګوري لکه اوس تازه چې یې ولید، خور یې د توبې په ډول لاس یو وار پر پزه او بیا پر غوږو تېر کړ: بس خورې سړی به څه ووایي، شرم کله کړې ده.

په دې وخت کې ناوې ناڅاپه ولاړه شوه، خو مور او مشرې خور یې ژر د شال تر پلو ونیوله، ویل څه کوې؟ ناوي څه و نه ویل او بیرته کښېناسته، له دې سره سم د ټولو ښځو ناوي ته پام شو، ناوي ته دومره درد ورغلی چې نژدې ده شال وغورځوي او کوڅې ته منډه کړي.

ملا اذان مهال نابېره د ناوي له خونې څخه چیغې راووتې: ((بې شرمه ته څوک یې چې زما خونې ته راغلې ها؟ مورې! لالا! هلئ راشئ زما خونې ته پردی هلک راغلی دی، هلئ ژر راشئ! دا هلک څوک دی؟)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې د ناوي مور، خوابنې، اینګې ګاني او د زوم خویندې په وارخطایی او منډه د ناوي خونې ته ورغلې، ویل څه خبره ده؟ ناوي په بنده بنده ژبه وویل: (( یو ساعت دمخه (دی) تشناب ته ننووت، نه پوهېږم چې څه شو او چېرې ولاړ، خو څه وخت وروسته دغه هلک د تشناب له لارې خونې ته راغی.
له دې خبرې سره سم ناوي په زوره زوره ژړا پیل کړه، خو خوابنې یې سر په غېږ کې ونیو او په مهربانه لهجه یې ورته وویل: لورې قربان دې شم، سترګې دې له خوبه دي، د شپې کار دی، سم به دې نه وي ورته پام شوي، بل هلک نشته، دغه ستا مېړه دی، ته ښه ورته وګوره، دغه هلک فرید دی، زما زوی او ستا مېړه.
په دې وخت کې د ناوي مور له خولې لاس واخیست او په زوره یې چیغې کړې: تاسې هم ځانو ته پښتانه وایاست؟ تاسې غیرت لرئ؟ تاسې هیڅ نه شرمېږئ؟ د واده په شپه مو یو هلک زما له لور سره یو ځای کړ، اوس مو بیا بل هلک راوست؟ بې شرمي هم خپل حد لري، وایي پک مې لیدلی و، نو نه داسې پک چې د سر ماغزه یې معلومېږي. تاسې پر مور د دومره ناپوهانو ګومان کړی و چې په دې هم نه پوهېږو؟ تاسې ورته وګورئ د دې هلک کوم ځای د فرید دی ها؟ فرید داسې تورمخی و؟ د فرید څنګه ښه ګڼ طلایي وېښتان ول، تاسې ده ته وګورئ! دا خو تر څټه پورې په سر پک دی، د فرید څنګه ښایستې شنې سترګې وې، خو د ده سترګې لکه د پیشي تکې ژیړې دي.
فرید مړې سترګې ولاړ و او هیڅ یې نه ویل، لکه پولیسو چې لس منه تاریاک ورسره نیولي او اوس یې خبریالانو ته ورښکاره کوي یا هغه د چا خبره لکه پر لندو چې یې نیولی وي.
ناوي مخ په شال پټ کړی او د خونې په کونج کې ولاړه او سلګۍ یې وهلې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوم مور غوښتل چې د خپل زوی سپیناوی وکړي، خو د ناوي مور اجازه ور نه کړه، د زوم پر خوا یې ورمنډه کړه او هغه یې تر ګرېوان کلک ونیو، ویل تورمخې راته ووایه، ته څوک یې ها؟ فرید څه شو؟ شیطانه ژر راته ووایه تاسې څه نقشه درلوده؟
فرید لومړی خپلې مور ته وکتل او بیا یې په بنده بنده ژبه وویل: زه رشتیا وایم، قسم په خدای که بله هیڅ خبره وي، زه فرید یم، هغه فرید چې تاسې یې عکس لیدلی و او پر آئینه مصحف مو هم ولیدم.
په دې وخت کې د ناوي خور له بکس څخه د فرید عکس راوایست، ویل دا دی د فرید عکس، ستاسې دې په خدای قسم وي چې رشتیا دا فرید دی؟ تاسې اول عکس او بیا دې تورمخي ته وګورئ! د ناوي مور چې عکس ته وکتل، نو لکه د سپي پر لکۍ چې پښه ورکښېږدې نور هم درد ورغی، په زوره یې چیغې کړې، ویل تورمخې ژر راته ووایه، دا عکس د چا دی؟
- زما دی
- ته خو خپله ناپوه او شین خر یې، لکه چې پر مور دې هم د ناپوهانو ګومان کړی دی، ستا او د دې عکس تر منځ دومره فرق دی لکه ځمکه او اسمان، رشتیا راته ووایه څه خبره ده؟
- قسم په خدای که درواغ درته وایم، دغه عکس زما دی، خو ...
- خو څه شی؟
- دا عکس مې په فوټو شاپ کې جوړ کړی و
- څه شی! فوټوشاپ؟ فوټوشاپ یې بیا څه بلا ده؟ شاپ خو مور د قبضیت پر وخت کوچنیانو ته ورکوو.
په دې وخت کې د ناوي ځوانکی ورور هم راورسېد او د مور په خوله کې ور ولوېد، ویل فوټوشاپ د کمپیوټر یو پروګرام دی چې عکسونه ډېر ښایسته پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېږي، بيخي له هلک څخه نجلۍ جوړوي.
په دې وخت کې د ناوي مور غاښونه سره وچيچل او زوم ته يې وويل: ښه دا خو به درسره ومنم چې د عکس پر وخت يې تا ته (شاپ) درکړی و، قبضيت دي مات شوی او ښايسته معلومېدې، اوس دا راته ووايه چې د آئينه مصحف پر وخت دې په ځان څه جادو کړی و چې داسې ښايسته ايسېدې ها؟
زوم په بنده بنده ژبه وويل: هغه مې سينګار کړی و؟ د ناوي مور په خوله کې ورولوېده: څه شی! سينګار؟ هلکان هم سينګار کوي؟ داسې سينګار چې تر ناويانو هم ښايسته ښکاره شي؟ درواغجنه درواغ مه راته وايه، سمه خبره وکړه. که سينګار دي کړی وای، نو په دې يوه شپه څه بلا ووهلې چې تور دېب (ديو) درڅخه جوړ شو؟ تا په هينداره کې يو وار ځان ته کتلي دي که نه؟ بيخي سړی درڅخه وېرېږي.
فريد په داسې حال کې چې کښته يې کتل په ټيټ اواز وويل: زه تشناب ته ولاړم او ولمبېدم، هغه و چې له لمبېدو سره سم مې سينګار پاک شو، کله چې له تشناب څخه راووتم، نو ناوي نه پېژندلم، دې چې ويل دا بل هلک دی.
په دې وخت کې ناوي له سر څخه شال ايسته کړ او په منډه له خونې څخه ووته، له دې سره سم ټولو په يوه خوله نارې کړې: هلئ ناوې لېونۍ شوه، راګرځوئ يې! په دې ډول واده په وير ولړل شو.
کليواله ناوې او پلارګنۍ يې تر دې مهاله نه د فوټوشاپ سافټ وېر پېژانده او نه په دې خبر ول چې اوس په ښارونو کې زوم هم د ناوي په شان سينګار کوي. پخوا به ناوې ماښام شاپېرۍ غوندې ښکلې ښکارېده، خو سبا سهار به روې (شيشکه) څنې جوړه شوه، خو اوس د جنسيتي مساوات قانون په پام کې نيولو سره زوم ته هم د تقلب او درغليو موقع برابره شوه، ماښام ګلالی شاهزاده غوندې ښکاري، خو سبا سهار تور ديو څنې جوړ شوی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الوتونکی اوبن

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن په کابل ښار کې یو شمېر مدني فعالانو او سیاسي څېرو د تابعیت تذکرو په اړه احتجاجي مظاهره وکړه. دوی له ځانو سره په لیکلې بڼه د (زه نر او که ښځه یمه؟) شعارونه په لاسونو کې نیولې ول.

د مظاهرې یوې ګډونوالې بوډۍ ښځې چې خلکو د ډېر توروالي له امله (لونګینه) بلله، په زوره چیغه کړه: زه لکه شیدې تکه سپینه یمه، خو دوی په تذکره کې غنم رنګه لیکلې یمه. یوه شین سترګي هلک چې خلکو د شنو سترګو له امله (شینکوړی) باله وویل: زما سترګې شنې دي، خو دوی زما په تذکره کې د سترګو رنګ (میشي) لیکلې دی. میش یاني مېږه، ایا زه د انسان او که د مېږې زوی یم؟ یو بل دنګ ځوان چې خلکو د جګوالي له امله (جګلاښو) باله نارې وهلې چې زه د افغانستان تر ټولو جګ سړی یم، خو د احصائیې میرزایانو په تذکره کې زما ونه میانه لیکلې ده.

یوه ښځه چې خلکو د پنډوالي له امله (شلنډه) بلله او تازه یې په سینګارتون کې خپلې وروځې لکه تار داسې نرۍ کړي وې، په ژېړه غوني اواز وویل: دوی دي خدای په غضب اخته کړي زما وروځې یې پلنې لیکلي دي، تاسې ما ته وګورئ زه څومره ښې نرۍ وروځې لرمه.

د مظاهره چیانو په ډله کې څو تنو بانجڼي رنګه کالي اغوستي او نارې یې وهلې چې موږ همجنس بازان یو، باید په تذکره کې زموږ هویت هم ولیکل شي. د بانجڼي رنګه ځوانانو په ډله کې د (استاد تور خان) په نوم یوه ناځوانه سړي خپله تذکره په لاس کې کرځوله او نارې یې وهلې چې زه افغان نه یم، خو دوی زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تذکره کې ( افغان) لیکلی دی.
یو بل ځوان چې ځیري ځیري کاوبای پتلون یې اغوستی او داسې ښکارېده لکه سپیانو چې داړلی وي، په انګلسي ژبه وویل: زما مور انګرېزه او مورنۍ ژبه مې انګلیسي ده، خو میرزایانو زما په تذکره کې زما مورنۍ ژبه پښتو لیکلې ده.
د (پنډ سردار) په نوم یوه چاغ سړي چې لکه مست اوښ تر خوله ځګونه بادوله خپل ټټر ته اشاره وکړه او په قهر یې وویل: زه په قبیله (خړزی یم)، خو بې سواده میرزایانو زما په تذکره کې (خرزی) لیکلی دی.
ده پر حکومت تور ولګاوه چې د احصائیې مامورین بې سواده او یوازې په یوه ژبه خبرې کولای شي، ده وړاندیز وکړ چې باید د دې ریاست مامورین په پښتو او دري ژبو هم خبرې او هم لیکل وکولای شي، که دې ټکي ته پام و نه شي، نو زما په شان به ډېر د سړي زامن د خره زامن یاني د (خرزي) په نوم ثبت کړل شي.
له بلې خوا د نرښځیانو د اتحادیې مشر (سپینې پانتا) په دې اړه پر خپله فیسبوک پاڼه لیکلي چې د تابعیت په تذکره کې د دریم جنس یاني نرښځي لپاره ځای نشته چې دا کار ښکاره جنسي تبعیض دی، په داسې حال کې چې په افغانستان کې زرګونه داسې افغانان ژوند کوي چې نه نر او نه ښځې دي. سپینې پانتا د نرښځیانو یوه عمده نښه هم یاده کړې او داسې یې لیکلي دي: ((هغه ځوک چې هم یې د حکومت مهم پوستونه اشغال کړي او هم په ورته وخت کې د اپوزیشن نارې وهي شترمرغان دي، ځکه چې دا مرغه د بار پر وخت ځان مرغه او الوتلو پر وخت اوښ بولي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپیني پانتا د دې پوستې په اړه یو چا په کمنټ کې لیکلي چې ته د فیل په غوږ کې ویده یې، بې سواده ته دومره هم نه یې خبر چې اوس اوښ هم الوزي، که نه الوتلای، نو د افغانستان تاریاک څنګه تر امریکا او اروپا پورې رسېږي، دا اوښان د ایران، ترکمنستان او ازبکستان تر پولې پورې پر پښو ځي او تر هغه وروسته الوزي.

د (ایکس) په نوم یوې تحقیقاتي ادارې په خپل ویب سایټ کې لیکلي چې دوی د پنځه لکه تذکرو معلومات څېړلي او ورته ثابته شوې چې په دې تذکرو کې د ټولو افغاني اتباعو مشخصات یو ډول لیکل شوي دي.

د مدني فعالانو د اعتراض په ځواب کې د مرکزي احصائیې ویاند (کُهنه پیخ خان) ډنډوره راډیو ته وویل: څرنګه چې د افغانستان د اساسي قانون له مخې ټول اتباع برابر حقوق لري، نو په دې اساس مو د ټولو افغانانو په تذکرو کې سترګې میشي، ونه میانه، پوستکی غنم رنګه، وروځې پلنې او جنس نارینه او یا ښځینه لیکلی دی.

کهنه پیخ خان په دې اړه خلک هم په تمبلۍ ګرم وبلل او زیاته یې کړه چې خلک خپلو اولادونو ته په ماشومتوب کې تذکرې نه ورجوړوي. کله چې د نارینه عمر تر شپېتو کالو واوړي، نو لمسی یې را په شا کړي او زموږ دفتر ته یې راولي، وایي د حج لپاره تذکرې ته اړتیا لرو. د دغسې بوډاګانو سرونه تر څټه پورې رژېدلي، پر ملاکړوپ شوي، د پوستکي رنګونه یې بدل شوي، وروځې یې ببرې شوي او سترګې خو یې بیخي کار نه کوي، سړی نه پوهېږي چې کوم رنګ ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولیکي.

بل ځوان بیا خپله اویا کلنه بوډۍ انا را په شا کړې او وایي چې له دې املـه تذکره ورته جوړوو چې د علاج لپاره یې هندوستان ته بیایو. دې ډول ښځو خپل د وړیو غوندې سپین ویښتان طلایي رنګ کړي او وروځې یې د ناوي په شان نرۍ جوړې کړي وي، که څه هم په اصل کي به توره توتکۍ غوندي وي، خو دې به په مخ پورې دومره پوډر وهلي وي چې سپینه کوتره به ښکاري. همدا دلیل دی چې د دوی د عمر تشخیص هم ګران کار دی، په دې صورت کې مور مجبور یو چې د دوی عمر ته ولیکو ((به رویت چهره ظاهری سن مذکور بیست ساله تعین ګردید)).

د نرښځي په اړه کهنه پیخ خان وویل چې په نویو تذکرو کې به هغو خلکو ته ( خنثی مشکل ) ولیکي چې له یوې خوا د حکومت لوړپوړي چارواکي او په ورته وخت کې یې د اپوزیشن په نوم ډلې ټپلې هم جوړې کړي وي. کهنه پیخ خان د افغان کلمې په اړه وویل: هغه څوک چې په افغانستان کې اوسېږي، خو ځان افغان نه بولي په تذکره کي به یې د ملیت پر ځای (مهاجر مرغه) لیکل کېږي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت یوه چارواکي د نوم نه ښوولو په شرط (ډنډوره) راډیو ته وویل چې حکومت له غلو، تراهګرو او قاچاق کوونکو سره لاس یوځای کړی او له هغوی څخه یې د الیکټرونیکي تذکرو د نه ویشلو په بدل کې ملیاردونه ډالر رشوت اخیستی دی.

دی وایي که چېرې په تذکرو کې د خلکو پېژندګلوي په دقیق او واقعي ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وليکل شي بيا هيڅ يو مجرم له قانون څخه نه شي پټېداى.

بلي خوا ته د کورنيو چارو وزير (سرپرې کړى مجاهد) دا خبره ردوي او زياتوي چې دوى پلان لري د نړۍ له گوټ گوټ څخه د خوبونو د تعبير ستر علما راټول کړي چې په افغانستان کې د اليکټرونيکي تذکرو خوب تعبير کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زيروري او بريتوري مجسمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د کلي څنگ ته يو کنډواله کلی دی چې خلک يې (د تراهگرو کلی) بولي.
مشران وايي چې په دې کلي کې پخوا دوې قبيلې اوسېدې چې يوې قبيلې اوږدې او ببرېږيرې او بلې قبيلې بيا لوی برېتونه درلودل، خو په دې دوو قبيلو کې يوې يې له ږيرو او بلې يې له برېتو سره حساسيت درلود، هغه و چې د دې حساسيت له مخې د دوی تر منځ شخړه جوړه او وروسته په لويه دښمنۍ واوښته.
په دې دښمنۍ کې نه يوازې دا چې دوی يو د بل وينې توی کړې، بلکې ډېر عام خلک يې هم ووژل.
يوه ورځ چې کليوال سهار له خوبه راکښېناستل، نو گوري چې د پورې غره په لمنه کې د ږيرو او برېتو لوی لوی څلي ولاړ دي. له ليري څخه د څلو غوندې ښکارېدل، خو له نژدې څخه د غرونو د څوکو غوندې جگ او تېره ول، يوې خوا ته شنه او بلې خوا ته سره څلي ولاړ ول، عجيبه دا وه چې شنو څلو د ږيرو او سرو څلو د برېتو شکل درلود، سم لکه لويې ږيرې او برېتونه چې قطار ولاړ وي.
د دې څلو شاته لويې لويې بلاگانې پټې وې، دوی به په کال کې يو وار پر ټاکلې نېټه پر کلي بريد کاوه. د ثور د مياشتې پر اوومه نېټه به د برېتو له شا څخه بلاوي راووتلې، په کلي کې چې به هر چا برېتونه نه درلودل هغه به يې واژه، د کورونو تر څنگ به يې مسجد او په مسجد کې قران شريفونو ته هم اور وراچاوه.
يوه ورځ وروسته، يانې د ثور پر اتمه نېټه به د ږيرو له شا څخه بلاوي راووتلې او د کلي په ويجاړولو به يې پيل وکړ، وروسته به يې د کورونو دروازې، کړکۍ او کورونو د چت لرگي هم وخوړل، د دې تر څنگ به يې ښايسته هلکان او نجونې هم له ځانو سره يووړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې بریدونو څو کاله دوام وکړ، کوم خلک چې په دې بریدونو کې ژوندي پاته شول ګاونډیو کلیو ته وتښتېدل او هلته یې په ډېرې بېوزلۍ کې ژوند کاوه.
څو کاله وروسته له لمرلوېده خوا څخه شنه وریځ راښکاره او د برېتورو څلو پر سر ودرېده، ورسره سم تېز باران شروع شو. مشرانو ویل چې دا باران (سوسیال) نومېږي. له دې باران سره سم سره څلي ویلي او یومخ اوبه شول، د کلي ویالې له برېتو ډکې شوې.
کله چې باران ودرېد، نو د برېتورو څلو شاته پټ شوي خلک راووتل، دا هغه خلک ول چې پخوا په وحشي بلاګانو اوښتي، خو اوس بیرته انسانان ځني جوړ شوي ول، دوی ټول زموږ خپل کلیوال ول، څوک د کلیوالو ورور، پلار او یا زوی و، دوی اوس عادي خلک ول، خو بس یوازې یې برېتونه نه درلودل.
څو کاله وروسته یوه توره وریځ راغله او دا وار د ږیرورو څلو پر سر تېز باران شروع شو، مشرانو ویل چې دا باران ډیموکراسي نومېدله، دې باران شنه څلي ویلي او اوبه کړل، په څو شېبو کې د کلي لښتي له ږیرو ډک شول، ځینې ږیرې دومره اوږدې او ببرې وې چې د اوبو لښتي یې بندي کړل، د ږیرو سیلاب پر کورونو ور واوښت او د کلي څو کورونه یې له بېخه وایستل.
څو ساعته وروسته له ږیرورو څلو شاته پټ شوي خلک راووتل، دوی هم بیرته په عادي خلکو اوښتي ول، بس یوازې یې ږیرې نه درلودې.
څو ورځې وروسته یوه ډله خلک پر آسونو سپاره کلي ته راغلل، خلکو ویل چې دا د لویې کورنۍ پیران دي او د ږیرو او برېتو تر منځ روغه کوي. د کلي تر څنګ زیارت کې جرګه جوړه شوه، دواړو ډلو جرګې ته واک ورکړ، پیرانو وویل چې باید دواړې ډلې تر خپل منځ پرتوګونه سره بدل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړو ډلو د جرګې پرېکړه ومنله، په څو شېبو کې سور کالیو شنه او شین کالیو سره پرتوګونه واغوستل، د یوې ډلې پرتوګ شین او کمیس یې سور و، د بلې ډلې بیا پرتوګ سور او کمیس یې شین و.

دوی اوس ډېر نرم شوي ول، د پرتوګاښونو پر ځای یې پرتګونو ته کشک وراچولی و، آن دا چې د ځینو خو به عورت هم ښکاره و، خو دوی به بده نه ګڼله، د جرګې په پای کې دواړو ډلو یو بل ته غېږې سره ورکړې او په دې ډول یې د کلونو کلونو دښمني په دوستي واوښته.

په همدې ورځ یې د کلي تر څنګ د (فقیر آباد) په نوم بل نوی کلی جوړ کړ، خو د دوی د پلرونو او نیکونو اصلي کلی کنډواله پاته شو او اوس یې خلک (د تراهګرو کلی) بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سياسي روغتون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکټر د کوټې مخ ته مې غالمغال تر غوږ شو. یوه سیاسي رهبر ویل د ډاکټر کوټه دغه ده، بل یوه ویل نه هغه بله کوټه ده. ګورم چې یو رهبر یوې خوا ته او بل یې بلې خوا ته زورونه وهي، یو رهبر بوډا او بل یې پوخ سړی دی، یوه یې وطني کالي اغوستي او بل ډېره فېشني دریشي اغوستې ده.

کله چې ښه ورته ځیر شوم، نو ګورم چې د دوی د ملا تیر یو، خو سرونه، پښې او لاسونه یې سره جلا دي. په دې وخت کې سپین ږیري رهبر په زوره چیغه کړه او بل رهبر یې په ځان پسې کش کړ، په همدې کشولو کې د ډاکټر کوټې ته ورسېدل.

د ناروغ پایوازانو ډاکټر ته د معایناتو راپور ور وړاندې کړ. ډاکټر ټول معاینات په ځیر سره وکتل او بیا یې وویل: دا ناروغي جان بې ادبي معاف (جان کیري) نومېږي او علاج یې له امریکا پرته بل ځای امکان نه لري، موږ یې هم علاج کولای شو، خو د جوړېدو چانس یې خورا کم دی. علاج یې دا دی چې باید دوی پنځه کاله نور هم یو ځای سره پاته شي، په دې ډول به یې د ملا تیر وروست شي او خپله به سره جلا شي، خو دا خطر ورسره تړلی دی چې دواړه مشران فلج شي.

د دې خبرې په اورېدو دواړو رهبرانو په خندا وویل: بس همدا علاج مو قبول دی، خو په امریکایانو علاج نه کوو، ځکه له دوی راپېښه ده. ډاکټر زیاته کړه: که دا ډول علاج مو خوښ وي، نو پرهېز به هم کوئ، هغه دا چې د روغې جوړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او موقت حکومت په اړه به هیڅ ډول خبرې نه اورئ، ځکه چې ناروغي مو نوره هم پیچلې کېږي او بیا یې په امریکا کې هم علاج نه شي کېدای.

یوه شېبه وروسته یې یو بل رهبر په کټ کې د ډاکټر کوټې ته راوړ. رهبر ډېر بوډا او سترګې یې چونګښنې ته ورته وې. یو بل بوډا سړی هم ورسره ملګری و چې تر ناروغ ډېر بوډا و. ډاکټر وویل: وروركیه دا دي زوی دی؟ پایواز بوډا په خندا وویل: نه صاحب دا مې پلار دی، ډېر مبارک انسان دی، څو واره مړ شوی دی، خو د خدای فضل دی بیرته راژوندی شي. پخوا یې صحت ډېر ښه و، بس کله چې ټرمپ له افغانستان څخه د خپلو عسکرو د ایستلو اعلان وکړ، د ده عقل کار پرېښود او ژبه یې هم ګونګۍ شوه.

ډاکټر څو شېبې چورت یووړ، خو ناڅاپه موسکی شو، ویل بس پوه شوم، دا ناروغي (BSA) نومېږي، مستقیما د انسان پر عقلي او عصبي سیستم برید کوي او په نتیجه کې یې د ناروغ په مغز کې یو چینجی پیدا کېږي.

(BSA) په حقیقت کې حیواني ناروغي ده، په تېره بیا په غواوو کې ډېره پیدا کېږي، خو اتلس کاله کېږي چې انسانانو ته یې هم سرایت کړی دی. علاج یې ډېر اسانه دی، جراحي عملیاتو او درملو ته اړتیا نشته، په استراحت او پرهېز یې علاج کېدای شي.

باید ناروغ تر دې وروسته له هیڅ یوه بهرني سفیر سره و نه ویني، باید څوک د امریکایي عسکرو په اړه بحث ورسره و نه کړي، باید د ده په مخکې د غوا نوم هم یاد نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل دا چې ناروغ به د نصرت فتح علي خان، لتا منګيشکر او استاد سرآهنګ سندرې نه اوري، ځکه چې په دې ډول يې په مغز کې په خواره خوب ويده چينجی له خوبه راويښېږي او نڅا پيل کوي. بله مهمه خبره دا ده چې د ښکلو نجونو اکروباټيک حرکات خو به ګرسره نهويني.

څو شيبې وروسته د ډاکټر د کوټې دروازه په درز خلاصه شوه، د ډاکټر تر خوله بې واره ووتل: خدايه فضل وکړې! يو ناروغ رهبر له اجازې پرته د ډاکټر کوټې ته راننووت. غوښتل يې څه ووايي، خو يوه پايواز يې خبره ونيوله: ډاکټر صاحب دا ناروغ څلوېښت کاله کېږي چې د ګوند مشر دی.

ناروغي يې دا ده چې کله په اجرائيه شورا کې څوک د ګوندي انتخاباتو نوم ياد کړي، نو دی وار ورباندې کوي او وايي چې زه مهدي اخر زمان يم، د هيچا خبرو ته غوږ نه نيسي، په ټول ګوند کې بس يوازې د خپلو زامنو او زومانو خبره مني.

له دې سره سم يې د الټراساونډ او معايناتو راپور د ډاکټر پر مېز کښېښود.

ډاکټر د الټراساونډ راپور وکوت او بيا يې په ډار وويل: د مشر په نس کې يو لوی چينجی پيدا شوی او د ده په معده او کولمو کې يې زرګونه هګۍ اچولي دي. هره هګۍ چې بچی شي، نو دا چينجی يې سمدلاسه خوري، بس همدا يې خوراک دی، ځکه خو دومره لوی شوی دی.

دا ناروغي (GHQ) نومېږي او په دالو کې پيدا کېږي. علاج يې هيڅ امکان نه لري، که جراحي عمليات يې وکړو او له خېټې څخه يې چينجی راوباسو، نو په خېټه کې يې هره هګۍ په خپل نوبت بچی کېږي او دې ته ورته بل چينجی ځنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړېږي، خو موقت علاج يې کېداى شي، هغه دا دى چې د يوې مياشتې لپاره به دال نه خوري، په دې ډول به چينجى د يوې مياشتې لپاره بې سده شي، تاسې بايد په يوه مياشت کې ګوندي کنګره راوغواړئ او د ګوند لپاره بل مشر وټاکئ!
پايوازان د ډاکټر په خبرو ډېر خوشاله شول، خو ډاکټر پسې زياته کړه: دا علاج پرهېز هم لري، هغه دا چې ناروغ به له خپلو زامنو او زومانو سره نه ويني او هيڅ ډول پاکستاني خواړه به هم نه خوري.
له دې خبرې سره سم رهبر له علاج څخه انکار وکړ، خو پايوازانو د خبرو نوبت ور نه کړ، تر اوږو يې ونيو او په کشولو کشولو يې د ډاکټر له کوټې څخه وايست.
څو شېبې وروسته څو نفرو يوه بوډۍ سياستواله تر اوږو نيولې راوستله. جالبه دا وه چې د خاصرې له لګن سره يې چوکۍ کلکه نښتې وه. پايوازانو وويل چې اتلس کاله کېږي دا چوکۍ کلکه ورپورې نښتې ده، مشره لومړى څه ښه وه ځوانه وه، خو اوس چې بوډۍ شوې، نو دا چوکۍ له ځانه سره نه شي وړاى.
ډاکټر وويل چې دا ناروغي (تعصب) نومېږي، په پاکستان کې ډېره ده، په تېره بيا پوځي جنرالان اکثره په دې ناروغۍ ککړ دي، کېداى شي چې دې ته هم له کوم جنرال څخه د جنسي اړيکو له لارې ورغلې وي، دا ناروغي لکه ايډز هيڅ علاج نه لري، ځکه چې چوکۍ هم په هډوکو بدله شوې ده، که جراحي عمليات يې کوو او چوکۍ ځنې جلا کوو، نو نورو هډوکو ته يې زيان رسېږي، وينه ځنې بهېږي او مړه کېږي، بس يوازې دومره مرسته ورسره کولاى شو چې تر څو ژوندۍ وي لږ به ارامه وي، بايد په پرله پسې ډول ورته وويل شي چې ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان کې د بشري حقونو اتله يې، ستا له برکته په ټول افغانستان کې تعصب ختم شوی دی، ته د افغانستان نيلسن منډيلا يې، خو سپينه منډيلا.

دا هم ورته وواياست چې له طالبانو سره د سولې خبرې ناکامه شوي دي، هغوی به په زور ځپل کېږي، بايد په مياشت کې يې يو ځل په مشهد کې د پاکستان د يوه پخواني جنرال زيارت ته هم ورولېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ولسمشر مډال که د آله دين څراغ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو چا کيسه راته کوله، ويل څو کاله مخکې ولسمشر په ارگ کې مډال راکړ، خو زه يې هغه مهال په ارزښت نه پوهېدم، ما ويل دا مډال نو څه په درد خوري؟ بچيانو ته به مې ډوډۍ ورکړي، کور به راکړي او که به مې د ناروغي مېرمنې علاج وکړي؟ خو خبر نه وم چې دا مډال نه، بلکې سم د آله دين څراغ دی او هره ستونزه مې حل کولای شي.

په سبا مې له راډيو څخه واورېدل چې (گلخان) دننگرهار والي وټاکل شو. په پاکستان کې د مهاجرت وختونه مې سترگو ته ودرېدل چې د ځينو موټرو پر شا به ليکل ول: (( هم کيسي سي کم نهي)). ما ويل چې گلخان ته ولايت ورکول کېږي زه خو بيخي د وزارت وړ يم، په دې وخت کې مې د ولسمشر دا شعار راياد شو: (( زه تاسې ته ډاډ درکوم چې د ارگ په دېوالو کې به نه محاصره کېږم او تل به ستاسې سره يم)).

بس لکه ملا صاحب چې مجردو زلميانو ته د جنت د حورو وعدې ورکوي پر وچو شونډو مې ژبه تېره کړه او خولې مې اوبه وکړې، سمدلاسه ولاړ شوم او مډال مې راواخيست، د ولسمشر پورتنی شعار مې درې واره ووايه او بيا مې پر مډال لاس تېر کړ، مډال رښتيا هم چې د آله دين څراغ و، له مډال څخه يوه لويه او جگه ماڼۍ جوړه شوه، په ماڼۍ کې د ننه يو ډاروونکی کيغ کيغ واورېدل شو، گورم چې يوه دومره لويه تکه توره بيزو ځنې راووته لکه اوښ.

د بيزو په ليدو مې د غړو شيمه وخته او پښې مې مړې شوې، هرڅومره هڅه چې مې وکړه منډه مې نه شوای وهلای، بيزو راته وخندل، داړې يې سپينې کړې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته ويې ويل: ډاريږه مه، زه د ولسمشر ځانګړې استازې او له خپلې ټولې کورنۍ سره په ارګ کې اوسيږم، زه ستا په خدمت کې يم، هره غوښتنه چې لرې زه يې ولسمشر ته رسولای او په هغه يې منلای شم.
په بنده بنده ژبه مې ورته وويل: زه غواړم چې په يوه وزارت کې معين مقرر شم.
بې لکۍ بيزو په خندا وويل چې دا کار خو بيخي اسانه دی، همدا اوس يې کوم، له دې سره سم پر دوو پښو ځولۍ ځولۍ روانه شوه او په مډال ننوته.
يوه شيبه وروسته يې د ولسمشر فرمان راوړ، ويل مبارک دي شه د شهيدانو او معلولينو چارو معين وټاکل شوې. په سبا د معينيت مامورينو ته وروپيژندل شوم او په رسمي ډول مې کار پيل کړ.
تر کار وروسته د کور انديښنو په مخه کړم، خو ژر مې په زړه کې راوګرځېده چې هيڅ انديښنه مه کوه، د آله دين څراغ خو درسره دی، هره ستونزه دې ځای پر ځای حل کوي، هغه و چې بيا مې پر مډال لاس تېر کړ، دا وار مې د مډال له دننه څخه سيو سيو واوريد، ګورم چې له مډال څخه لکه فيل دومره لوی موږک راووت، خو دې موږک بريتونه نه درلودل او په انګريزي يې خبرې کولې.
دا وار بيا زما څخه ژرنده او مسجد ورک شول، پښې مې مړې شوې، منډه مې نه شوای وهلای، موږک ويل ډاريږه مه، زه دې په خدمت کې يم، وايه څه غواړې؟
- کور غواړم
- چېرې يې غواړې؟
- د کابل په ښار کې يې غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما له ارګ څخه هرې دولتي ادارې او هرې سیمې ته نغمونه (تونلونه) ایستلي دي، ته یې یوازې نوم یاد کړه چې زه هلته کور درکړم
- که ارګ ته نژدې وي ښه به وي.

موږک سیو سیو شروع کړ او په منډه بیرته په مډال ننووت. یوه شیبه وروسته بیرته راووت، ویل مبارک دي شه، نیکمرغه سړی یې چې د کور کار دې لکه د مېرمن شربت ګلي داسې ژر خلاص شو، ها واخله دا یې د کور قباله او دا دې هم د کور کیلي.

لومړی مې فکر کاوه چې دا به یو فقیرانه کور وي، خو کله چې کور ته ورکډه شوم، ګورم چې یوه ډېره لویه او ښکلې ماڼۍ ده. څرنګه چې دا ماڼۍ سپېدار ماڼۍ ته ډېره نژدې وه، نو ما فکر کاوه چې د دې ماڼۍ نوم به هم شاعرانه وي، مثلا انار ماڼۍ او یا بهار ماڼۍ، خو د دې ماڼۍ نوم (اچار ماڼۍ) وه. له ځانه سره مې وویل: خیر نوم یې پروا نه لري، متل دی وایي: د ښایستې ښځې یو عیب نه عیب دی.

په دې وخت کې مې د ناروغې مېرمنې زګېروی تر غوږو شو، اوس نو د آله دین څراغ راسره و، هره ستونزه چې به راته پیدا شوه، نو پر مډال به مې لاس تېر کړ او هغه ستونزه به سمدلاسه حل شوه.

څرنګه چې د مېرمنې د علاج لپاره مې پیسې نه درلودې، نو بیا مې پر مډال لاس تېر کړ، دا وار د مډال له دننه څخه د اسونو شیشنی (شنهار) او ډاروونکي اوازونه واورېدل شول، ګورم چې له مډال څخه یو لوی لښکر راووت، دا عجیبه عسکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ول، یوازې سر او اوږې یې درلودې، نور نه ښکارېدل، ټولو ږیرې او برېتونه خریلي او اوږدې څڼې یې پرې ایښې وې. عسکر له راوتوسره سم له اسونو څخه راکښته او اسونه په منډه بیرته مډال ته ورننوتل. عسکرو څو شېبې یو بل ته سره کتل، که رښتیا ووایم سخت ووېرېدم، نژدې و چې چیغې کړم، خو په دې وخت کې څو منډې عسکرو قرسک سندره شروع کړه او نورو اتڼ ورته شروع کړ.

ما چې اتڼ ته وکتل، نو وېره مې لږ له زړه ووته، خو ګورم چې ناڅاپه ټول عسکر د ډالرو په نوټونو بدل او هرې خوا ته چوپتیا خپره شوه، زه هیښ پاته شوم چې دا څه پېښه شوه، ژر ژر مې څه ډالر راټول او ومې ګڼل، ګورم چې پوره یو لک ډالر دي.

په سبا مې د برېښنا محصول، د اولادونو د پوهنتونونو او کورسونو فیسونه او د پخواني کور د شپږو میاشتو کرایه ورکړه، ما ویل اوس به مې نو مېرمن د علاج لپاره هندوستان ته بوزم.

په دې وخت کې مې د ماشومانو چیغو په غوږو کې ازانګه وکړه، ویل هله بابا راشه په مور څه وشوه؟ ګورم چې نه معینیت، نه اچار ماڼۍ او نه پیسې شته، بس هغه کرایي نمجن کور دی او د ژېړو یو وچ مډال مې په لاس کې دی، ګورم چې د مډال په اړه د ولسمشر په فرمان کې مې د نوم املا هم غلطه ده.

مډال مې همدلته پرېښود او په منډه مېرمنې ته ورغلم، ګورم چې د هغې تر خوله ځکونه راغلي او ماشومانو مې په ژړا کې کالي ورباندې خیرلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېرمنې د جنازې لپاره مې خپلوانو او انډیوالانو ته زنګونه ووهل، خو هغوی هم هر یو زما په شان د حکومتي او سیاسي مشرانو دروا‌غجنو وعدو مسموم کړي او په جواب کې یې راته وویل چې په غونډه کې یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر دې وروسته پر عورت هم مسح کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د هغه کمیسیون غونډه وه چې د ولسمشر د فرمان په اساس له وچکالۍ سره د مبارزې لپاره جوړه شوې او د څو وزارتونو او خپلواکو ریاستونو له استازو څخه تشکیل شوی و.

د غونډې مشر حاجي ډیموکراټ لکه د چا له سر څخه چې شپږې راکاږي د پیپسي پر قطۍ ګوتي په څیر سره تېرولې، ایله چې دوې دقیقې وروسته یې پر کړۍ ګوته برابره شوه، د پیپسي د قطۍ ټس د غونډې ټول برخه وال وویرول.

د پیپسۍ په څښلو سره یې لکه د واورې لېوه تر خوله توښ (بخار) وخوت، وروسته لکه غوا چې رمباړه وکړي یو لوی ټېغ وکیښ او بیا یې د غونډې یوه یوه غړي ته داسې په څیر څیر وکتل لکه د هوس وږی زلمی چې د ښوونځیو او پوهنتون نجونو ته په لاره کې ګوري.

کله چې یې د حج او اوقافو وزارت پر استازي ستر جنرال پنجرمېن لنډي سترکې ولګېدې، نو خوله یې ویړه شوه او په موسکا یې وویل: جنرال صاحب تاسې د وچکالۍ د مخنیوي او اوبو د سپما لپاره څه طرحه لرئ؟

جنرال لنډی چې تر دې مهاله د خپلې خېټې شا ته ناست و، لږ څه راوړاندې شو، څنګ ته ناستې ښځې ته یې د سترګو تر کونجو د مشترې په سترګه وکتل، لکه میلیونر خیرات خور پر شونډو یې ژبه تېره کړه او بیا یې په فاتحانه انداز وویل: زموږ وزارت له جیدو قوماندانانو ، مقاومت سالارانو او مشهورو پنچرمینانو سره ډېرې سلا مشورې وکړې او په نتیجه کې مو یې دا طرحه چمتو کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱: په مسافر پسې پاکي اوبه شيندل حرام کار دی، ځکه چې دا د مجوسيانو رواج دی، خو د تفدانۍ مايعات پروا نه لري، ځکه اکثره ملايان نسوار کوي، له همدې امله يې تفدانۍ ته هم د تقدس زيم وروتلی دی.

۲: په پاکو اوبو باندې استنجا وهل حرام کار دی، ځکه پاکي اوبه پر دبور او فروج باندې شيندل د اوبو ککړول او ضايع کېدل دي، بايد له پاکي لوټې او تشناب کاغذ څخه کار واخيستل شي، خو که تشناب کاغذ او پاکه لوټه نه پيدا کېدل، نو د استنجا پر مقاماتو دې مسحه وکړي.

۳: د اهل سنت والجماعت د عقيدې له مخې که په خوب کې د چا باد پرې شو، اودس يې نه ماتېږي، که چا يې اواز واورېد، شاهدي يې د منلو وړ نه ده، ځکه چې شاهدي د ليدلو وړ فعل دی او باد په سترګو نه ليدل کېږي.

۴: په افغانستان کې ټول مرګونه او وژنې د کفارو د لاسوهنې نتيجه ده، فلهذا که هر افغان مري او يا وژل کېږي پاک شهيد دی، غسل ته اړتيا نه لري او په خپلو کاليو کې دي دفن کړل شي.

۵: څرنګه چې موټر په اور چلېږي او شيطان هم له اوره پيدا شوی دی، په دې اساس موټر له شيطان سره پوره مشابهت لري، له همدې امله د موټر پرېولل حرام کار دی.

۶: څرنګه چې په احتلام (په خوب کې د شيطان غولولو) کې د انسان اراده نه ده شامله، نو که څوک په خوب کې شيطان خطايست، غسل نه دی ورباندې واجب.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷: څرنګه چې ماشومان د فطري ایمان له پلوه د الله (ج) بې ګناه او معصوم بنده ګان دي، نو د بلوغ تر وخته پورې د هغوی مخونه، پښې او لاسونه پرېولل او یا هغوی لمبول د اوبو اصراف بلل کېږي، خو که د ځینو ماشومانو سنت د پزې بهېدلو له امله ډېر زیږ شو، نو مور او پلار یې د اوبو پر ځای له رېګمال څخه کار اخیستلای شي.

محترم رئیس صاحب! که مو ږ په دې اړه د افغانستان د ټولو مسجدونو ملاامانو ته حکم وکړو چې دا موضوعات په خپلو خطبو او ویناوو کې ځای کړي، خلک یې خامخا مني، په دې ډول به په ورځ کې شل ملیونه متره مکعبه اوبه وسپمول شي.

تر دې وروسته د ښاروالیو معینیت استازي بلند منزل خان شیرچور پکول پر تندي راخوږ کړ، د توتي د مښوکې غوندې کږه پزه یې په خپل برګ دسمال پاکه کړه او په ډډ اواز یې وویل: د ښاروالیو معینیت تر ګڼ شمېر څېړنو وروسته دا طرحه چمتو کړې ده:

۱: افغانان ټول زمریان دي، د زمري مخ چا په ځنګله کې ورپرېولی دی؟ زموږ طرحه دا ده چې تر دې وروسته باید د ښاروالۍ ټول مامورین سهار تر راکښېناستلو وروسته خپل مخ او لاسونه پرې نه مینځي، ما د اوبو سپما لومړی له ځانه پیل کړه، همدا نن سهار مې هم مخ او لاسونه نه دي پرېولي.

۲: الله (ج) وعده کړې ده چې ټولو ژوندیو موجوداتو ته روزي ورکوي او په روزۍ کې اوبه هم راځي، په دې اساس ونې هم ژوندي موجودات بلل کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په پام کې لرو چې تر دې وروسته د ښار ګلانو او ونو ته اوبه ور نه کړو، همدا د باران او واورې اوبه کفایت ورته کوي.
۳: باید د ښار ټول حمامونه وتړل شي، خو د ښځو حمامونه دي پرانیستي پاته وي.
۴: هوټلونه باید خپل ټول لوښي د اوبو پر ځای په بهرنۍ پیپسي او معدني اوبو باندې پرېولي.
۵: هیڅوک حق نه لري چې خپل موټر په اوبو پرېولي، باید په ښارونو کې د موټر پرېوللو ټول ځایونه وتړل شي.
۵: په ښارونو کې دي ټول تشنابونه وتړل شي او باید ټول خلک پمپر وتړي، دا دی ما خپله هم پمپر تړلی دی.
تر دې وروسته د عامې روغتیا وزارت استازي ډاکټر ګلخان بقراط شکن ته د خبرو نوبت راورسېد. ګلخان د حیواني طب شپږ میاشتنی کورس ویلی او اوس تازه د صحي قوانینو د ارزونې رئیس ټاکل شوی و، د ښي لاس خچې (وړه) ګوته یې تر نیمایي پورې په پزه ننه ایسته او بیا یې په لوړ اواز وویل: زموږ د وزارت پلان په دې ډول دی:
۱: عام خلک زموږ د وزارت پر سروې ګانو ژر باور کوي. موږ څو کاله مخکې د چرګانو د والګي اوازه واچوله چې ډېر ژر ټولو خلکو ومنله، هغه وخت د وزیر صاحب د تجارتي شرکت دېرش ملیونه ماسکونه په یوه میاشت کې خرڅ شول، اوس هم په پام کې لرو چې د پوستکي د یوې ناروغۍ اوازه خپره کړو. غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلان وکړو چې افغانستان ته له ګاونډي هیواد څخه یو تراهګر وایرس راغلی دی، دا وایرس د ځان مینځلو پر وخت د انسان په پوستکي پورې نښلي، بیا له دې لارې له وینې سره ګډیږي او انسان په دریو ورځو کې وژني، په دې ډول به خلک وویریږي او ځان به نه مینځي.

۲: د رسنیو له لارې به هم دا پیغامونه خپاره کړو چې د انسان د کالیو په خیرو کې داسې باکټریاوي ژوند کوي چې انسان له هر ډول جلدي ناروغیو څخه ساتي، نو له دې امله باید خلک په میاشت کې یوازې یو وار کالي تبدیل کړي.

۳: دا مهال په افغانستان کې څو لکه ځوانان په هیرویینو معتاد دي، دوی په کال کې یو ځل هم ځانونه نه مینځي، نو موږ باید د دوی درملنه ودروو، ځکه که دوی جوړ شي، نو هره ورځ به څو ملیونه متره مکعبه اوبه مصرف کړي او د اوبو د سپما بهیر به له ځنډ او خنډ سره مخ شي، موږ په پام کې لرو د دوی علاج په داسې ډول وکړو چې تر علاج وروسته بیرته نشو ته مخه کړي. که د ولس ځوانان معتاد وي خیر دی، خو باید دولت له بې آبۍ څخه وژغورل شي.

تر دې وروسته د زراعت او مالدارۍ وزارت نوبت راورسېد. د دې وزارت استازي قوماندان غورک داسې ستونی صاف کړ، تا چې ویل په ستوني کې یې د بیت المال ټراکټور بند دی، تر ډېر (ټر،ټر) او (خور، خور) وروسته یې په نري اواز وویل: رئیس صاحب زموږ کار خو له حیواناتو او نباتاتو سره دی، د انسانانو په کارو چندان نه پوهیږو، خو بیا مو هم دا څو ټکي یاداښت کړي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱: لکه څنګه چې د عامې روغتیا وزارت معین صاحب وویل دا مهال په افغانستان کې څو لکه ځوانان په هیرویینو اخته دي، موږ پلان لرو چې په افغانستان کې د کوکنارو کښت دوه برابره ډېر شي، له دې کار سره به د پوډریانو شمېر هم دوه برابره ډېر شي، په دې ډول به څو لکه نور ځوانان هم په کال کې خپل ځان او کالي نه مینځي او اوبه به وسپمول شي.

۲: دا چې اوښ لږ اوبه څښي، باید تر دې وروسته کوچیانو ته له اوښانو پرته د نورو څارویو ساتلو اجازه ورنه کړل شي.

۳: د راتلونکي مني لپاره دي د نیالیګو پر ځای په ښارونو او پارکونو کې پلاستیکي نیالګي کښېښوول شي.

اوس نو د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د پلان نوبت شو، د دې وزارت په استازیتوب مېرمن زرافه چناره راغلې وه. دې مېرمنې تازه د ډیموکراټیک عدالت په زور له خپل زاړه مېړه څخه طلاق اخیستی او له یوه ښکلي (فولبرایټر) ځوان سره یې واده کړی و، د مخ پخوانۍ ګونځې یې تازه اوتو کړي او خورا جذابه ښکارېده، د غونډې مشر خو د سترګو پر ځای بیخي په خوله ورته کتل.

مېرمن زرافې پوړنی راټول کړ، په دسکول کې یې واچاوه او بیا یې په ډیموکراټیکو کرشمو سره وویل: رئیس صاحب موږ تر ګڼ شمېر څېړنو وروسته دا پلان چمتو کړی دی:

۱: افغانان ځینې اضافي او بې ضرورته کالي اغوندي، لکه سدرۍ، لنګوټه، کورتۍ، چپنه، قره قل خولۍ، پټو او داسې نور چې په پرېمنځلو یې ډېرې اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصرفیږي، موږ په پام کې لرو چې باید تر دې وروسته ټول خلک پتلون او کمیس واغوندي، په دوبي کې خو یې یو نېکر هم بس دی.

**۲:** د ځوانانو چارو معینیت دي د ولور غندلو کمپاین ودروي، ځکه که ولور ټیټ شي، ودونه به هم ورسره ډېر شي او تر واده وروسته خو نو ټول پوهېږو چې ډېرې اوبه مصرفیږي. د افغانستان د اوبو په سلو کې شل اوبه یوازې په غسلونو او اودسونو کې مصرف کیږي، موږ باید په افغانستان کې غسلونه او اودسونه راکم کړو.

**۳:** اوس خو د ډیموکراسی عصر دی، پخوا وختونه تېر شول چې هرې ښځې به وېښتان چوټي کول، کله چې به یې وغوړول او بیا به یې پرېولل، نو دومره اوبه به یې ضایع کړې لکه یوه غالی چې مینځې، موږ به تبلیغ وکړو چې باید ټولې ښځې خپل وېښته لنډ کړي، یو شاعر څه ښه ویلي دي، بیا یې دا بیت په ترنم کې ووایه:

جانانه زلفې مې اوږدې دي، ســبا یــې لنډومه

نور یې وړای نه شمه درنې دي، سبا یې لنډومه

د مېرمن زرافې له دې شعر سره د غونډې تالار چکچکو او شپېلکیو پر سر واخیست، مېرمن زرافې غاړه نوره هم اوږده کړه او زیاته یې کړه: ښځې به وهڅوو چې چادري، لوی کمیسونه او لوی پوړنې لیري کړي، بس یو کمیس او پرتوګ یې بس دی. که چېرې د چاپېریال ساتنې ریاست د هوا د ککړتیا له امله اندېښنه درلوده، باید ټول نارینه او ښځې یو څادر او یو تنګ او ساونډ پروف یانې داسې پتلون واغوندې چې غږ نه ځنې تېرېږي، ها دا دی وګورئ ما خپله هم اغوستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. دا پتلون د غړ ضد دی، پایڅې مې یې کلکې ورتړلي دي، نه اواز څنې تېرېږي او نه بوی، ډېر ښه پتلون دی، په بوش بازار کې مې په سل افغانۍ رانیولی دی.

د غونډې مشر د غوړه مالۍ په ډول داړې جینګې کړې او په خندا یې وویل: آغلي دا خو ډېر ښه پتلون دی، زه هم اکثره وخت په غونډو کې ویده کېږم، خو اندېښنه لرم چې خدای مه کړه شرمنده نه شم. که څه هم باد پرې کېدل اوس په مدني ژوند کې هیڅ عیب نه دی، خو زموږ خلک ډېر زاړه افکار لري، پر دې کوچني او عادي کار هم په خلکو ملنډې وهي، زه هم غواړم چې دغسې یو دانه پتلون رانیسم، بیا یې په لوړ اواز وویل: دوستانو غونډه په رسمي ډول پای ته ورسېده، ما ته اجازه راکړئ چې ځان ته د آغلي زرافې غوندې یو سونډپروف پتلون رانیسم، له دې خبرې سره سم په چټکو ګامونو د تالار د دروازې خواته روان شو.

څو ګامه لا نه و تللی چې په تالار کې یې پر اره، تېشه، څټک او نجارۍ پر نورو وسایلو سترګې ولګېدې، سمدلاسه یې په لوړ اواز وپوښتل: دا شیان چا دلته راوړي دي؟ د کانو او لاسي صنایعو وزارت استازي لاجوردخان پنج ټایري په غرور وویل: صاحب موږ د خبرو نه، بلکي د عمل خلک یو، دا مو نجار او دا یې وسایل. وزیر صاحب راته وویل چې که موږ هر څومره ښه پلان ولرو، خو چې چوکاټ مو نه وي ورته جوړ کړی نړیواله ټولنه یې نه مني، نو ما نجار او وسایل د دې لپاره راوړي دي چې د پلان لپاره یو د لرګي چوکاټ جوړ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې خبرې په اورېدو سره تالار خنداوو پر سر واخیست، خنداوي دومره په زوره وې چې د چا د غوږ پردې یې ورپرې کولې، لکه څو ملیونه خلک چې په یوه لوی دښت کې راټول شوي او په زوره زوره خاندي.

دا د یوه برمته شوي ملت وجدانونه ول چې د زندان له پنجرو څخه یې د ملنډو په ډول د خپلو واکمانو پر حماقت په زوره زوره خندل، خو د غونډې برخه وال لکه غوږونه چې یې کاڼه وي، یوه هم دا خنداوي نه واورېدې او یو په بل پسې له تالاره ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دجال د افغانستان

# ولسمشرۍ ته ځان کاندیدوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (راسا) تحقیقاتي ادارې په تازه راپور کې راغلي چې خردجال (دجال) په مریخ کې لیدل شوی او ډېر ژر به په افغانستان کې راښکاره شي. د دې ادارې تحقیقاتي ډله چې څه موده مخکې مریخ ته د څېړنو لپاره ختلې د خپلو څېړنو په بهیر کې یوه غار ته ورننوتلي، هلته یې (دجال) لیدلی چې له خپل شپېته نفري اجرائیوي شورا سره یې غونډه درلوده.

دې څېړونکو د دجال غونډې ته پټ غوږ نیولی او د غونډې پوره جریان یې ثبت کړی دی.

دجال ویلي چې په ځینو ادیانو کې د ده او ټیم ځانګړتیاوې، امکانات او عامو خلکو د غولولو تاکتیکونه یاد شوي دي، ځکه یې نو د خلکو د غولولو لپاره نوې ستراتیژي جوړه کړې ده.

دجال پلاستیکي سرجري کړې او ځان یې د ښکلي ځوان په ډول جوړ کړی دی، پلاستیکي سترګه یې هم ایښې، تورې عینکې یې پر سترګو کړي او خپله ظاهري څېره یې د روحاني شخصیت په ډول جوړه کړې ده.

په راپور کې راغلي چې دجال خورا پرمختللې ټیکنالوژي هم په واک کې لري، دی به په دومره لویه الوتکه کې ځمکې ته راکښته شي چې پنځوس زره کسه ځایوي او دا الوتکه دومره چټکه ده چې په یوه ثانیه کې زر کیلومیټره واټن وهلای شي. دا الوتکه له اوره جوړه شوې چې نه یې رادار موندلای او نه یې هم هیڅ ډول وسله په نښه کولای شي.

دجال ویلي چې دوی د خپل تبلیغاتي کمپاین ستراتیژي بدله کړې او د دیني کرکټر پر ځای د سیاسي کرکټر په نوم او لباس کې ځمکې ته راکښته کېږي او تر بریالي کېدو وروسته د خدایي دعوه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجال پرېکړه کړې چې ځمکې ته د راکښته کېدو ځای يې افغانستان ټاکلی دی، استدلال يې دا دی چې په اوسنيو شرايطو کې افغانستان د دوی لپاره تر ټولو مناسب ځای دی، ځکه چې خلک له موجوده نظام او اپوزيشن دواړو څخه تنګ شوي او يوې معجزې او نامريي قوت ته سترګې پر لاره دي. دجال مخکې لا افغانستان ته يو تخنيکي ټيم رالېږلی چې د انتخاباتو سيستم په لاس کې واخلي. دجال او ملګرو يې ځانو ته تذکرې او پاسپورټونه جوړ کړي دي.
د راسا په راپور کې د دجال د بريالیتوب تر ټولو ستر راز دا ښودل شوی چې څو زره ټريليونه امريکايي ډالر او پرمختللي وسلې ورسره دي. دوی ځمکې ته د راکښته کېدو لپاره دا وخت ځکه مناسب بللی چې په افغانستان کې د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې درغلۍ اسانه او خلک ورسره عادي شوي دي.
د دجال سياسي مشاور (ډيويډ خېټور) ويلي چې د دوی يو هيئت کابل ته رسېدلی او هلته د بهرنيانو په نوم په پټه د لويو سياسي ګوندونو، سياسي ائتلافونو، سياسي شخصيتونو، قومي او قبيلوي دلالانو او شيطاني مفتيانو سره په خبرو لګيا دی او هدف يې دا دی چې د هر مهم سياسي کرکټر هدفونه او د وجدان بيه ځان ته معلومه کړي.
د دجال ويااند (جورج سوړن) ويلي چې د ولسمشرۍ انتخابات به له سره کېږي او دجال به ځان کانديدوي، خو د کانديد کېدو اعلان به د افغانستان د يوه مشهور روحاني شخصيت تر استخارې وروسته کوي.
د راسا د دې راپور په اړه سياسي تحليلګر (ګنګس ماما) انديښنه لري چې که دجال سياسي مشران په پيسو رانيسي، د پرمختللي ټيکنالوژۍ په مرسته درغلۍ وکړي، په سلو کې سل امکان لري چې انتخابات وګټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي شنونکي له دې امله د دجال د بریالي کېدو چانس ډېر بولي چې هغه د افغانستان په ټولو ژبو باندې رواني خبرې کولای شي او هغه کاندیدان به چیلنج کړي چې د خپل ملت په دوو رسمي ژبو نه پوهېږي.

د دجال لوی درستیز (ستر جنجال میډکاټ بېلر) ویلي چې د انتخاباتو تر ګټلو وروسته به سمدلاسه یو لوی او مجهز پوځ جوړ کړي، خو تر هغو پورې چې دوی د نوي انساني پوځ تشکیلات جوړوي، د پاکستان پوځ به کرایه کوي او پرمختللي وسلې به ورکوي.

له بلې خوا د افغانستان یوه دیني عالم مولانا صراف هم ویلي چې همدا د دجال د راتلو وخت دی، ځکه چې ټولې نښې نښانې یې ښکاره شوي دي.

د افغانستان د انتخاباتو کمیسیون یوه غړي په دې اړه اندېښنه ښودلې او د ولسمشرۍ په انتخاباتو کې د بایومیټریک په سیسټم کې ګډوډي او درغلي یې د دجال کار بللی او خپله اداره د دې پرمختللي ټیکنالوژۍ پر وړاندې کمزورې بولي، خو د دجال په غونډه کې یادونه شوې چې هغوی د انتخاباتو د کمیسون په تخنیکي سیسټم کې مستقیما ګوتې نه دي وهلي، بلکې د هغوی مامورینو ته یې پیسې ورکړي او هغوی په خپله درغلی کړي دي. سیاسي شنونکي باور لري چې په انتخاباتو کې له درغلیو څخه داسې ښکاري چې انتخابات به خامخا دجال ګټي.

د راسا د دې راپور له خپرېدو سره سم ولسمشرۍ ته د کاندید کېدو لپاره د خلکو لېوالتیا ډېره شوې ده. په دې کاندیدانو کې اکثریت یې غواړي چې د پیسو په مقابل کې دجال ته تېر شي او خپلې کولمې غوړې کړي.

په دې ډول کاندیدانو کې ځوک د چرګو او ځوک د پچو غله دي. په دې ډله کې د داسې (احتلامي) کاندیدانو نومونه هم یاد شوي چې د دوو خرو اوربشي نه شي سره بېلولای، خو د ډالرو په ټولولو او غلا کولو کې هر یو مفکر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لوی لالا خر څنګه ورک شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار لا د لمر سترګه د مخامخ غره له شا څخه نه وه راښکاره شوې چې په کوڅه کې زوږ او شور پورته شو. په دې وخت کې لوی لالا کالي تبدیلول چې دا غالمغال یې واورېد، له ډېرې وارخطایۍ څخه یې پام نه شو چې پرتوګ یې چپه اغوستی دی، دوې پښې یې خپلې وې او دوې یې نورې پور کړې او په یوه سا له کوره ووت، ګورې چې د مسجد مخ ته کلیوال راټول شوي او د تور ښادي لاسونه ورښکلوي.

تور ښادي پنځه ویشت کلن ځوان و چې اووه کاله مخکې یې د حاجي اکرم پر خره جنسي تېری کړی و، خو څرنګه چې د دې صحنې شاهد ډېر درواغ ویله، نو دا خبره د کلیوالو زړه ته و نه لوېدله.

تور ښادي له شرمه کلی پرېښود او په کلي کې یې اوازه واچوله چې په لاهور کې د لوی پیر مرید شوی دی. په کال کې به یو وار کلي ته راغی، اوږدې تسبیح به یې په غاړه کې وې او له چا سره به یې خبرې نه کولې، بس یوازې به یې خوله ښوروله، خلکو به ویل چې ذکر کوي.

لوی لالا لومړی نه پوهېده چې څه خبره ده، وروسته یو چا ورته وویل چې تور ښادي ته (پیر چوکا بکواس) برخه ورکړې او زموږ په ولایت کې یې خپل خلیفه ټاکلی دی. لوی لالا د خلکو په ګڼه ګوڼه کې په ټېلو ځان تور ښادي ته وررورساوه او لاسونه یې ورښکل کړل.

ماښام مهال د لوی لالا خر نابېره ورک شو، لکه ځمکه چې چاودلې او خر په ننوتلی وي. لوی لالا تورې ځمکې ورپسې سپینې کړې، خو خر یې و نه موند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې ورځې وروسته یوه شپه د کاکوجان د باغ خوا ته د ډوول اواز واورېدل شو. لوی لالا ته اندېښنه ورولوېده او ژر له کوره راووت، ګورې چې په کوڅه کې ډله ډله کلیوال تېرېږي او د خلیفه صاحب د ذکر خبره کوي.

په دې وخت کې د لوی لالا ګاونډی حاجي سپین اکا هم له کوره راووت، ویل خلیفه صاحب د کاکو جان په باغ کې ذکر کوي او ټول کلیوال ورغلي دي. لوی لالا که څه هم د تصوف له ځانګړي طریقې او پیر سره اړه نه درلوده، خو پیرانو ته یې ډېر احترام درلود او سخت ورباندې ګران ول، بس هغه و چې لکه تازي په منډه یې ځان د کاکو جان باغ ته ورساوه.

د دې لپاره چې ځان ژر تور ښادي ته ور ورسوي، نو لکه غل باغ ته پر دېوال ورواوښت، څو ګامه چې ولاړ، نو پښه یې له یوه تور شي سره ولګېده، سمدلاسه ودرېد، له جېب څخه یې برقي څراغ راوکیښ او ویې لګاوه، په دې وخت کې یې د خپل خره بې رنجو تورې سترګې او ښکلي کاږه باڼوګان وپېژندل، ډېره یې خوا بده شوه، خو نه پوهېده چې خر یې په کومه ګناه او چا صحرايي محاکمه کړی او سر یې څنې پرې کړی دی.

د خپل خره سر یې همدلته پرېښود او دی تور ښادي ته ورغی. ګوري چې د باغ په پای کې د تورو وڅکو (ممیزو) پر ډاګ یو ځوان ډوول وهي، تور ښادي نارې ورته کوي او څو ځنورو ځوانانو آتڼ اچولی دی. تور ښادي دا ناره کوله چې لوی لالا ور ورسېد:

یو پیره لنډ کوه مزلونه
بل درپسې دي مریدان ببر سرونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی لالا په نیولو گامونو د نورو کلیوالو په قطار کې ارام کښېناست، سر یې پر زنګنو کښېښود او د آتڼ نارو ته یې غوږ شو، یوه شېبه وروسته حاجي اکرم هم راغی، ښادي چې ورته وکتل، نو ډوول یې بس کړ، ویل بس ده نور ذکر به بله شپه وکړو، بیا سهار لمونځونو ته نه شو راپورته کېدلای.

لوی لالا که څه هم د تور ښادي له خوا پر خرې باندې د جنسي تېري خبره یې زړه ته نه لوېدله، خو دا چې تازه یې د خپل تور سترګي خره پرې کړی سر لیدلی و، نو د حاجي اکرم غټه سپینه خره یې سترګو ته جګه ودرېده. یوه اوونۍ وروسته جانو لالا تور ښادي ته خپله لور (چمکلۍ) وروبخښله او یوه میاشت وروسته یې واده وشو. د تور ښادي ملګري به د ورځې له خوا لکه اسمان څکالي (شب پره کان) پټ ول او د شپې به د کاکوجان په باغ کې سره راټولېدل، ذکر معلوم و، یوه ځوان ډوول واهه، تور ښادي نارې کولې او مریدانو به یې آتڼ ورته کاوه.

څو ورځې وروسته د سالار اکا غوا ورکه شوه او سبا په سپینه ورځ د اسلم خان آس تری تم شو.

یوه شپه لوی لالا په کوڅه کې د یو چا د پښو د منډو ترپې او سونهارې واورېد، هغه و چې خنجر په لاس او لڅې پښې له کوره راووت، ګوري چې لاټک تور ښادي تر ګرېوان نیولی او په ټیټ اواز ښکنځل ورته کوي: (( تورمخې غلا په موږ کوې او خورې یې یوازې ته ها؟)).

لوی لالا چې دا خبرې واورېدې، نو ورنژدې شو او په ارامه یې وپوښتل: لاټکه څه خبره ده، له خلیفه صاحب سره دې پر څه شي جنجال دی؟ لاټک په درد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: لوی لا لا مه رانژدې کېږه، دا خلیفه نه دی، سور غل دی، ستا خر هم ده حلال کړ او له ځرمنې څخه یې ډوول جوړ کړ.

په دې وخت کې د کوڅې په بل سر کې د اسلم خان غږ واورېدل شو، ویل هلکانو څوک یاست، څه خبره ده؟ لاټک چې د اسلم خان غږ واورېد، نو تور ښادي یې تر ګرېوان نیولی روان کړ او په کوڅه کې بیرته چوپتیا خپره شوه.

په دې وخت کې د لوی لالا سترګو ته د خپل خره بې رنجو تورې سترګې او ښکلي کاږه باڼوګان ودرېدل چې سر یې په وینو لړلی او د کاکوجان په باغ کې پروت و.

سبا سهار چې خلک مسجد ته راغلل، ګوري چې مسجد ته مخامخ د بې دانه توت په ښاخ کې د تور ښادي ډوول راځوړند او یوه ډله خلک ورته ولاړ دي. کلیوالو ویل چې تور ښادي د شپې په تیاره کې کډه بار کړې او یوه نامعلومه ځای ته کډه شوی دی.

له دې سره سم تصوفي حلقه هم ړنګه او ذکر پاته شو، خو تر دې وروسته په کلي کې بیا غلا و نه شوه، دغه ډول د ښځینه خرو عزت او نارینه حیواناتو ژوند هم خوندي شو. اوس د ټولو کلیوالو زړه ته ولوېده چې د تور ښادي له خوا د حاجي اکرم پر خره جنسي تېری رښتیا و او غلاوي هم د تور ښادي ډلې کولې.

اوس چې هر وخت لوی لالا له راډیو څخه د صحرایي محکمې خبر واوري، نو خپل خر یې سترګو ته ودرېږي او سمدلاسه د لعنت په ډول نسوار توف کړي، خو اوس یې نه په خوله، نه په ژبه او نه په غاښونو کې پخوانی زور پاته دی، نسوار یې لیري واټن نه شي ویشتلای، لکه ناکامه توغندی په ږیره کې راولېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه ځنګه چې تور ښادي ورک شو، چمکلۍ هم ترې تم شوه، نه یې د مرګ او نه یې د ژوند درک معلوم شو. د چمکلۍ مور په خپلې لور پسې په سترګو ړنده شوه او اوس یې د کلي ماشومان لېونۍ توړۍ بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سياسي اولياء

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نیمه شپه کې د کور دروازه په زوره وټکېده، سخت وارخطا شوم، یاره که امیدواره ښځه وای، نو له وېرې به مې نقصان کړی وای. دروازه مې خلاصه کړه، گورم چې د کور مخ ته یوه ډله مېلمانه ولاړ دي، یو نارینه او دوې ښځې ورسره دي او یوه ډله یې هم اولادونه دي، یو په نس کې، یو په غېږ کې او شپږ اووه نور ور پسې. سمدلاسه مې د ورا دا سندره را په یاد شوه:

د کلا پر سر کوچي دي
خپــښه وزي ننـــوزي
سل اویا یې چنگوټي دي.

مېرمنې مې راته وویل چې په کور کې وچه ډوډۍ، هگۍ، پټاټې، پیاز او رومیان لرو، خو غوړي یو مخ خلاص شوي دي، اوس به څه کوو؟ ما ویل غم مه کوه زما یې چم زده دی، ته یوازې یو ستل پاکي اوبه راوړه، نور ما او کار سره پرېږده.

مېرمنې ته مې درد ورغی، ویل دا وخت د ټوکو نه دی ژر یوه چاره وکړه، که د کوم رستورانټ والا شمېره درسره وي زنگ ورته ووهه چې پخه ډوډۍ راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په فاتحانه انداز ورته وویل چې د خپل کور پیر چا ته نه معلومېږي، اوس یې ګوره چې زه څه کوم؟ مېرمنې مې بله چاره نه درلوده، مجبوره وه چې دا صحنه وګوري، سمدلاسه یې منډه کړه او یو ستل اوبه یې راوړې.

ما ویل دا دی اوس یې ګوره! سمدلاسه مې لاس جېب ته ننه ایست، له هغې خوا مې موټ کړی لاس راوکیښ او په ستل کې مې وواهه، بس د خدای کړه دي او د بنده ورته کاته دي، له دې سره سم د ستل اوبه په ژیړو غوړو واوښتې.

مېرمنه مې هیښه او حیرانه پاته شوه، ویل ته لاس ښکاره کړه په موټ کې دي څه شی دی؟ ما په خندا موټ خلاص کړ، ګوري چې په ورغوي کې مې یو فلش (میموري کارډ) دی. ویل دا څه شی دی؟ ما ویل دا هغه میموري کارډ دی چې د جمهوري ریاست د یوه کاندید غوړې ویناوې مې پکې خوندي کړي دي.

د مېلمنو د ډوډۍ چاره خو وشوه، اوس هغه یو ستل غوړي لکه د کارېز اوبه ګرسره نه خلاصېږي، څو ډلې نور مېلمانه هم راغلل، خو غوړي مو وړیا دي، بس په ستل کې اوبه واچوو او میموري کارډ پکې ووهو او هغه ژیړ غوړي شي.

اوس دا وېره راسره ده که د ولسمشرۍ د نویو انتخاباتو موسم راغی، نو دا غوړي به تر وخت تېر شي، ځکه د نویو کاندیدانو ویناوې به تر دې هم غوړې وي، کېدای شي چې د هر کاندید له وینا څخه پوره یوه ویاله غوړي جوړ شي، نو ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل تر څو چې د ولسمشرۍ بله دوره انتخابات رارسېږي او د دې غوړیو میعاد تېرېږي، زه باید دا غوړي پر درباري او طالبي خیاطانو او غوړمالانو باندې خرڅ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کليوال بوډا او ژبپوه خبريال

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبريال: بابا (ښې چارې)

کليوال بوډا: ښې چارې له کومه شوې بچيه، سم د سره تناره پر سر ژوند کوو

خبريال: ستاسې په ولسوالۍ کې کله ناکله ناټو (شپني) عمليات کوي چې (ناپوځي) وګړو ته مرګ ژوبله پکې اوړي، تاسې ولې په دې اړه (غبرګون) نه ښاياست؟

کليوال بوډا: شپون خو خپله شپني کوي، هغه بېچاره به په تش لاس څنګه خلکو ته مرګ ژوبله ورواړوي، زموږ شپون عمليات نه دي کړي، روغ سړی دی، دا هسې خوشي چټي خبرې دي

خبريال: نن ستاسې د ولسوالۍ خلکو (لاريون) کړی دی او خپل (هټوځي) يې ترلي دي، تاسې ولې په دې لاريون کې برخه نه ده اخيستې؟

کليوال بوډا: (په قهر) ولې زه لېونی يم چې په لوی لاس په ناورين کې برخه واخلم؟ خدای دي مو له ناورينه وساتي.

خبريال: بابا زه لاريون يادوم، ما ويل نن ستاسې د ولسوالۍ وګړي د افغانستان (پلازمېنې) ته تللي او د هغو (ناپوځي) وګړو په اړه يې (دولتمشر) ته (غاو) کړی چې څو ورځې مخکې د ناټو ځواکونو د چورلکو په هوايي بمباريو کې ووژل شول

کليوال بوډا: نور پوه نه شوم، خو تا د غاو خبره وکړه. نن زموږ خلک پاچا ته په چيغو او بوغارو ورغلي دي، خواران ښه وايي. د خدای پار دی حکومت موږ ولې وژني؟ څه ګناه مو کړې ده؟ نه مو بلوا کړې ده او نه پر حکومت راپور ته شوي يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریال: تاسې د نن په (غاو) او (پرلت) کې (شتون نه لرئ) ایا تاسې یې (غورځاوڼ) نه یاست؟

کلیوال بوډا: (په قهر) ته نه شرمېږې چې ما ته په دې سپینه ږیره (ګوزاوڼ) وایې؟

خبریال: بابا ګوزاوڼ نه یادوم، (غورځاوڼ) یادوم، مانا تاسې د دې غورځنګ غړي نه یاست؟

کلیوال بوډا: زه نه د چا (غړی) یم او نه (حلوا)، خپله خواري او بزګري کوم

خبریال: څه موده مخکې ستاسې په کلي کې یو ډېر (وګړمین) قومي مشر حاجي عبدالله خان (ترور) شو، ستاسې په (آند) دا چارې به څوک کوي؟

کلیوال بوډا: بچیه د بل چا په مخ کې و نه وایې چې عبدالله خان ترور شو، (ترور) د پلار خور ته وایي، حاجي عبدالله خان خو نر و

خبریال: زما موخه دا ده چې حاجي عبدالله خان ووژل شو

کلیوال بوډا: خو دغسې ووایه چې ووژل شو

خبریال: ښه دغه ډول (موخنې وژنې) څه انګېزه لري؟

کلیوال بوډا: دغه ډول وژنې (انګروزه) نه ده، ربښتیا ده، زموږ خلک په سپینه ورځ وژل کیږي او ټول یې ویني، خو څوک مو ناره نه اوري

خبریال: پوهان وایي چې دغه ډول موخنې وژنې د افغانستان په ټول (کړکېښ) کې هیڅ (مخینه) نه لري، د تراهګرو دغسې (ګروهه) له کوم (کېټ) او (وند) سره اړه لري؟

کلیوال بوډا: تا (وند) دي یاد کړ، مطلب دي وندر دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریال: نه زه بل څه وایم، خو خیر اوس بلې پوښتني ته راځم. که هره ورځ قومي مشران وژل کېږي، ایا تاسې (گروهمن) یاست چې په وطن کې به (ټیکاو)، (ستاړه) او (خوندبینه) راشي او اوسنی (ړنگن) حالت به پسې ډېر نه شي؟

کلیوال بوډا: گړنگن حالت به ولې نه پسې ډېرېږي، چې گړنگن او سپېره خلک مو مشران شي، نو ولس به ولې نه بدمرغه کېږي

خبریال: دغې پوښتني ته (بیا ځلي) راځم، د تراهگرو (موخه) څه ده چې ناپوځي افغانان وژني؟

کلیوال بوډا: موخه یاني موخې یادوې؟

خبریال: موخې څه ته وایي؟

کلیوال: موخې په پښتو کې د نجونو بدل ته وایي، خو شکر دی زموږ په کلي کې اوس خلک نجوني په موخې کې نه ورکوي

خبریال: بابا څلوېښت کاله کېږي چې په افغانستان کې دغه (شخه شولانگه) او (اړنگ بړنگ) روان دی، ایا نور دغه حالت (بسنه) نه کوي؟

کلیوال: که دا اوسني خلک مو مشران وي، وطن به خود دغسې ړنگ بنگ وي.

خبریال: موخه مې دا ده چې دغه (شخړیز) حالت (بسنه) نه کوي؟

کلیوال بوډا: په بس او بسنه دي نه پوهېږم، خو موږ نور له جنگه ستړي یو، کورونه مو له کونډو او یتیمانو ډک دي، په هر کور کې چیغې او ژړاوي دي، ټول وطن مو هدیره شو، اوس مو نو بیخي په سترگو کې اوښکي وچې شوې، تر فرضي لمونځونو مو د جنازې لمونځونه ډېر دي

خبریال: بابا ستا په اند په افغانستان کې سوله (شونې) ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیوال بوډا: هو زموږ کلی له شنو ډک دی، ډېر یې تنګ کړي یو، ټول چرګان یې نیولي دي، نه پوهېږم چې تا به شینې له نژدې لیدلي وي که نه؟ شینې یو ډول وړې خزندې دي چې د چرګانو په پوست پورې کلکې نښلي او بیا یې ناروغه کوي

خبریال: نو دا خو نه (نړی پنځۍ) او نه یې (ځری) وایې چې په خلکو کې تراه خپره کړه، دا تراهګر ډېر (شاتګپالي) او (پوړۍ پال) وګړي نه دي؟

کلیوال بوډا: بچیه پوه نه شوم، په پښتو راته ووایه!

خبریال: ښه بابا اوس به ستاسې شخصي ژوند ته راشو، څه موده مخکې مو یو ځوان زوی (اورپکو) وواژه او تاسې هم بوډا یاست، اوس د کور لپاره (لګښتتوکي) او (خوړلتوکي) څنګه چمتو کوئ؟

کلیوال بوډا: دا اوس ته څه وایې؟ زموږ په ژړاوو زاره وچاوده او ته وایې چې (ټوکي)، ته دا ناورین وګوره او ستا ټوکي وګوره، زموږ په کلي کي اوس ټوکي او ټوکیان خلک نشته

خبریال: بابا ټوکي نه، توکي یادوم

کلیوال بوډا: توکي نه پېژنم، دا نوي خبرې بیا دا تاسې هلکانو راوایستلې

خبریال: په کور کې مو بل (کارندوی) زلمی (شتون لري)؟

کلیوال بوډا:نه په کور کې مو (شپون) نشته

خبریال: شپون نه، شتون یادوم، شتون

کلیوال بوډا: ما درته وویل چې په کور کې نه شپون لرو او نه شکوڼ، زه یو زوی لرم چې سپین ګل نومېږي او په مدرسه کې سبق وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبريال: تاسې ووېل چې يو زوی مې (زده کړيال) دی او ستاسې د ژوند (وټه ييز) اړخ هم ويجاړ دی، ستا د زده کړيال زوی (اړين) توکي لکه (ليکنی)، (يادښتليکچه)، (لوبڅی) او (لېږد چارو) لګښت څوک ورکوي؟

کليوال بوډا: (په خندا) ياره بچيه که رښتيا درته ووايم په دې ټيز ميز دي نه پوهېږم.

خبريال: بابا (ټيز) نه، (وټه ييز) يادوم، وايم پيسې به نه لرې زده کړيال زوی ته دې اړين توکي لکه (يادښتليکچه) او نور څنګه پېرې؟

کليوال بوډا: نو زما زوی خو سبق وايي، بېلګه څه کوي؟

خبريال: موخه مې د اړينو توکو پېرل و .

کليوال: ياره بچيه که رښتيا درته ووايم په دې (کړ مکړ) نه پوهېږم، له (کارکړن) څخه دې مطلب وحشي کرګدن دی؟

خبريال: ما ويل (کارډګر) دې څه دی، ياني د کار ساحه دې څه شی ده، څه کار کوې؟

کليوال بوډا: بزګر يم

خبريال: زه چې ګورم ستاسې لاسونه تڼاکي شوي دي، لکه چې (شاقه) کارونه کوئ که څنګه؟

کليوال بوډا: نه د شاه کاکا کارونه نه کوم،خپله يوه ټوټه ځمکه لرم، هغه کرم.

خبريال: ډوډی له (ټيکلپخ) څخه رانيسئ او که يې خپله پخوئ؟

بوډا:نه له ټيکلپخ کافر څخه به يې ولې رانيسو، شکر دی خدای لاسونه راکړي دي، خپله يې په کور کې پر تبۍ پخوو

خبريال:(په خندا) بابا له ټيکلپخ څخه مې موخه نانوای دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیوال بوډا: نو خو دغسې ووایه چې نانوای، زه حیران شوم چې دا ټیکلپخ یې بیا څه بلا ده.

خبریال: ښه بابا اوس دا راته ووایه چې (منګ) به دي څو وي؟

کلیوال بوډا: پوه نه شوم؟

خبریال: وایم څو کلن یې؟

کلیوال بوډا: یاره خدای مې دي غاړه نه بندوي سل کلن به یم

خبریال: ستاسې په کلي کې ستا (هم منګه) او (همپېری) خلک شته؟

کلیوال بوډا: هو خلک وایي چې زموږ په کلي کې پېریان شته، خو ما تر اوسه پورې نه دي لیدلي.

خبریال: یوه سلیزه منګ لرې او بیا هم بزګري کوې، ایا (تکړښت) کوې؟

کلیوال بوډا: هو نو عمر دی کمېږي، هره ورځ کمښت کوم

خبریال: بابا په ځوانۍ کې به دي خامخا (وختتېری) او لوبې کړي وي، کومې لوبې دي کولې؟ (یخنڅا)، (یخلوبه)، (وزلوبه) او که (خرځغلونه یا خردواني)؟

کلیوال بوډا: یاره هر ډول لوبه مې کړې ده، خو دا خرتوبي ده که خردواني ده دا مې نه ده کړې.

خبریال: بابا ستاسې په کلي کې خو (کتوځی) او (لنګتون) نشته، آن دا چې یو عادي (هډدرملی) هم نشته، نو که کومه مېرمنه مو (بلاربه) شي، د لنګواله لپاره یې چېرې وړئ؟

کلیوال بوډا: (په قهر) هرګوره چې مېلمه یې، که نه نو مردارولې مې او ځان مې درباندې غازي کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریال: (په وارخطايي) ولې بابا ما کومه (نااړونده)، (نااړینه) او (ناجوته) خبره وکړه چې پر تاسې بده ولګېده؟
کليوال: بده خبره لا توره وي که سپینه؟ ته انسان يې که غویی؟ څوک امیندوارې ښځې ته بلاربه وایي؟ بلاربه خو سړی امیندوارې غوا، اوښې، وزې، مېږې یا خرې ته وايي.
خبریال: ښه ښه اوس پوه شوم، کور مو ودان چې مرکه مو راسره وکړه
کليوال بوډا: ستا يې هم کور ودان، خو ګوره بل وار که زموږ کلي ته راتلې، نو یو پښتون ترجمان درسره راوله او له خولې سره دې هم لږ پام کوه، اوس هرګوره چې مېلمه يې، که مېلمه نه وای، نو دغه د بېل لاستی به مې درباندې کتلی وای او یا به مې دومره ډبولی وای لکه د پېشلمي ډوول، اوس دې سر خلاص شو؟
خبریال: هو سر مې خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د چونګښو آچار

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوسیالیستي برېتونه
جهادي معده
د مقاومت کولنګ
د موچي تار
ډیموکراټیک پرتوګ
د جنسي تېري ضد ډال
د چونګوښو آچار.

---------------

دا اثار په یوه مجلل تالار کې د لیلام لپاره پر یوه لوی مېز ایښودل شوي او حاجي غټ ماما د مېز شاته ولاړ و. مخ ته یې مېلمانه پر چوکیو ناست او د شا په قطار کې خبریالان ولاړ ول.
د دې اثارو رانیولو لپاره ګڼ شمېر سیاستوال او تاریخي اثارو مینه وال راغلي ول.
د پلچرخي له زندان څخه یو شمېر مشهور غله او جنایتکاران هم په ضمانت راوستل شوي ول، په مېلمنو کې بهرني مېلمانه هم ول چې ډېری یې ښځې وې.
حاجي غټ ماما په داسې حال کې چې پرتوګاښ یې تر لمنې یوه لوېښت راوتلی و، مایکروفون راپور ته کړ او په جګ اواز یې وویل: درنو مېلمنو، آغلو او ښاغلو! لیلام پیل کېږي، زه هر جنس راپورته کوم او ځانګړتیاوي یې درته وایم، زما شا ته پر لویه پرده یې انځور هم ښه لوی او روښانه لیدلای شئ.
بیا یې یوه وچه کلکه کڅوړه راپورته کړه، خوله یې ویړه کړه او په جګ اواز یې وویل: ها دا دی وګورئ! دا د یوه مرحوم جهادي رهبر وچه معده ده. که څه هم په ظاهره یوه لوېښت ښکاري، خو په حقیقت کې تر ارام سمندر هم لویه او ژوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. دا معده خورا ډېر کمالونه لري. يو کمال يې دا دی چې هيڅ نه ډکېږي. که د ټول افغانستان کورونه، ځمکې، موټرونه او ټولې نړۍ ډالر ورواچول شي، نو ګرسره پکې معلومېږي هم نه.

بل کمال يې دا دی چې د ايکسرې شعاع نه ځنې تېرېږي، دې مرحوم رهبر په ژوند کې څو واره اروپا او امريکا ته ترياک پکې تېر کړي دي. دا معده د قاچاقو لپاره ډېره ښه ده، د افغانستان ټول ترياک په يوه وار پکې قاچاق کېدای شي، بيه يې يو ميليارډ امريکايي ډالره ده.

يوه بهرني سړي لاس پورته کړ، ويل زه يې رانيسم، ورپسې نورو مېلمنو بيې لوړې کړې، دوه ميليارډه، درې ميليارډه، څلور ميليارډه... لس ميليارډه.

يو سړی چې وچ مغزی او نری کبړه پزه يې درلوده، برګ دسمال يې په غاړه کې اچولی و، په قهر له ځايه پورته شو: (( دا اثر د چا پلار هم نه شي رانيولای، موږ جهاد او مقاومت کړی دی، دا معده زموږ حق دی، زه چا ته اجازه نه ورکوم چې بيه يې نوره لوړه کړي، زه يې رانيسم)).

له دې خبرې سره سم يې ورمنډه کړه، راواخيستله او بيرته پر خپل ځای کښېناست. په دې وخت کې يوه بل نري پزي ځوان چيغه کړه: ناره تکبير! خو چا سپوڼ هم و نه واهه، يوازې د شا په صف کې يوه سړي کرار وويل: باوووو!

وروسته حاجي غټ ماما يو څيري او سوری سوری پرتوګ راپورته کړ، په جګ اواز يې وويل: ها دا دی وګورئ! دا پرتوګ ډېر زوړ او شوړېدلی دی او د پرتوګانښ پر ځای کشک وراچول شوی دی، خو که له کمالونو يې خبر شئ، نو د ايمان په بيه به يې هم رانيسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډیموکراټیک پرتوګ دی چې څو زره کاله پخوانی دی او له لرغوني یونان څخه راوړل شوی دی. یو کمال یې دا دی که چا واغوست، بیا که هر څومره ډېر جنایتونه وکړي، نو د خلکو زړه ته نه لوېږي، عام خلک فکر کوي چې دا سړی جنایت نه، بلکې عبادت کوي، ټول بد کارونه یې عالمانه او ستره فلسفه ورته ښکاري، که چا دا پرتوګ اغوستی وي، نو د دنیا هیڅ یو قانون او محکمه یې نه شي محاکمه کولای.

بل کمال یې دا دی چې سونډ پروف دی، هر چا چې واغوست بېغمه دي یې ولي، ملت یې نه اوري او نه یې بد بوی احساس کولای شي. دا پرتوګ یوازې په افغانستان کې لسګونو وزیرانو، سلګونو والیانو او زرګونو رئیسانو اغوستی دی، ډېره ښه نتیجه یې ورکړې ده، د سیاستوالو لپاره ډېر ګټور دی. څرنګه چې دا پرتوګ میلیارډونه پیسې ګټلای شي، نو بیه یې په لس میلیارډه ډالره پیل کوو.

د کابل بانک یو په ونه ټیټ او بیلر غوندې سړي له لاس پورته کولو سره سم د سټیج خوا ته ورمنډه کړه، په لاره کې یې داسې نارې وهلې: (( دا پرتوګ زما دی، اول ما اغوستی دی، دا زما حق دی، ولاکه یو سینټ لا ورکم...)). د حاجي غټ ماما له لاسه یې پرتوګ کش کړ او ژر ژر یې پر خپل کځوړه پتلون سربېره واغوست.

له دې سره سم ټولو مېلمنو په یوه اواز چیغې کړې: (( هو تاسې رښتیا وایاست، دا پرتوګ ستاسې حق دی، تاسې یو سپېڅلی انسان یاست، کابل بانک بل چا چور کړ، پر تاسې ناحقه د غلا تور پورې شوی دی. باید تاسې ته دا پرتوګ وړیا درکړل شي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالار د خلکو چکچکو، شپېلکيو او شور پر سر واخيست. حاجي غټ ماما په لکه غاړه او وياړ سره وويل: (( ګورئ زه رښتيا وايم، د دې پرتوګ کمال مو وليد که نه؟ دې سړي چې پرتوګ واغوست اوس يې څوک بيخي پېژني نه چې دا د کابل بانک غل دی. زه باور لرم چې دا ښاغلی به له دې ځايه پلچرخي زندان ته نه، بلکې سيده به ارګ ته ځي)).

د مخ په ليکه يو لوېشتکی او پنډوګی سړی چې ګيل ماله کړې لنګوټه يې تړلې وه، په ماته ګوډه پښتو چيغه کړه: ژوندۍ دې وی ډيموکراسي، تل دې وي د افغانستان خپلواکي ... په دې وخت کې د غونډې برخه والو يو بل ته په حيرانۍ سره وکتل، په تالار کي ورو ورو بونګی پيل شو: (( کومه ډيموکراسي؟ کومه خپلواکي؟ دا سړی څه وايي؟ زه خو هيڅ پوه نه شوم)).

د خلکو شور لا پوره نه و ارام شوی چې حاجي غټ ماما يو نری تار راپور ته کړ او په موسکا يې وويل: ((ښايي تاسې به دا ارزښتناک اثر سم نه وينئ، دا د موچي ساده تار دی، خو خورا ډېر کمالونه لري، په دې تار زرګونه انسانان پر نس حلال شوي دي.

کمال يې دا دی چې په ناريه او جارحه وسلو کې نه راځي، له همدې امله جواز ته هم اړتيا نه لري. تر ټولو ستر کمال يې دا دی چې په دې تار هر څوک حلال شي، نو هغه کافر بلل کېږي، که خپل سکه مسلمان ورور هم ورباندې حلال کړې، نو امريکايي، انګرېز يا بل کافر بلل کېږي، له دې تار سره زرګونه فتواګاني تړلي دي.

په دې وخت کې يو انګرېز جنرال اوچت شو او په جګ اواز يې وويل: (( دا تار زموږ دی او د بريتانيې په شاهي کورنۍ پورې اړه لري، څو کاله مخکې زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکې یوه پاکستاني جنرال ته امانت ورکړی و، خو پاکستاني جنرال ویل چې زما څخه القاعده وو غلا کړ، دا دی اوس مې پیدا کړ. حاجي غټ ماما به ما ته هم دا تار وړیا راکوي او هم به راته وایي چې دا تار چېري و، له چا څخه یې تر لاسه کړ او څنګه یې ترلاسه کړ؟

د دې پر ځای چې انګرېز ستیج ته ورشي، حاجي غټ ماما پر څلورو ورغی او تار یې بهرني جنرال ته ورکړ. له دې سره سم هر چا یو وار د موچې نري تار ته وکتل او بیا یې په بېخوندی پر خپله ګېډه لاس تېر کړ، ورسره سم په تالار کې بد بوی شو، د غونډې برخه والو یو وار شاته وکتل او بیا یې خولو ته دسملونه ونیول.

تر څو ثانیو چوپتیا وروسته حاجي غټ ماما یو کولنګ راپور ته کړ او په لوړ اواز یې وویل: ((وګورئ دا یو عادي کولنګ نه دی، دا د مقاومت کولنګ دی چې په فرانسه کې په خاص فرمایش جوړ شوی دی، خورا ډېر کمالونه لري، په دې کولنګ د افغانستان د قیمتي ډبرو خورا ډېر کانونه را ایستل شوي دي، همدا اوس یې هم د بدخشان د لالونو، زمردو او لاجوردو بوی ځي. تر ټولو ستر کمال یې دا دی که هر چا رانیو، نو سمدلاسه ملي قهرمان کېږي)).

تر څو چې حاجي غټ ماما نور څه ویل، نو یوه ځوان یې کولنګ له لاسه وکیښ او ویې ویل: ((دا کولنګ زموږ څخه ورک شوی و، هیڅوک یې نه خرڅولای او نه یې رانیولای شي، دا کولنګ زموږ دی)). د غونډې برخه والو یوه او بل ته وکتل، خو څه یې له وسه پوره نه وه.

بیا حاجي غټ ماما یو لوی پولادي ډال یا سپر راپور ته کړ، د سترګو تر کونجو یې بهرنیو ښځو ته وکتل او په موسکا یې وویل: ((دا د مدني فعالیت ډال دی او یوازې یې مدني فعالان رانیولای شي. دا ډال خورا ډېر کمالونه لري، مثلا که

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک يې د مخ او شا له خوا د شرم په ځای پورې وتړي، نو هيڅوک جنسي تېری نه شي وربانديې کولای.

بل لوی کمال يې دا دی که کومې مېرمنې د شرم په ځای پورې وتاړه او يوازې يو وار په ښار کې لوڅ مخ وګرځېده، نو د نړۍ هر پرمخ تللی هيواد ډېر ژر تابعيت ورکوي، خو يوه کمزوري لري، هغه دا چې د ملا لنډې د جنسي تېري مخه نه شي نيولای، نو هر چا چې دا سپر په ځان پورې وتاړه بايد ډېر ژر له افغانستان څخه اروپا يا امريکا ته ولاړ شي، بيه يې يو لک ډالر ده، خو دا ډال يوازې مېرمنې او همجنس بازان رانيولای شي)).

مېرمنو لا لاسونه نه وه پورته کړي چې د غونډې ټولو افغان برخه والو لاسونه پورته کړل. په دې وخت کې يو سپين ږيری سړی په ژړا له ځايه پورته شو او په عاجزۍ يې وويل: ((زه دومره پيسې نه لرم چې دا ډال رانيسم، خو ډېر ضرورت ورته لرم، ټوله نړۍ خبره ده چې څه موده مخکې د حکومت يوه لوړ پوړي چارواکي جنسي تېری راباندې وکړ، هيله لرم چې دا ډال ما ته وړيا راکړئ)).

په دې وخت کې يوه سړي خپل څنګ ته ناستي د يوې بهرنۍ مېرمنې پر لوڅ ورانه لاس تېر کړ، هغې په لوړ اواز چيغه کړه:((هلئ ما وژغورئ! دا سړی غواړي چې پر ما جنسي تېری وکړي)).

يوې افغانې مېرمنې خپله لنډه لمن پر ورنو ورټوله کړه او په ژړا يې وويل: ((زما څخه څو واره د جنسي تېري غوښتنه شوې، خو ما نه ده منلې، زه ډارېږم چې اخير به جنسي تېری راباندې وکړي، هيله ده چې دا ډال ما ته راکړئ)).

يوه بهرني ډيپلوماټ په جګ اواز چيغه کړه: ((دا مېرمن ښه وايي! ښځو ته بايد لومړيتوب ورکړل شي، بايد دې ښځې ته ډال بيخي وړيا ورکړل شي، که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکول کېږي موږ انتقاد کوو چې په افغانستان کې ښځو ته حقوق نه ورکول کېږي)).

حاجي غټ ماما هیڅ و نه ویل، مېرمن ولاړه شوه، ډال یې واخیست، د شا له خوا یې په ځان پورې وتاړه او سیده له تالاره ووته.

د حاجي غټ ماما برېتونه راخوړ او تندی یې تریو شو، څه یې و نه ویل، خو ژر یې ځان کنټرول کړ، مصنوعي موسکا یې پر لویو شونډو خپره شوه، بیا یې د نسوارو یو دبلی (قطی) راپور ته کړ، خلک حیران شول چې دا به څه شی وي؟

ټولو ځیر ځیر کتل چې اوس به له قطۍ څخه څه شی راوباسي، خو حاجي غټ ماما دا شیبه لنډه کړه او په جګ اواز یې وویل: دا د برېتو یو تار دی، خو ډېر قیمتي تار دی، یوه شاګرد له خپل رهبر له بریت څخه کښلی، بیا اروپا ته وړل شوی او هلته د سوسیال په مقدسو اوبو اووه واره پرېولل شوی دی.

دا وېښته هم ډېرې ګټې لري. یوه ګټه یې دا ده چې څوک یې د سیوسیال په اوبو اووه واره پرېولي او بیا هغه اوبه وڅښي، نو ټول پخواني چپي افکار یې له حافظې څخه پاکېږي، په اتومات ډول لیبرال ځنې جوړېږي، آن دا چې (کارل مارکس) د (ادم سمیت) په بڼه ورته ښکاري.

بل کمال یې دا دی چې په هر سیاسي قالب کې جوړېږي او هیڅ وخت یې لاس نه بندېږي، د دې تار بیه لس ملیونه ډالره ده.

په دې وخت کې تالار د (هورا) نارو پر سر واخیست، یوه برېتور سپین ږیرې ناره کړه: دوولس میلیونه، پنځلس میلیونه، شل میلیونه ...)) د بریت بیه وار په وار پسې لوړېده، خو یو ډنګر برېتور جنرال چې برېتونه یې تازه تور کړي، په احساساتي او رېږدېدلي اواز وویل: دا بریت زموږ د رهبر فکري میراث او زموږ حق دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ پیسې نه لرو، زه دلته د ناټو له قوماندان جنرال کریسټل څخه هیله کوم چې موږ ته د دې بریت پیسې راکړي، ځکه موږ خپله لاره پرې ایښې او اوس مو د دوی د غوا تی په خوله کې دی. د ناټو جنرال هم د (هو) په ډول سر وښوراوه او حاجي غټ ماما هم تار ډنګر جنرال ته ورکړ.

تر دې وروسته حاجي غټ ماما یو سرپوښلی حلبي قطی راپور ته کړ او بیا یې په خندا وویل: دا د چونګښو آچار دی چې سیاسي نوم یې (ګلوبل آچار) دی او خورا ډېرې ګټې لري، په تېره بیا د پیسو ګټلو لپاره ډېره ښه وسیله ده، د سیاسي سوداګرو لپاره ډېر ګټور دی.

دا آچار که هر چا وخوړل، نو سمدلاسه به د چونګوښې په شان ژوند ورته اسانه شي، لکه چونګوښه چې (ذوحیاتین) حیوان دی، یانې هم په اوبو او هم پر وچه ژوند کولای شي، دغه سړی به بیا (ذوتابعتین) شي، هم به په خارج او هم به په افغانستان کې ژوند کولای شي. کورنۍ به یې له افغانستان څخه دباندې ارامه او خوندي وي، خو دی به دلته ولسمشر، وزیر یا رئیس وي، بس دلته به یې ګټې او په بهر کې به یې ښتې.

بل کمال یې دا دی چې که په هر څومره غلا، چور، رشوت او فساد کې لاس ولري، نو د افغانستان عدلي او قضایي ارګانونه یې نه شي تعقیبولای، ځکه چې بهرنۍ تابعیت لکه د پیر سوټې بابا تاویز له هرې بلا څخه یې ساتي. د دې آچارو بیه لس میلیونه ډالره ده، ګورئ دا چانس له لاسه مه ورکوئ! که یوه پروژه مو واخیسته، نو سل میلیونه پکې ګټلای شئ! هلئ واخلئ!

په تالار کې شور جوړ شو، بیه په هره ثانیه کې پسې لوړېده: دوه ملیونه ډالره، درې ملیونه ډالره، پنځه میلیونه ډالره، لس میلیونه ډالره... سل میلیونه ډالره! په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې د خلکو خبرې غلې شوې. غټ ماما وویل: ((سل میلیونه ډالره والا د چونګوښې آچار وګټل، ورته مبارک دي وي)). په دې وخت کې د خلکو په منځ کې یو فولبرایټر ځوان په چټکو ګامونو راتېر شو او د چونګوښو آچار یې واخیست.

حاجي غټ ماما په جګ اواز وویل: درنو آغلو او ښاغلو! لیلام پای ته ورسېد، خو یوازې درې آثار پاته دی، دلته زما سره شپږ نفرو خپل نومونه لیکلي او وایي چې دوی د دې اثارو مینه وال دي، هیله ده چې نور مېلمانه ولاړ شي او یوازې دي هغه مېلمانه پاته شي چې زه یې نومونه وایم.

سبا په ورځپاڼو کې لیکل شوي وه چې د افغانستان یو څو سیاستوالو د افغانستان خپلواکي، ملي غرور او تاریخ پر پردیو باندې یوازې په څو میلیونو ډالرو خرڅ کړل. ورځپاڼې په بازار، کوڅو، دوکانونو، دفترونو او کورونو کې لاس پر لاس وګرځېدې، ټول ملت خبر شو، خو نه چا مدني حرکت، نه لاریون، نه اعتصاب، نه انتقاد او نه هم تشه ګیله وکړه، ځکه چې ضمیرونه یې سیاسي مشرانو خرڅ کړي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تخرګ وېښتان ځنګه

## په تاریخي اثارو کې شامل شول؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مظاهره چیانو په مخکې څو خلک په منډه روان ول، سترګې یې تر دوو غوږو پورې تورې کړې، رنګارنګ دسملونه په لاسونو کې نیولي، ږیرې په نکریزو سرې کړې او دومره اوږدې تسبیح یې په غاړه کې وې چې د نامه له غوټې سره لګېدلې او سړي ته یې د آتڼ دا ناره وریادوله:

آتڼ مې د بورې نجونې کوینه
پر ملا کـــږې وږې شـــې
امېل یې د نامه غوټـــې وهینه

د مظاهره چیانو دا ډلګۍ خورا ځلانده او برېښنده ښکارېدله، سړي فکر کاوه چې زیارت راروان دی. یو بوډا مظاهره کوونکی چې تر خوله یې ځګونه بادېدل او پر ږیره یې نسوار پراته وه په ژېړغوني اواز چیغې وهلې: ((مرګ پر حکومت، مرګ پر کافرانو، موږ به د خپل پیرګل کسات خامخا اخلو)).

ما د رسنیو کارډ په غاړه، مایک په لاس کې نیولی او عاجز د سړک پر غاړه ولاړ وم. یوه سپین ږیري ته مې اشاره وکړه چې خپل نظر راته ووایي. سپین ږیری هم لکه مست اوښ په غړومبي زما مخ ته ودرېد. ما ویل بابا ولې مو مظاهره کړې ده؟ سپین ږیري د خولې ځګونه په زرغونه دسمال پاک کړل او په لوړ اواز یې وویل: ((د پیرګل سپکاوی شوی دی، د هغه مبارکه ږیره او ځنې یې ورخریلي دي)).

په دې وخت کې له مظاهرې څخه یو بل سړی هم راجلا او زما خوا ته راغی. دا سړی چې ښکلې دریشي یې اغوستې، ږیره او برېتونه یې پاک خریلي وه د بوډا خبرې پرې کړې: ((دا پیر صاحب زرغون شاه نومېده، تل به یې زرغونه کالي اغوستل، اوږده ږیره، ببرې ځنې او لوی برېتونه یې درلودل، کټ مټ (کارل مارکس) ته ورته و. دا دوه سمبولونه په افغانستان کې د دوو لویو سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيډيالوژيو د نژدېوالي او پخلاينې سمبول و چې يو سوسياليزم او بل اخوانيزم دی. ده موږ ته دا درس راکاوه چې يو مجاهد رهبر چې د تحصيل کولو په جرم به يې د نجونو پر مخونو تېزاب ورشيندل، نن يې خپله لور ماډله ده او دی يې وياړ بولي او هغه بربټور کمونيست چې خلک به يې د (بي بي سي) راډيو د خبرونو اورېدلو په تور وژل، نن غربي ډيموکراسۍ ته مست آتڼ کوي او په لندن کې خورا په خوند خوند سوسيال خوري)).

د پېښې په اړه په سيمه کې يوه عيني شاهد راته وويل: ((زرغون شاه ملنګ يو لېونی و، نه يې خبرې کولې، نه چا پېژانده او نه يې چا عبادت ليدلی و، هيڅوک نه پوهېده چې دا سړی مسلمان او که کافر دی. څو کاله کېدل چې د خښتو په يوه کنډواله بتۍ کې اوسېده، خلکو به له زړه سوي څخه ډوډۍ ورکوله)).

دا جنجال هغه وخت راپيدا شو چې زرغون شاه ملنګ ناروغ او يوه خواخوږي سړي ډاکټر بشير زړه سواند ته بوت. په دې اړه ډاکټر بشير زړه سواند وايي: ((ما چې زرغون شاه ملنګ معاينه کړ، نو په سر او ږيره کې يې خورا ډېرې دانې راختلي وې، د دې لپاره چې ښه درملنه يې وشي بايد ږيره، برېتونه او د سر وېښتان مو يې ورخريلي وای. د دې کار لپاره مي نايي ته واستاوه، خو زرغون شاه ملنګ لا بيرته زما کلينيک ته نه و راستون شوی چې څو نفره سوټي په لاس کلينيک ته راغلل او زه يې وډبولم)).

په دې اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا په يوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي: ((د زرغون شاه ملنګ په وېښتانو کې داسې سپېرې اوسېدلې چې په تاريخي اثارو کې ګڼل کېدې، دا سپېرې بل ځای نه موندل کېږي او دا يې اخيری نسل و. ډاکټر بشير زړه سواند يو تاريخي اثر ضايع کړی دی، له همدې امله موږ له پوليسو څخه غوښتنه کوو چې ډاکټر بشير زړه سواند ژر تر ژره ونيسي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



څارنوالۍ ته يې معرفي کړي. بايد خلک پوه شي چې کوم شيان تاريخي اثار ګڼل کېږي. نوې لرغونپوهنه وايي که چا د يوه کال لپاره د خپلو تخرګونو وېښتان و نه خريل بيا حق نه لري چې ويې خريي، ځکه چې اوس د تخرګ وېښتان هم په تاريخي اثارو کې ګڼل کېږي)).

د راپورونو له مخې نن پوليسو د نايي پر دوکان چاپه وهلې ده. د پوليسو هدف دا و چې د زرغون شاه ملنګ خريلي وېښتان راواخلي او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته يې وسپاري، خو نايي تر چاپې مخکې خپل دوکان جارو کړی او د دوکان ټول خريلي وېښتان يې پر ډېران غورځولي ول.

تر دې اخ وډب وروسته ګڼ شمېر ولسي خلکو ته د خپل وجود د اضافي وېښتانو په اړه اندېښنې پيدا شوي دي. د سپين ګل په نوم يو شپون وايي: ((څو کاله کېږي چې تر نامه لاندې او تخرګ وېښتان مې د ډېر مصروفيت له امله نه دي خريلي او اوس سخت ځنې په تکليف يم، خو ډارېږم چې دا وېښتان هم د حکومت ملکيت نه وي)).

خو د زرغون شاه ملنګ پر سر راپورته شوي جنجالونه ناڅاپه هغه وخت ارام شول چې د امريکا د فرهنګي ميراثونو ادارې رئيس (مايکل سمپل) د افغانستان د ځينو سياسي مشرانو د جسدونو رانيولو اعلان وکړ.

ښاغلي سمپل وويل: ((د دې کار هدف دا دی چې د دې ډول سياسي مشرانو په مغزو کې د انسانانو د لومړي نسل حجرات تر اوسه پورې هم ژوندي پاته دي. دې سياسي مشرانو که څه هم په يوويشتمه پېړۍ کې ژوند کړی، خو فکرونه يې کټ مټ لومړنيو انسانانو ته ورته ول، کېدای شي دا حجرات زموږ سره په څېړنو کې مرسته وکړي، موږ به د دې جسدونو په مرسته وکولای شو چې د لومړنيو انسانانو جسمي او ذهني جوړښت په دقيق ډول مطالعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حاجي غټ ماما

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاجي غټ ماما د چرگ پښه په لاس کې نیولې او غوړونه یې د اذان لپاره د مسجد خوا ته څک نیولي ول. د چرگ غوړي یې د لستوڼي له لارې تر څنگلو پورې ورسېدل، خو د اذان درک نه و، اخیر یې زړه تنگ شو، کړکۍ ته ورولاړ شو او پورې غره ته یې وکتل، لکه مست اوښ غړومب یې وهل: (( یاره یو خو دا زموږ ملایان هم ولاکه په وخت پوهېږي، په خدای سم دم ماښام دی)). له دې خبرې سره سم یې د چرگ پښه خولې ته ورواچوله، لکه څرمښکۍ چې مچ ونیسي په یوه سا یې تر ستوني تېره کړه.

په دې وخت کې یې ځوانانو زامنو او مېلمنو هم پر دسترخوان برید وکړ، په څو شېبو کې پر دسترخوان یوازې هډوکي، د مېوو پوستکي، د څښاک تش بوتلونه او د خوراک تش لوښي پاته شول، د دسترخوان په یوه څنډه کې د پاکستاني (روح افزا) یو گیلاس چپه شوي سره شربت لکه سرې وینې ډنډ ولاړ ول، دسترخوان داسې ښکارېده لکه تازه چې چاودنه شوې او هرې خوا ته غوښې، هډوکي او وینې ښکاري.

دسترخوان لا نه و ټول شوی چې حاجي غټ ماما پر توشکه اوږد وغځېد، داسې ښکارېده لکه مردار شوی خر چې پړسېدلی وي، پر لویه خېټه یې لاس تېر کړ او لکه د غوا رمباړه یو لوی ټېغ یې وکیښ، تر نامه لاندې یې لمن جگه ښکارېده، لکه د چرگ پښه چې یې تر نس راوتلې وي، څو دقیقې همداسې ستوني ستخ پروت و او بیا په تکلیف راپورته شو، پر خېټه یې لاس تېر کړ او دسترخوان ته یې وکتل: ((یاره قربان یې شم رښتیا چې روژه د برکت میاشت ده، په خدای که مې تر روژې مخکې په دریو وختو کې دومره ډېره ډوډۍ خوړلې وي لکه نن په روژه مات چې مې وخوړه، د روژې برکت ته وگوره پخوا به مو ماښام ته یو یا دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوله خواړه پخول، خو په روژه کې هر روژه مات ته لس ډوله خواړه پخوو، وچې او لندې مېوې هم دغسې وبوله)).

حاجي غټ ماما ته مخامخ ناست مېلمه خانو لالا چې نسوار يې خولې ته اچولي په کنډو خوله ورغبرګه کړه: ((رشتیا هم روژه ډېره د برکت میاشت ده، په دې مبارکه میاشت کې بازار ته داسې ډول ډول خواړه او مېوې راشي چې سړی يې ګرسره نه پېژني. زموږ د کور مخ ته تازه يو رستورانټ جوړ شوی دی، یاره داسې خارجي خواړه پخوي چې سړی ګوتې ورسره خوري)).

د دې لپاره چې خانو لالا د رستورانټ کیسه ښه په تفصیل سره بیان کړي، د غالۍ څنډه يې راپورته کړه او نسوار يې توف کړه. ده لا خبره نه وه شروع کړې چې حاجي غټ ماما يې په خبره کې ورولوېد: ((خانو لالا خواړه خو لا څه کوې، دا داسې د برکت میاشت ده چې زموږ د ټول کال ګټه یوې خوا ته او د دې مبارکې میاشتې ګټه بلې خوا ته ده. زموږ اکثره خوراکي مواد تر وخت تېر دي، ښاروالۍ والا چې راشي يو څه خاوري يې په خوله کې ورواچوو، بیا مو څو میاشتې غوږونه پر ارامه وي، خو قربان يې شم د روژې له برکته د هیچا هم د خوراکي شیانو تاریخ ته نه پام کېږي. زما د يوه کال تر وخت تېر اوړه، غوړي، روب او نور شیان په یوه هفته کې خرڅ شول. په روژه کې نه د چا اعصاب چندان کار کوي، نه دومره حوصله لري چې هر شی سم وګوري او نه يې خوند کتلای شي، موږ هم دغه موقع غنیمت وګڼو او د لسو افغانیو شی په سلو افغانیو خرڅوو، متل دی وايي: ښنو ښنو ارمان کاږئ غالۍ دي، نو موږ هم خپل ارمان کاږو او تر وخت تېر خوراکي مواد ټول په روژه کې خرڅوو، څه وکړو په نورو میاشتو کې ګټه نه شو کولای، کله چې روژه تېره شي بیا هر مشتري د پنځو افغانیو پر سر يو ساعت چنې راسره وهي او تاریخ تېره شیان خو بیخي ولاکه پر خرڅ کړې)).

مېلمه چې پر ږیره يې د شنو نسوارو شنو توتیانو سېل له ورایه ښکارېده د حاجي غټ ماما خبره پرې کړه: ((حاجي ماما تا د تاریخ تېره خوراکي موادو او ګټې خبره وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره که دا د کفر مکتب نه وای هره میاشت به مو د روژې په ډول گتې کولای، اوس خو چې چا یو صنف مکتب هم ویلي وي، نو د خوراکي شیانو پر قطۍ په تاریخ پسې گرځي، که د خوراکي موادو پر یوې قطۍ یې تاریخ ته پام شو، نو ټول ښار خبروي)).
خانو لالا خبره اوږدوله خو حاجي غټ ماما چې برېتونه یې په آمو لړلي وه خبره ونیوله: ((ستا خبره دې په گل بدله وي زه به ستا تر خبرې پورې یوه کیسه درته وکړم. وایي یو چا له خرې سره دا درنه معامله کوله چې د کلي ملک ورباندې راغی. درنې معاملې والا چې هر څه زارۍ وکړې چې چا ته مه وایه، خو ملک ویل خدای یو مالگې تروې دي که دې داسې پر ارامه پرېږدم، خو یوه ځواني درسره کوم، هغه دا چې کلی درخبر کم او که تور سردار؟ درنې معاملې والا ویل کلي خبر که، خو تور سردار مه راخبروه، ځکه چې هغه ناځوانه ښار هم راخبروي، نو مطلب مي دا و چې اوس بیا دا غم لړلی فیسبوک پیدا شوی دی، که یو شی دي گران خرڅ کړ او یا یې تاریخ تېر و، نو خلک لکه تور سردار ښار خو څه کوې چې ټوله دنیا درخبروي، خو د روژې داسې برکت دی چې د هر چا سترگي عین و غین وي، هر سړی کوښښ کوي چې ژر یو شی رانیسي او ځان تر کوره پورې ورسوي، په تاریخ پسې یې نه گرځي، په روزگان کې زما یو دوکاندار مشتري دی، نن راغلی و یو موټر تر وخت تېر پنجابي اوړه مې پر یوه ځای ورباندې خرڅ کړل، ما ویل یاره رښتیا چې روژه د برکت میاشت ده، که روژه مبارکه نه وای دا اوړه به مې پر چا خرڅولای)).
په دې وخت کې د حاجي غټ ماما په نس کې د غایطه موادو یو لوی پاڼ ونړېد چې گړمب یې ټول مجلس واورېد. لکه غوا ته چې ډول ووهې د حاجي غټ ماما سترگې رډې راوختلې، د دې لپاره چې د مجلس پام بلې خوا ته واړوي ولاړ شو او د خونې تر کړکۍ لاندې یې وکتل. تر پنځه پوړیز کور لاندې یو څو ډنگر او سپېره ماشومان پر انبار (ډېران) باندې لخې پښې گرځېدل او په چټلیو کې یې خواړه لټول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډيموکراټ خر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د برابرزیو قومي شورا ځانګړې غونډه وه چې مشري یې (آس بلو) کوله. تر ډوډۍ خوړلو وروسته آس بلو په خپلو غوږو ګوتو اوږده ږیره خلال کړه، لکه د غوایي رمباړه لوی ټېغ یې وکیښ او بیا یې د غونډې برخه وال مخاطب کړل: ((ټول قومونه غواړي چې د ولسمشرۍ لپاره کاندید ولري، متل دی وایي: خر چې تر خره پاته شي لکۍ یې د پرې کېدو وړ ده. تاسې وواياست چې موږ تر چا پاته یو؟ باید موږ هم د ولسمشرۍ لپاره کاندید ولرو)).

تر دې وروسته (د ختو چاچا) په داسې حال کې چې په یوه لاس یې خپله واګه پرتوګانښ ورټول کړ او په بل لاس یې پزه پاکه کړه، د آس بلو خبره ورغبرګه کړه: ((حاجي وزیر صاحب ښه وایي، هیڅوک د چا غم نه دی اخیستی، انتخابات منتخابات نشته، هر څوک خپل جېب ډکوي، زه وایم یارانو که پیسې ګټئ، نو دغه یې وخت دی، بیا په خدای که دغسې موقع پیدا کړئ! یو څوک به کاندید کړو، بیا به یې یوه ښه غوښن او شتمن کاندید ته تېر کړو، انتخابات خو دغه کار دی چې تېر شه، راتېر شه، وایي، واوړه راواوړه، غنچه ګلونه راوړه. ټول خلک دغه کار کوي، موږ به یې هم وکړو)).

(سرفیکول ماما) لمن پر زنګنو ورکش کړه، اواز یې لکه نرښځی نری کړ او بیا یې په فاتحانه انداز وویل: حاجي والي صاحب ښه خبره وکړه، خو دا کار دومره اسانه هم نه دی، هوښیاري غواړي، ژبه غواړي، تعلیم غواړي، زور غواړي، له خارجیانو سره انډیوالي غواړي، که دغسې وړ څوک په موږ کې شته بسم الله کړئ!)).

د سرفیکول ماما خبره لا نه وه خلاصه شوې چې (آکوک لالا) یې خبره ورپرې کړه: ((وا وروره موږ تر چا کم یو؟ که د زور کار وي په زور یې ورسره معلومو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که لوچګي وي، لوچګي ورسره کوو، په رمبکي او خاشپاشک کې هم تر چا کم نه یو، وایم په هره لاره یې ورسره معلوموو)).
(مار آغا) چې تر دې مهاله یې لکه ورى په مېوه دانۍ کې نرۍ خوله وهله او د نخودو کړپې یې ټول مجلس اورېد، سر راپورته کړ: ((ښه سمه ده، داسې یې وبولئ چې په قوم کي مو یو ښه پهلوان او مناسب کاندید پیدا کړ، که خرخ نه شو، بیا به څه کوو؟)).
(کمیس رحیم) چې لمن یې لکه د طاوس لکۍ نیم متر مخ ته غوړېدلې پرته او د نسوارو د قطۍ په هېنداره کې یې خپل برېتونه سمول په ډډ اواز وویل: ((یاره حاجي وکیل صاحب په خدای بیخي د چوغکي (مرغۍ) زړه دي دی، انسان خو پرېږه، نور قومونه شین خر کاندید کړي، څو کاله وروسته خیرالله خان ځنې جوړ شي، ته وایې که خرخ نه شو بیا به څه کوو؟ ولې به نه خرڅېږي؟ په خالق تعالا چې په لس چنده ګټه یې درخرخ کړم، ښه اوس پر دې موضوع خبرې وکړئ چې څوک به کاندید کړو؟)).
(حاجي خړ سردار) لکه مار چې چونګوښه تېره کړې او په ستوني کې یې بنده وي، په پرسېدلي ستوني وویل: ((حاجي کوکو ماما به کاندید کړو، هم یې وزارت کړی دی او هم سواد لري)).
(صوفي تورک ماما) مخ ته پرته توفدانۍ ورپورته کړه، نسوار یې توف کړه، په سپینه ببره ږیره کې یې لکه شنه توتیان چې ناست وي، د نسوارو څو ټوټې ښه روښانه برېښېدلې، په جګ اواز وویل: ((وا وروره تاسې ولې ځان خطاباسئ، زه دا منم چې حاجي کوکو ماما هم دینداره سړی دی، هم سواد لري او هم په سیاست پوهېږي، خو هغه کله پر بل کاندید خرڅولای شو؟ هغه زموږ شورا ته نه راځي، هغه په دې شورا ګرسره شرمېږي، وایي دا قومي شوراګانې افغانان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېشي او د قومي دلالانو د شخصي ګټو دوکانونه دي، که زما خبره منئ تر دې سړي به تېر شو، پر يوه بل چا به لاس کښېږدو)).
(حاجي غټ ماما) چې تر دې مهاله يې خبرې نه وې کړې، يو ځل د شا خوا ژر ژر وګروله او بيا يې مجلس مخاطب کړ: ((زه خو چې مجلس ته ګورم کانديد نه لرو، خو بايد سر سره خلاص کړو، اصلي خبره دا ده چې موږ نه پاچهي ګټو او نه يې ګټلای شو، موږ غواړو چې هم مو قوم يو څه مشهور شي او هم يو څو غيرانه پيدا کړو، ښه نو چې پيسې پيدا کوو، بيا يې زما چم زده دی. زه له بدو سترګو دې خوندي وي يو زوړ خر لرم، نن مې يو زرنج هم رانيو، زرنج تر خره هم ډېر بار وړي او هم يې مصرف کم دی، نو خر بېکاره دی، راشئ چې دا خر کانديد کړو)).
پر دې خبره ټول مجلس وخندل. شاګل ماما چې په دې وخت کې يې بادرنګ خوړل دومره په زوره وخندل چې تر پزه يې لوی سغولی راووت، خو ژر يې په لمن پاک کړ. په دې وخت کې (چاچا ملنګ) چې تازه يې په (پيپسی) لاسونه پرېولي او د سګرېټي بوی يې د ټول مجلس تر سږمو شو، مجلس ته راغی، يوه پنډه بالښت ته يې تکيه وکړه او بيا يې وويل: ((زه خو اوس مجلس ته راغلم، بس يوازې مې د خره خبره واورېده، زه د خره په کانديدۍ کې ستاسې ملګری يم، زه ښه پوهېږم چې دا انتخابات نه دي سمه خربازي ده، خو که نور قومونه انسانان کانديدوي او موږ خر کانديد کړو خلک به څه وايي؟ حاجي مولوي صاحب تاسې د خره په باره کې څه نظر لرئ؟)).
(حاجي ملا غوړ اخوند) لکه منتر چې پخوي، اول يې څو ثانيې خوله ښوروله، پر خپله لويه خېټه يې لاس تېر کړ او بيا يې په صاف اواز وويل: ((ګورئ ورونو خر په دين کې خورا لوی مقام لري، په قرانکريم کې يې دوه ځله يادونه شوې ده. زموږ پيغمبر (ع) هم يو خر ساتلی و چې (يعفور) نومېده. حضرت عذير (ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم خر درلود او بل دا چې موسی (ع) هم خر درلود، آن دا چې تورات به د همدې خره په وسیله له یوه ځایه بل ځای ته وړل کېده. زموږ په وطن کې هم خرو اسلام ته ډېر خدمتونه کړي دي، له روسانو سره د جهاد پر وخت مجاهدینو وسلې، مهمات او خوراکي مواد پر خرونو باندې له یوه ځایه بل ځای ته وړل)).

په دې وخت کې (لنډي اخوند زاده) چپنه پر لویه خېټه راټوله کړه، لکه پیشي چې تازه موږک خوړلی وي، پر شونډو یې ژبه تېره کړه او بیا یې وویل: ((سبحان الله! زه خو ولاکه خبر وم چې خر په اسلام کې دومره لوی مقام لري. د حاجي غټ ماما یې کور ودان چې د قوم لپاره دومره لویه قرباني ورکوي، خو زه هم یوه اندېښنه لرم، هغه دا چې ایا دا خر به د انتخاباتو کمیسیون راسره ومني؟)).

حاجي ملا غوږ اخوند بیا د خبرو نوبت واخیست، تر پخوا ډېر جدي شو، سترګې یې داسې رډې راوختلې لکه غوا ته چې ډوول ووهې، په لوړ اواز یې وویل: ((وا ورور خر څه مشکل لري؟ هسې هم په اساسي قانون کې د ولسمشر لپاره د پوهې او سواد یادونه نه ده شوې، څلوېښت کاله عمر یې شرط دی، هغه خو حاجي غټ ماما وویل چې خر زوړ دی، یاني هغه مشکل هم حل دی، بل شرط یې افغانیت دی، هغه مشکل هم حل وبوله، ځکه چې خر (ټامي) نه، بلکي خپل وطني خر دی. بل دا چې کاندید باید د با صلاحیته محکمې له خوا د کوم جرم په تور نه وي محکوم شوی، نو خر بېچاره به څه جرم کړی وي؟ دلته یوازې د اسلام مشکل پاته دی، په اساسي قانون کې د ولسمشر لپاره یو شرط دا دی چې باید ولسمشر د نورو شرطونو تر څنګ مسلمان هم وي)).

(ډاکټر خلنجی) چې په اصل کې د غواوو ډاکټر و او خلکو په غیاب کې (خر ډاکټر) باله او تر دې مهاله یې یوازې نخود خوړل، بې نوبته خبرې شروع کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((بس هغه چم يې زما زده دی. زما يو زوی لږ لېونحاله دی، موږ يې له نازه (سورلنډی) بولو. داسې لېونی نه دی چې په هيڅ نه پوهېږي، خبرې، خوراک، فيشن ... بس په هر څه پوهېږي، څلوېښت کلن هم دی، خو دا يو مشکل لري چې عقل يې د ماشوم دی. داسې به وکړو چې خر او زما زوی به چين ته بوزو، هلته به يې عمليات کړو، د خره ماغزه به زما د زوی د سر په کوپړه کې کښېږدو، هغه دی چې د کانديد زور او خويونه به د خره وي، خو رنګ او خبرې به يې د انسان وي)).

خره ډاکټر لا خپلې خبرې نه وې پوره کړي چې حاجي ملا غوړ اخوند دوعا وکړه، ويل بس خدای دي يې د خير کړي، شکر چې موږ هم د نورو قومونو په شان خپل کانديد پيدا کړ.

څو ورځې وروسته حاجي غټ ماما، خر ډاکټر او د قوم څو سپين ږيري په ګډه چين ته ولاړل، هلته يې سورلنډي ته د خره ماغزه ورواچول، عمليات بريالي شول او د قوم سپين ږيري بيرته افغانستان ته راغلل. په سبا يې سورلنډی د انتخاباتو کميسيون ته بوت او هلته يې کانديد کړ. لومړی مرستيال يې حاجي غټ ماما او دوهم مرستيال يې لنډی اخوندزاده وټاکل شول.

سبا ته د ورځپاڼو په لومړيو مخونو کې د خرو لوی لوی تصويرونه چاپ شول او دا کار ډېر ستايل شوی و. يوې ورځپاڼې د يوه مدني فعال له خولې ليکلي وه: ((زه د برابرزيو د قومي شورا دا کار ستايم، په افغانستان کې يوازې انسانان نه، بلکې حيوانات هم اوسېږي، موږ خوشاله يو چې اوس په خرو کې هم مدني فعالان پيدا شوي او دا دی خر يې ولسمشرۍ ته کانديد کړی دی. دا ټول د غربي ډيموکراسۍ برکت دی، که افغانستان ته غربي ډيموکراسي نه وای راغلې، نو خرو به د پخوا په شان زوړ فکر درلودای او له امريکايانو سره جهاد کې به يې هم برخه اخيستې وای، خو شکر دی اوس خره هم ډيموکراټان شوي او له مدني فعالانو سره اوږه پر اوږه مبارزه کوي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیاره خوبونه او رانه تعبیرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



که کوم والي خوب ليده چې برېښنا يې لږ مصرف کړې، خو څو ميليونه افغانۍ بيل ورته راغلی، نو تعبير يې دا دی چې کار يې لږ او وعدې يې ډېرې کړي دي.
که چا خوب ليده چې پلاستيکي ناوکۍ (نانځکې) خرڅوي، نو تعبير يې دا دی چې د (عروج باالفروج) کاروبار ته به مخه کړي، لوټې به لوړپوړو دولتي چارواکو ته ورکړي او د خپلو زومانو په واسطه به غټه بلا ځنې جوړه شي.
که د ژبو او ادبياتو يوه محصل خوب ليده چې پېغمبر شوی، نو تعبير يې دا دی چې په پوهنتون کې به استاد شي او د ژبپوهنې مضمون به تدريسوي، ټول پخواني ژبپوهان او ژبپوهنه به باطله وبولي او ځان به د ژبپوهنې خاتم الانبياء ورته ښکاري.
که د ولسمشرۍ يوه کانديد خوب ليده چې په مجلس کې يې باد پرې شي او هيڅوک ورباندې و نه خاندي، نو تعبير يې دا دی چې په انتخاباتو کې به ناکام شي.
که د ولايتي شورا يا پارلمان يوې ښځينه وکيلې خوب ليده چې خپل زوړ موبايل يې مات کړی او نوی ماډل موبايل يې رانيولی، نو تعبير يې دا دی چې خپل پخوانی مېړه به له کوره وشړي او پر ځای به يې له يوه نوي، ځوان او صفر کيلوميټر هلک سره واده وکړي.
که يوه جنګي مشر خوب ليده چې په پاکو اوبو کې ولاړ دی، خو د (بې آبۍ) احساس کوي، نو تعبير يې دا دی چې خدای به په وطن کې سوله راولي او خلک به نور د ده بابولالو ته غوږ نه نيسي.
که کوم سپين ږيري سياستوال خوب ليده چې غويي ځنې جوړ شوی، د خپل اخور کونجاره يې خوړلې او د بل غويي اخور ته خوله ورغځوي، خو خوله يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وررسېږي، نو تعبير يې دا دی چې د سياسي قدرت لپاره به هر ډول روا او ناروا هڅې وکړي، خو بيا به هم تش لاس پاته شي.
که يوه وزير خوب ليده چې په دالېز کې مراجعين ليکه ولاړ وي او دی له يوې ښکلي نجلۍ سره د فيسبوک له لارې مينه ناک چټ کوي، نو مانا يې دا ده چې ډېر ژر به ځان ته د ښايسته سالارۍ پر بنسټ يوه چټه پېغله مشاوره وټاکي او په بهرنيو سفرونو کې به هم ورسره ملګرې وي.
که کوم حقوقپوه خوب ليده چې په زاڼه بدل شوی او د خپلې اوږدې مښوکې په وسيله له سيند څخه کبان راکاږي، نو تعبير يې دا دی چې په يوه مهم ولايت کې به د څارنوال په صفت مقرر شي، په يوه مياشت کې به د رشوت له لارې دومره ډېرې پيسې پيدا کړي چې په کابل او دبۍ کې به ښکلي کورونه رانيسي.
که د پوليسو يوه ظالم قوماندان خوب ليده چې خزدکې (ګونګټې) چټلي په پښو کې نيولې او د ده د موټر له مخکېنۍ ښيښې سره لګېږي، نو تعبير يې دا دی چې ظلم به يې نور دوام و نه کړي، موټر به يې پر سړک پر يوه لويه او تکه ژېړه ډبه (بوشکه) وربرابر شي، تر څو چې ملګري يې وررسېږي، نو د ده چټلۍ به مخکې لا خزدکو خپلو خوراکي ګودامونو ته وړې وي.
که کوم نارينه محصل خوب ليده چې اميدواره شوی او په روغتون کې يې دوه غبرګوليان بچيان پيدا شوي، نو تعبير يې دا دی چې لارښود استاد ته به پنځه سوه امريکايي ډالر رشوت ورکړي او هغه به يې مونوګراف له دفاع پرته په پټو سترګو ومني.
که کوم ارشد مشاور خوب ليده چې په زرافه بدل شوی او د ونو د لوړو ښاخونو پاڼې خوري، نو تعبير يې دا دی چې په داسې لويو او غوښنو پروژو کې به ونډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروورسېږي چې د بل چا لاس به نه وررسېږي.
که چا خوب لیده چې لېونی شوی، لڅ لغړ ولاړ او خپله چټلي په ډېرو ولي، نو تعبیر یې دا دی چې درواغ ویل به شروع کړي او دې درواغو ته به سیاسي تحلیل وايي.
که یوه قومي مشر خوب لیده چې په شنه خره بدل شوی، د خوراک او څښاک پر مهال د ویالې خړې اوبه نه څښي، خود ډېران وچه چټلي لکه نُقل په خوند خوند خوري، نو تعبیر یې دا دی چې د خښتې مړولو او پیسو لپاره به یوې دولتي غونډې ته ورشي، په غونډه کې به ټول خلک د ملي سرود د درناوي لپاره ولاړ شي، خو دی به مړې سترګې ناست وي او دا کار به ګناه بولي.
که چا خوب لیده چې د خیاطۍ دوکان لري او یوازې غار غار او څیري پتلونونه ګنډي، نو تعبیر یې دا دی چې په یوه اداره کې به ویاند مقرر شي.
که کوم مفتي خوب لیده چې اوبن څنې جوړ شوی، نو تعبیر یې دا دی چې په خپل هیواد کې به هره ورځ د مسلمانانو وژل نه ویني او ورته مهم به هم نه وي، خو د عراق، سوریې، فلسطین، میانمار او کشمیر د مسلمانانو په خواخوږۍ کې به تر خوله څګونه بادوي.
که کوم هلک خوب لیده چې د جراحي عملیاتو له لارې یې ځان نجلۍ کړی، نو تعبیر یې دا دی چې په فیسبوک کې به د نجلۍ په نوم پاڼه جوړه کړي او نجوني به غولوي.
که چا خوب لیده چې پرتوګ یې ایستلی او پرتوګاڼس یې تر سر تړلی، نو تعبیر یې دا دی چې د ریا او شهرت لپاره به حج ته ولاړ شي، د حج د ټولو مراسمو سیلفي عکسونه به واخلي او د فیسبوک له لارې به یې خپاره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولسمشر خپلې مېرمنې ته څه وويل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ډرامه)

## لومړۍ صحنه:

وزير: (په قهر) ته دلته راشه، دا وگوره په دې ورځپاڼه کې څه ليکل شوي دي!

د نشراتو رئيس: (په وراخطايۍ او بنده بنده ژبه) صاحب تاسې يې راته وښاياست، څه ليکل شوي دي؟

وزير: دا ژورناليستان خو د بيان له ازادۍ څخه دومره ناوړه گټه اخلي چې اوس نژدې دي زموږ پر اوږو راسپاره شي، په وزيرانو پسې خو هره ورځ چټيات ليکل کيږي، اوس يې ولمسشر ته هم لاس ور واچاوه

رئيس: (په عاجزۍ) وزير صاحب ډېر وبخښئ زه پوه نه شوم؟

وزير: (رئيس ته گوته نيسي) ته څنگه د نشراتو رئيس يې چې تر اوسه نه يې خبر؟

د نشراتو رئيس: (په عاجزۍ) صاحب زما سترگې خو کار نه کوي، عينکې مې هم په شعبه کې راڅخه پاته شوي دي

وزير: (په پټکه) که سترگې دې کار نه کوي، عقل خو به دې کار کوي، دا ټول ستا له لاسه چې اوس ژورنالستان د جمهور رئيس هغه شخصي خبرې هم چاپوي چې په خپل کور کې يې له خپلې مېرمنې سره کړي وي .

رئيس: (په حيرانتيا) څه شی؟ د ولسمشر په اړه يې څه شی ليکلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي؟ تاسې یې راته ولولئ!
وزیر: (د ملنډو په ډول خاندي) اوس ښه شو، درته لولم به یې هم زه ها؟ (تندی ټکوي) دا زما تور بخت دی چې د نشراتو د رئیس مې نه سترګې کار کوي او نه عقل، ښه سانسور به وکړې ها؟ احمقه راکه ورځپاڼه!
رئیس: (د غوړه مالۍ په ډول) ها صاحب! دا ده ورځپاڼه واخلئ!
وزیر: (د خواشینۍ په ډول) ډېره د شرم خبره ده، مطبوعات یې وشرمول، دا دی دا وګوره! دلته یې لیکلي چې ولسمشر بي بي ته وویل: ((زموږ دولت د ښځو حقوقو ته ځانګړې پاملرنه کوي)).
دومره سپین سترګي مې په خپل ژوند کې نه وه لیدلې
رئیس: (د تائید په ډول) یاره دا خو یې رښتیا هم چې ډېره بده خبره لیکلي ده.
وزیر: (د عینکو له پاسه رئیس ته ګوري) بده خبره څه چې بیخي ملي خیانت دی، له خپلې مېرمنې سره خو سړی هر څه وایي، بس دا سپین سترګې ژورنالستان به یې چا پوي؟
رئیس: (نه پوهېږم ژورنالستان څنګه خبر شول چې جمهور رئیس خپلې مېرمنې ته داسې خبره کړې ده؟
وزیر: (د افسوس په ډول سر ښوروي اوسوږ اسوېلی باسي) زه هم نه پوهېږم چې دا ژورنالستان دي که جاسوسان؟ د دې ورځپاڼې چلوونکی خامخا د داعش او القاعده شبکې سره اړیکي لري او باید سزا ووینی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس: (د غوړمالۍ په ډول) هو صاحب باید داسي سزا ورکو چي بیا بل څوك داسې بې ادبي و نه کي.

وزیر: (سوړ اسوېلی کاږي او سر ښوروي) که جمهور رئیس خبر شي، نو ډېره به بده شي، شرم دی شرم، خو په هر صورت ته اوس یو کار وکه!

رئیس: (د غوړمالۍ په ډول) قربان مو شم، امر وکئ!

وزیر: مخکي تر دې چې ولسمشر د خپل کار دفتر ته ولاړ شي او دا ورځپاڼه ووینې، د دې ورځپاڼې د بندېدو خبر له دولتي راډیو او ټلوېزون څخه خپور که!

رئیس: (د غوړمالۍ په ډول) صاحب پر دواړو سترګو، پر دواړو سترګو! همدا اوس دستي دا کار کوم

وزیر: ګوره یو بل کار هم وکه

رئیس: مهرباني وکئ، کوم کار وکم؟

وزیر: نن لسو بجو ته یوه خبري غونډه هم راوغواړه چې زه وینا ورته کوم

رئیس: پر غبرګو سترګو صاحب، دا دی همدا اوس دستي ځم

وزیر: (د ملنډو په ډول خاندې) ولاړ خو به شې، خو چې بېرته ژر راشې، ته خو په درې ساعته په زینو کې نه شې راپورته کېدای، (خپل تندی ټکوي) ته دا تور بخت وګوره چې ټول بوډاګان زما په پېښکه شوي دي

رئیس: نه صاحب، تاسې ډاډه اوسئ، ژر ځم او ژر بېرته راځم (لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيږي)

وزير: (په برېټوکې خاندي او له ځان سره وايي) ياره که جمهور رئيس خبر شي، چې ورځپاڼه مې ده ته د سپکاوي په تور بنده کړې ده، نو خامخا د سرو زرو مډال راکوي او ډېر به ورباندې ګران شم.

**دوهمه صحنه**

وزير: (د ټيلفون غوږۍ راپورته کوي او نومره وهي)

بلې!

وزير: سلام عيلکم!

لوی څارنوال: وعليکم السلام!

وزير: څارنوال صاحب زه د اطلاعاتو او فرهنګ وزير خبرې کوم.

لوی څارنوال: (په خندا) او هو وزير صاحب جوړ په خير، جوړ په خير، ښه ياست، صحت مو ښه دی؟

وزير: مننه، خير يوسئ!

لوی څارنوال: وزير صاحب مهرباني وکئ، موږ ته خدمت ووایاست!

وزير: څارنوال صاحب تاسې د نن ورځپاڼې لوستي؟

لوی څارنول: (په خندا) نه ولا وزير صاحب زه ورځپاڼې دومره نه لولم، که رښتيا درته ووايم وخت هم نه لرم، ولې څه نوې پېښه ده که ښه؟

وزير: نوې څه چې ډېره بده پېښه ده

لوی څارنوال: (په حيرانتيا) ولي خدای دې خير کي، څه بده پېښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده؟

وزیر: (شهرناپرسان) ورځپاڼې د جمهور رئیس سپکاوی کړی دی، داسې سپکاوی چې زموږ او ستاسې ټولو لپاره د شرم خبره ده.

لوی څارنوال: (په خواشینۍ) که داسې وي، دا خو رښتیا هم چې ډېر بد کار شوی دی.

وزیر: بد کار خو وشو، خو اوس باید مجرمین سزا وویني.

لوی څارنوال: مجرمینو ته خو به سزا ورکو، خو لومړی باید جرم وګورو او بل باید خپله جمهور رئیس هم څارنوالۍ ته شکایت وکي.

که موږ خپله سزا ورکو بیا به جمهور رئیس وایي چې دا دومره خبره نه وه، ولې مو ورځپاڼه بندوله.

وزیر: څارنوال صاحب! د جمهور رئیس په شکایت پسې مه ګرځئ، زموږ د شکایت په اساس دوسیه ورته جوړه کئ! د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مطبوعاتو د څارنې کمېسیون د دې ورځپاڼې چلوونکی مجرم ګڼلی دی، ان دا چې موږ د دې ورځپاڼې د بندېدو اعلان هم خپور کړ.

لوی څارنوال: موږ خو به دوسیه ورته جوړه کو، خو زموږ جمهور رئیس ډېر ډیموکرات او د بیان د ازادۍ پلوی دی، که دغه مجرم ورته مراجعه وکي، نو خامخا یې بخښي، هسې نه چې بېځایه د ژورنالستانو بدي را په غاړه شي.

وزیر: (په خندا) د ژورنالستانو بدي په ما پورې اړه لري، ته خو ما پېژنې چې د څو ژورنالستانو خولې مې ور پټې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وزیر او څارنوال دواړه خاندي)

لوی څارنوال: (په خندا) بس چې دعوه ستا له خوا را پیل شي، نور نو زه هم نه یم ورته وارخطا.

وزیر: (په خندا) زما یې چل زده دی، خو تاسې داسې وکړئ چې د دې ورځپاڼې چلوونکي ته د داعش او القاعده په نوم دوسیه جوړه کړئ، تر هغو چې جمهور رئیس خبرېږي او یا دی ځان ته مدافع وکیل نیسي، نو د مور نوم به یې شاه ببو وي.

(دواړه خاندي).

لوی څارنوال: صاحب تاسې ډاډه اوسئ، دوسیه جوړول اسانه خبره ده، خو زه به یو وار د ورځپاڼې مقاله هم ولولم چې څه خبره ده؟

وزیر: سمه ده، مقاله ولوله، خو مخکې تر دې چې جمهور رئیس دا مطلب ولولي، باید موږ او تاسې خپل اجراات وکو.

لوی څارنوال، ښخي سمه ده، تاسې ډاډه اوسئ.

وزیر: د خدای پامان.

لوی څارنوال: په مخه مو ښه.

## درېیمه صحنه

(د شعبې دروازه ټکېږي)

وزیر: (په لوړ اواز) راځه

(د شعبې دروزه خلاصیږي)

د نشراتو رئیس: جناب وزیر صاحب اجازه ده؟

وزیر: راځه راځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نشراتو رئیس: وزیر صاحب ما خو دا ورځپاڼه ولوسته، خبره. . .
وزیر: (په خندا په خبره کې ورلوېږي) و دي لوسته؟ ښه شو چې اوس دي سد سر ته راغی
رئیس: صاحب خبره هغسې نه ده لکه موږ چې فکر کړی و.
وزیر: (د ملنډو په ډول خاندي) نو خبره څنګه ده؟ ستا سترګې تر ما ښه کار کوي او که دي عقل؟
رئیس: نه صاحبه زما خو نه سترګې دومره کار کوي او نه عقل، خو زما په شعبه کې یوه بل مامور را پام کړ
وزیر: څه شي ته یې درپام کړ؟
رئیس: صاحب! د ورځپاڼې اصلي سرلیك داسې دی: ( جمهور رئیس بي بي سي ته وویل چې. . .) خو په چاپ کې له بي بي سي څخه (سي) کلمه پاته شوې ده، ځکه نو (بي بي) څنې جوړه شوې ده، خو په حقیقت کې بي بي نه ده، صاحب که تاسې وخت لرئ، نو دغه پاراګراف ولولئ، د دې سرلیك په تفصیل کې خبره بیخي سپینه ده.
وزیر: (په وارخطایۍ سره ) څه شی! بي بي سي؟
رئیس: بلې صاحب، بي بي سي
وزیر:  بي بي سي راډیو یادوې؟
رئیس: هو بي بي سي راډیو یادوم
وزیر: (په وارخطایۍ) اوففف دا خو ډېره بده شوه، ښه په راډیو او ټلویزیون کې د ورځپاڼې د بندېدو اعلان څنګه شو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس: صاحب اعلان خپور شو

وزیر: مطبوعاتي کنفرانس خو به دې نه وي راغوښتی؟

رئیس: صاحب مطبوعاتي کنفرانس مې هم را وغوښت

وزیر: (په قهر) خدای دی ورك که، نور وختونه هم دغسې ګړندی وې، که یوازې نن ګړندی شوې؟ (دېوالي ساعت ته متوجه کېږي او په زوره چیغه کوي) اوف! د کابینې غونډه راځخه تېره شوه، نن خو کلنۍ بودیجه هم تصویب کېده

رئیس: (په غوړه مالۍ) خیر دی وزیر صاحب، تاسې ډېر مصروفه یاست.

وزیر: (په درد) مصروفه دي تا ووهي، اوس ورشه یو بل اعلان خپور که، ووایه چې دا ورځپاڼه د تخنیکي کیفیت د کمزورۍ له امله بنده شوه، زموږ سره دومره وخت نه شته چې د ورځپاڼو پروف هم وګورو او نه دا زموږ وظیفه ده، ته دا یوویشتمه پېړۍ وګوره او د دوی پروفي غلطۍ وګوره، دا ټوله د دوی له لاسه چې زما ځخه نن د کابینې غونډه تېره شوه.

رئیس: هو صاحب ډېره ښه فیصله مو وکړه، د دې ورځپاڼې دغه سزا ده.

وزیر: ته اوس ژر ورشه ماته د ایران د سفر لپاره یو ټکټ رابرابر که، پاسپورټ خو تیار لرم او بل ټولو دولتي خپرونو ته اعلان ورکړه چې زه د صحي معایناتو لپاره ایران ته ولاړم. بله خبره دا ده چې زما دواړو معینانو ته ووایه چې د دې ورځپاڼې په باب پټه خوله پاته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئيس: ښېخي سمه ده، پر دواړو سترګو.

وزير: يو خو به ټکټ راوړې او بل دا چې د مطبوعاتي کنفرانس په تالار کې يو ياداښت وځړوه چې زما د ناروغۍ له امله مطبوعاتي کنفرانس وځنډېد.

رئيس: پر غبرګو سترګوصاحب ، دغسې به وکم.

وزير: زه اوس يو وار کورته ځم، تر څو چې راځم بايد ټکټ تيار وي (له شعبې وزي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## چوپ شه بې ادبه مړی خبرې نه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ډرامه)

کلیوال: (په زګېروي او ټیټ اواز) ډاکټر صاحب! وا ډاکټر صاحب
داکټر: (په قهر) بې ادبه دا کوم یو یې چې د مړو په سړه خونه ننوتلی یې؟ ته نه پوهېږې چې دا د مړو سپکاوی دی؟
کلیوال: ډاکټر صاحب زه ژوندی یم، خو تاسې له مړو سره یو ځای ایښی یم
ډاکټر: احمقه مړی نو کله خبرې کولای شي، خامخا روغ سړی یې
کلیوال: روغ سړی نه یم، د سختو ټپونو له خاطره بې سده شوی وم، خو تاسې مړ وګڼلم
ډاکټر: چوپ شه احمقه! ټول ډاکټران وایې چې ته مړ یې او ته وایې چې زه ژوندی یم؟
کلیوال: ډاکټر صاحب قسم په خدای چې زه ژوندی یم
ډاکټر: احمقه ډاکټران پوهېږې که ته؟ چې ډاکټران وایي مړ یې، بس مړ یې نو
کلیوال: ډاکټر صاحب ته خو مې یو ځل له دې ځایه دروباسه، بیا به مې خپله ووینې چې زه ژوندی یم
ډاکټر: چوپ شه نورې خبرې مه کوه
کلیوال: ولې؟
ډاکټر: ځکه چې مړی خبرې نه کوي ارام پروت وي
کلیوال: نو زه خو ژوندی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر: که ژوندی هم يې نو اوس په مړو کې شمار شوی يې
کليوال: ډاکټر صاحب خير دی ما دروباسه، واړه واړه بچي لرم
ډاکټر: ښه سمه ده راباسم دي، خو يو شرط لرم
کليوال: څنګه شرط؟
ډاکټر: هغه دا چې سيده به کور ته ځې، چا ته به نه وايې چې څوک په چاودنه يا بمبارد کي ټپي يا ووژل شي، نو د روغتون ځنې کارکوونکي د هغه موبايل، پيسې او نور قيمتي وسايل ځنې غلا کوي
کليوال: پر غبرګو سترګو ډاکټر صاحب، کالي مې هم نه غواړم، په همدې کفن کې کور ته ځم، چا ته بيخي دا کيسه نه کوم چې زه په فلاني روغتون کې بستري وم، خو د خدای پار دی، ژر مې له دې ځايه دروباسه، له يخنۍ څخه مړ کيږم
ډاکټر: سمه ده راباسم دي (دروازه خلاصوي) هله ژر راووځه چې څوک دې و نه ويني.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**